تسهيل الشمة

پښتو شرح د بالشمة



تأليف

مولوي عبدالرحمن (صاحب)

ابن الحاج سهارګل

مكتبة الهاشمية

كانسي روډ ـ كوټه 0310-4594038

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

تسهيل الشمة

پښتو شرح د بالشمة
المشتمل
على حواشي الشمة وعبارتها ونكاتها
(حل نكاتها من ص : ۸۸ !الى آخرالكتاب)

تاليف
مولوي عبدالرحمن (صاحب)
ابن الحاج سهار گل
خپروونكي

مكتبه سلطانيه
كاسي روډ كوئټه
زيراهتمام امين الله (امين)
دټليفون شمېره : (۰۳۰۰۵۰۰۰۸۴۵)

کتاب پېژندنه

دکتاب نوم: تسهیل الشمة
مصنف: مولوي عبدالرحمن (صاحب)
کمپوزاوسمون: مولوي سفرمحمد (عابد)
خپروونکې: مکتبه سلطانیه (زیراهتمام امین الله (امین)
چاپوونکی: حاجي سلطان محمد صاحب
چاپ ځای: پاکستان (لاهور)
شمېر: ۱۱۰۰ټوکه
چاپ کال: (۲۰۱۱)

دناشرغوښتنه

(انما الانسان یساوق السهو والنسیان)

موږ ترخپله وسه پورې زیار ایستلی چي خطي غلطۍ مو اصلاح کړې خوانسان ،انسان دی خاماخا به څه . ناڅه غلطي راځي خوله تاسو کتوونکو محترمو څخه زموږ داهیله ده چي که مخې ته کومه غلطي درسي نوموږ ته خبرراکولای سئ ډېره مهرباني به مووي.

والسلام خادالعلماء والطلباء حاجی سلطان محمدغفرله ولوالدیه ولاخوانه ولجمیع المؤمنین والمؤمنات والمسلمین والمسلمات ، لا اله الا الله الحلیم الکریم سبحان الله رب العرش العظیم نسئلک موجبات رحمتک وعزائم مغفرتک والغنیمة من کل برّ والسلامة من کل اثم لا تدع لنا ذنبًا الا غفرته ولا همًّا الا فرجته ولادینًا الا قضیته ولا مریضًا الا شفیته ولا امیرًا الا هدیته ولا مسافرًا الا رددته ولا اسیرًا الا خلصته ولا مجاهدًا الا نصرته ولا حاجة من حوائجَ الدنیا والآخرة هی رضًا لک الا قضیتها وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه اجمعین

برحمتک یاارحم الراحمین

دتسهيل الشمة د مضا مينو فهرست

تقريظ

جامع المعقول والمنقول منبع العلوم والحلم المتواضع حضرت مولانا خان محمد صاحب وهذا عبارته:

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده والصلوة والسلام على من لانبى بعده امابعد !

فيقول احقر العباد لا شئ المولوى خان محمد (كندوزى ،ارچوى ،شهروانى) لما سرحت قداح نظرى فى هذه الحاشية المسماة بتسهيل الشمة على حواشى الشمة وعبارتها التى الفها المولوي عبد الرحمن الصاحب فوجدتها مفيدة للمستفدين فالمسئول من الله ان ينفع بها للطالبين وجزى بها لمؤلفها ولوالديه ولا ساتذه خير الجزاء.

تقريظ

شيخ الحديث والتفسير جامع العلوم العقلية والنقلية صاحب التصانيف الكثيرة الصوفى الصافى المشفق على التلامذة المصب للعلماء الجهابذة متعنا الله بطول حياته وفيوضاته اعنى استاذنا الجامع مولوي حبيب الله صاحب هذا عبارته

بسم الله الرحمن الرحيم

انا العبد الاحقر الافقر المحتاج الى الله الا كبر خادم الاحاديث والتفاسير فى المدرسة العربية الا سلامية انوار العلوم الصديقية شالوباورى امير معاويه رود شارع امابعد !

فقد طالعت بعض المواضع من هذه العجالة النافعة للمستفدين التى الفها اخونا مولوي عبد الرحمان فاذا هى كانّها درّة اليتيمة.

افقر العباد الى الله حبيب الله غفرله

تقريظ

فضيلة الشيخ منبع الفضائل والفواضل ، تاج الفضلاء ، فخر الاقران وزبدة الاماثل
الاديب الاريب اعنى مولوي نور الدين غفرله المتين هذا عبارته

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله حمد الشاكرين والصلوة والسلام على من لولم يكن لما اذقنا الايمان واليقين وعلى آله واصحابه لا سيمًا على الخلفاء الراشدين وبعد ! فيقول العبد المسكين الفقير نور الدين انى سرحت النظرفى بعض مواضع هذا الشرح الشريف الذى الفه اخونا فى الاسلا م والا يمان المولوى عبدالرحمان فوجدته كأنه الياقوت والمرجان وهو افيد الشروح لمستفدى هذا الاوان والزمان.

وانا العبد الغريب الفقير نور الدين المدرس بالبشتون آباد غفرله المنان

بسم الله الرحمن الرحيم

كلمة المؤلف

العبد الفقير الى الله القدير عبد الرحمن غفر الديان المدرس فى المدرسة الشرعية اشرف المدارس امابعد:

په دې شرح کې حل دعبارت اوحواشي وودواړوسوی دی خوزمادا طريقه ده چې دکموصفحو تعيين موکړی دی مثلا ص: ۱۰ يا ۱۳ صفحه نوددغې ص: دحواشي حل هم سوی دی ماداسي فرمائيلی دی چې پرفلان لفظ محشی داسوال کړی دی دايې جواب: دی اودايې غرض دی اوکم اختلافی ځايونه چې دنحاتوپکي اختلاف وي هغه ځايونه په دې شرح کې په ښه طريقه بيان سوې دي په توفيق دالله مثلا جاراومجرورمتعلق غواړي مايې بيان کړی دی چې مخته به يې ږدي اوکه وروسته فعل به ږدي اوکه اسم اوچې فعل ږدې فعل عام به ږدې .که فعل خاص داټول سره له بدلائلوپکي ذکردي اوبل قواعد کليه پکي ذکردي مثلا داضافت قاعده چې څوقسمه دی اووجه دتسميې چې لفظی ته ولې لفظي وايې معنوی ته ولې معنوي وايې اومعنوي پرڅوقسمه دی يعنی دمعنوي کوم کوم اقسام دي اولفظي څه شی فائده کوي معنوی څه شی فائده کوي دارنګه دصفت اوموصوف قاعده پکي ذکرده چې صفت څوقسمه دی اوموافقت له موصوف سره په څوشيانوکې غواړې اودصفت څه فائده ده يعنی څه فائده کوي اونورې ښې ،ښې قاعدې پکي دي اوکوموعلماؤچې تقريظونه پرکړې دي داشرح ددوئ ترنظروتلې ده که څوک شک لري ودغوعلماؤته مراجعه کولای سي.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله الذي شرّفنا على سائر الامم بفضله من اختصه من بين الانام بجوامع الكلم محمد صلى الله عليه وسلم وبعد:

په دې کتاب (چې مؤلف يې مولوی عبدالرحمن غفرله الحنان دحاجي سهارګل صاحب زوئ په خټه توخی ، کاتب يې ملا محمدعلی اخنددی) کې انشاء الله تعالی دشمه دعبارت اوحاشيو دواړو حل سوی دی.

سوال : چې مصنف ولي بسم الله راوړې ده داخو مقصود نه وه بلکي مقصود خو قواعدې دکتاب وي نو شروع په غير مقصود خو نا روا وده.

جواب : دادی چې موافقت يې کړی دی له کتاب الله اوله حديث شريف سره چې [کل امرذی بال لم يُبْدَءْ فيه باسم الله فهو ابتر] اوموافقت يې کړی دی له سلف صالحينو سره اولپاره ددفعي دوسوسو دشيطان ،ځکه قاعدې جمع کول يو عظيم (لوئ) کار دی په دې کې شيطان انسان ته وسوسی اچوي نورې وجې اوفائدي هم سته خو موږ داختصار لپاره پرې ايښې دي.

سوال : اوس نو پرحديث شريف سوال کيږي چې (بال) خوزړه ته وايې نو په حديث باندي ستا مدعی نه ثابتيږي.

جواب : يو جواب: دادی چې بال په معنی دحال هم راځي لکه (مابا لک) ای ماحالک نو معنی دحديث شريف داسوه چې کل امرذی ای ذی حال يعنی هرهغه کارچي خاوندديو حال وي هغه ته به بسم الله وايې اوس سوال کيږی چې دمحرماتو قطعيه کول مثلا غلا ، زنا ، اوداسي نورداخوهم کارونه دي خاوندان ديوه حال خودي نو بايد چې دلته هم بسم الله وويل سي سره له دې چې بعضي فتاواوې چې پرحرام قطعی باندي بسم الله ويل کفر ده العياذبالله.

جواب : مرادله حال څخه هغه حال شريفه دی نو معنی داسوه چې هرهغه کارچي خاونددحال شريفه وي يعنی ښه اومحرمات قطعيه خو هغه کارونه ندي کوم چې خاوندان دحال شريفه دي دوهم جواب دادی : چې مرادله حال څخه شرافت ده نو معنی دحديث شريف داسوه چې هرهغه کارچي ښه کاروي بسم الله به وايا ست خلاصه داچي دلته

مجازمرسل سوی دی چي ذکرمحل چي زړه دی مرادځيني حال چي شرافته دی اوزړه
يقينامحل دشرافت دی شرافت نوهغه مؤمن به شيان دي لکه تصديق کول پروحدانيت
دالله تعالی اوپررسالة دمحمد ﷺاوپرآخيرت اونورداسي شيان نوتصديق کول پرمؤمن
به خوپه زړه سره کيږي نوداثابته سوه چي زړه محل دشرافت دی اوتعريف دمجازمرسل په
لوړو کتابونولکه مختصرالمعانی فن ثانی کي موجوددی خودلته همدومره اندازه دی
چي که ذکرمحل ده چي زړه دی مرادحال دی چي شرافت دی لکه په مراح کي چي وايي (
جرالنهر وسال الميزاب) په دغومثالونوکي هم مجازمرسل سوی دی اوپه حديث کي
ابتردامعنی چي شی پرې کړل سوی لکه حمارابتريعنی لکۍ پرې کړې اوپه معنی ددې هم
راغلی ده چي زوئ يې نه وي لکه کفاروچي ورسول الله صلی الله عليه وسلم ته ويل
نعوذبالله نومعنی داچي قليل البرکة حسي قطع نه ده مرادنوپه حديث کي تشبيه دمعقول
ده له محسوسوسره لپاره دوضاحت دی يعنی په کوم نيک کارکي چي بسم الله ونه ويل
سي نودانقصان يې دی لکه په سترګوچي وليده سي لکه دخره لکۍ چي نه وي نوداتاوان
په سترګومعلو ميږي.

دبسم الله دبادکلمې بحث

سوال : باخوحرف جرده اوحروف جاره خويوازي دغه بانه وه بلکي ډيروونو په بسم الله کي
يې باولي غوره کړه.

جواب : داچي درسول الله صلی الله عليه وسلم مقصودپه حديث شريف کي استعانت (
کومک غوښتل) دي په نيک کارکي دالله تعالی په نامه سره اوداستعنانت له بې پرته په
بل يوه نه حاصليږي ،ځکه دجمهورومذهب دادی چي باداستعانت لپاره ده.

سوال : چي بسم الله خودالله تعالی کلام ده نوخدای پاک خومددته نه دی محتاج .

جواب : داتعليم دی بندګانوته چي تاسوکومک غواړۍ دالله تعالی په نامه سره .

سوال : چي باخوحرف ده اواصل په حروفوکي بناء پرسکون ده ،ځکه دوئ له مبنيات
اصليه څخه دي نوداولي مبنی پرکسره سوه.

جواب: کله چي کسره نه وي بياابتداء په ساکن راځي ابتداء په ساکن خوناروا ده

سوال : چي مناسب خوفتحه وه ،ځکه چي هغه خفيفه (سپکه) ده ترکسرې نوتاولي کسره
ورکړه

ځواب : ځواب پر طریقه دمنعی دی چي فتحه نه ده مناسب بلکی کسره مناسبه ده ،ځکه چي کسره اخت السکون (دسکون خورده) وجه داخوت یې داده چي سکون عدم ته دحرکت وایي حرکت ته کسره هم پر منزله دعدم دهله وجي دقلت (لږوالي) دکسرې نورې وجې یې هم سته .ځکه په اخیر دفعل کې نه راځي ، په حروفوکې نه راځي دارازپه غیر منصرف کې هم نه راځي نو ځکه کسره مناسب سوه.

داسم بحث

داسم اصل سموٌ دی چي ناقص واوي دی لکه بصریین چي وایي له سموٌ څخه مشتق دی .ځکه سموَ وایي علوې ته اسم هم عالی اولوړدی پر فعل اوحرف .ځکه له فعل اوحرف څخه یواځي کلام تام (پوره) نه جوړیږي اوداه اسم څخه کلام تام جوړیږي دارزایعنی اسم مسند اومسند الیه دواړه راتلا ی سي لکه زیدٌ قائم اوفعل خومسندوي دهمېشه لپاره اوحرف نه مسند اونه مسند الیه وي لکه میرسید سند شریف چي په نحومیرکې تصریح کړې ده اوکوفیین وایې چي اسم متشق له وسمٌ څخه دی چي مثال واوی دی ،ځکه کوفیین وایي چي وسم علامې ته وایې نو اسم هم علامه ده پر خپله معنی اومسمی لیکن دکوفیینو مذهب ضعیف دی ،ځکه بصریین ورته وایې چي فعل اوحرف خوهم علامه دي پرخپلو مسماوولکه اسم چي علامه ده نوباید چي فعل اوحرف هم اسم وبلل سي اوسره له دې چي فعل اوحرف اسمونه نه بلل کیږی نوستاسووجه غلطه ده خوکوفیین وایې چي اطرادپه اسامیووکې نه دی ضروري بصریین بیرته جواب ورکوي چي مشتقات ټول پر دې دلالت کوي چي اصل یې سمو ناقص واوي دی لکه ماضي سُمِيَ مضارع یې یُسمّی جمع اسماء تصغیریې سمَیَ نوکه مثال وای ماضی به یې وسم وای مضارع به یې یوسم وای جمع به یې اوسام وای تصغیربه یې وسیم نوچي دارازنه ده نومثال ندی نودکوفیینومذهب ضعیف سودغه دلائل ددوئ ذکردي په هدایة النحواوالتحفة الخادمیة کې ماراخلاصه کړې دي خودادرته وایم چي کوفیین اوبصریین دااختلا ف کړی دی دایې په دې وجه چي الله جل جلا له هرسړی خوشحاله کړی دی په هغه شی چي دده په نزدوي قال الله تعالی [ولکل حزب بمالدیهم فرحون

دالله دلفظ تحقیق

دالله په لفظ کښ اختلا ف دی امام اعظم او دده ملګرښ رحمهم الله وايي چې اصل يې دغه لفظ دد مشتق نه دی له هيڅا دليل يې دادی چې لکه څرنګه چې دالله تعالی په ذات مقدس کښ تغير او تبديل نشته دارازادالله تعالی په اسم ذات کښ هم تغيرنشته څوک بيا وايي چې اصل يې اله دی بياهمزه حذف سوه په عوض کښ يې حرف تعريف راغی نولام په لام کښ مدغم سو الله سوخو دامام صاحب مذهب مختاره دی.

دبسم الله ترکيب

باحر ف جر اسم مضاف ده لفظ دالله ته الله موصوف الرحمن يې اول صفت او الرحيم يې دوهم صفت الله موصوف سره له دواړو صفتونو دامضاف اليه دمضاف سوچي اسم دی مضا ف سره له مضاف اليه دامجرور دجار سوچي باده جارسره له مجروره داظرف مستقر داشرع ياا صنف سوا شرع صيغه دفعل مضارع ضميرپکي مستتر(بت) دی چي تعبيرپه اناڅيني کيږي هغه يې فاعل دی فعل سره له فاعل هغه سره له خپله متعلقه داجمله فعليه خبريه لفظا انشائيه معنی سوه.

دجاراومجرورمتعلق

جاراومجرورمتعلق غواړي نوکه له جاراومجرورسره متعلق ذکروي نوداجارال مجرورته ظرف لغووايي په دې وجه ورته وايې چې جاراومجرورنه مهندوي .نه مسنداليه يعنی دوئ جزد کلام نه دي له متعلقاتوڅخه دکلام دي اوکه متعلق په لفظ کښ نه وي ورسره ذکرنوظرف مستقرورته وايي ظرف مستقرپه دې وجه ورته وايې چې اکثره وخت له ده سره نحويين يااستقرږدي يامستقرږدي اوس نومتعلق بياڅوک عام فعل ورسره ږدي مثلاً حصل .ثبت .کان . وجد .ځکه چي دوئ وايي قرينه پرخصوص نسته اوبعضي وايې چې په دې ځای کښ به خاص ورسره ږدي هغه ځای نوبسم الله يلحمد ذي .ځکه چي حديث وايي چي خاص به ږدي اوخاص نولفظ دابتدأ دی.

بل اختلا ف په دې کښ دی چي اسم به ږدي که فعل . بصريين وايي چي متعلق به فعل ورسره ږدې .ځکه متعلق خوعامل په ظرف کښ وي اواصل په عمل کښ فعل دی ولی دفعل وضع دعمل لپاره راغلې ده نوچي تقديرکوي نوپه اصل کښ به يې کوي اوکوفيين

وايې چې متعلق به اسم فاعل ږدي (هغه اسم فاعل چې له افعال عامه وو مشتق وی) ځکه جارومجرورپه ځای دخبرکې راغلي دي اواصل په خبرکې خوافرادوي(،ځکه مبتداء مفرده وي نواصل په خبرکې هم افرادده) نوبه رکنين دکلام سره موافق سي مفردخونه وي مګراسم وي نو ،ځکه به مفردږدي.

دمتعلق دښوولوځای

متعلق به مخته وي که وروسته ؟ کوفيين وايې چې مخته به يې ږدې ،ځکه متعلق خوعامل وي په جاراومجرورکې اوعامل خومخته وي پرمعمول نودکوفيينومذهب چې اسم به ږدې اومخته به يې ږدي تقديريې دادی چې ابتدائی ، کائن بسم الله الخ.

اوبصريين وايې : چې ترجاراومجرورروسته به يې ږدې بصريين وايې چې په دې وجه به ې وروسته ږدې چې تاخيربه دماحقه التقديم راسي يعنی ديوه شی حق چې تقديم وي هغه وروسته سي نوحصراواختصاص فائده کوي لکه عامل چې دلته وروسته کړي اوحق يې تقديم وواومذهب دبصريينوراجح دی ،ځکه حصرراځي په حصرکي ردپرکفارودی چې يکفاروبه په نامه دبتانوشروع کوله دلته تحقيق ډيردی خوزه دغه کافي بولم.

سوال : په بسم الله کې يې الله لفظ ترالرحمن ،الرحيم ولې مقدم کړ،ځکه داخوترجيح بلا مرجح ده.

جواب : لکه څرنګه چې په خارج کې صفتونه يوذات مقدم غواړې ددې لپاره چې صفتونه وريورې قائم (ودريږي) درازپه کلام کې هم محمول موضوع غواړې چې محمول پرحمل(بار) سي اوموضوع به خاماخا علم ذات وي چې مستجمع دجميع صفات کماليه وولره وي ،ځکه صفتونه خوموضوع نسي کېدای مثلا الرحمن موضوع ده قهارنسي کېدای کمالا يخفی په بسم الله کې نورتحقيق هم ډيردی خوخودغرېب په ګمان په دې ځای کې نورمناسب نه دی.

دحمداجمالي شروع اوترهغه مخته دبسم پرحديث باندي

يوسوال اودهغه جواب

سوال : چې حديث دبسم الله داتقاضاکوي چې هرنېک کارکوې نوشروع به په حمدکوي وس نوشروع خوپه دووشيانونه کيږي ،ځکه چې داڅنګه دې خوله په بسم الله پورې کړه

نو په حمد شروع نه وسوه ،ځکه حمد خولاتر اوسه ويل سوی نه دی نو شروع څنګه په وسوه نو شروع خو په بسم الله پوره سوه نو ددې دوو حد يثينو په مينځ کې تعارض راغی.

جواب : ابتداء پردرې قسمه ده : حقيقي ، اضافي ، اوعرفي : حقيقي داده چې ترمقصوداوغيرمقصوددواړومخته وي مسبوقه په شی سره نه وي (يعنی تردې مخته بل شی نه وي) اواضافی شروع هغه ده چې ترمقصودمخته اوترغير مقصود وروسته وي يعنی پردې باندي به يوشی خاماخامخته وي لکه حمدچې مخته يې بسم الله ده اوعرفی هغه ده چې ترمقصودډيرشيان مخته راوړل سي په يوه داسي زمانه کې چې ټول يکي ځائيږي يعنی په عرف کې مخته بلل کيږي لکه بسم الله اوالحمدلله چې زموږ په رواج کې مخته بلل کيږي داتقسيم دابتدادشرح جامی په اوله صفحه کې په حاشيو کې ذکردی.

نوکله چې ابتداپردرې قسم سوه نو حديثين په مينځ کې تعارض نه راځي .ځکه يو حديث به پريوه ابتداحمل کړو بل حديث به پربله ابتداحمل سي اوکوم سوال چې پرحمل دحديثوسوی دی چې فلانی حديث دې ولي برفلانی ابتداء حمل کړی دی فلانی دې ولي پرفلانی باندي أوعکس دې ولې نه کاووهغه سوال اوجواب په خپله دکتاب په حاشيو کې په صراحت سره ذکردي وضاحت ته يې ضرورت نسته.

دحمدتفصيلي بيان

حمد په لغت کي ستودن (ستائيلو) ته وايي اوپه اصطلاح کې [هوثناء باللسان علی فعل الجميل الاختياری علی جهة التبجيل والتعظيم سواء کان فی مقابلة النعمة اولا]

دشکرلغوي معنی داده چې [فعل ينبئ عن تعظيم المنعم بسبب کونه منعما] او اصطلاحي معنی يې داده [هوجعل اسباب العبد موافقا لماهوخيرفی حقه عندالله] .
دشکراصطلاحي معنی دمفضل بن عمردرسالي (ايساغوجي) په حاشيه کې هم ذکرده: معنی يې داده چې دکوموانداموانعام الله تعالی پربندګانو کړی دی داواجب اولازم دی چې ټول په عبادت الله کې استعمال سي ،ځکه قرانکريم شاهدي ورکوي قال الله تعالی [وماخلقت الانس والجن الا ليعبدون] ترجمه : پيرياناں اوانسان مونږ نه دي پيدا کړي بلکي دالله تعالی دعبادت لپاره يعنی دوئ به لازماعبادت دالله تعالی کوي نوخو دپربنده واجب دي چې خپل اعضاء (اندامونه) په عبادت الله کې استعمال کړي.

دحمد په تعریف کې چې کوم قیود راغلي دي : داکثرو علماؤ پرمذهب ټول قیود احترازي دي او بعضی علماء وايي چې داختیاری قید احترازي ندی لکه میرسید سندصاحب چې په میرکې دابیان کړی دی خیرخووس داسوال کیږي چې ته وايې حمدصفت کول دي په ژبه نو خو نعریف دحمد جامع نسو .ځکه دالله تعالی حمد خارج سو ،ځکه الله جل جلاله له ژبې او جسم څخه پاک دی موږ جواب ورکوو یو جواب پخپله په حاشیه کې ذکردی هغه داچې دلته مجازمرسل دی ذکرسبب چې ژبه ده مراد مسبب دی چې کلام دی رونښتیاهم ژبه دکلام سبب ده ،ځکه کلام خوپه ژبه کیږي دوهم جواب دادی : چې دلته تعریف دنوع دحمد دی نه دجنس دحمد یعنی مطلق حمد جنس دی مثلا حمددانسانان یوه نوع دد حمد دملائکوبله نوع ،حمددالله تعالی بله نوع ده دایې انواع دي نوداتعریف دحمد دنوعې دی چې دانسانانو حمد دی نه دجنس حمد چې مطلق حمد دی چې دخدای تعالی حمد هم راداخل سي او جمیل چې یې وواېونوذم خارج سو ،ځکه چې ذم خو جمیل نه دی او چې اختیاری یې وواېونو مدح خارجه سوه ،ځکه په مدح کې اختیاریتوب شرط نه دی اوچې علی جهة التعظیم والتبجیل یې وواېو نواستهزااوسخریه (مسخرې اوپوسخند) ووتل نو دحمد تعریف په دې اخیري قید باندي تام سو خیرخو کله چې ده وویل سواء کان فی مقابلة النعمة اولا په دې کې اشاره ده ومتعلق دحمدته یعنی حمد خالي صفت کول دی په ژبه هره پړطریقه دتعظیم خواه که په مقابله دنعمت کې وي یانه خو مورد(هغه ځای چې حمد په ویل کیږي) خاص دی چې ژبه ده یعنی حمد په ژبه ویل کیږي اوشکرد حمد پرعکس دی یعنی موردیې عام دی چې هغه زړه ، ژبه ، نوراندامونه دي یعنی له شکرڅخه غرض دادی چې یوداسې فعل وکړل سي چې اګاهي پرتعظیم دنعمت کوونکي راولي اواګاهي (خبرتیا) خوپه دې دروسره ووسره راځي نو ،ځکه یې موردعام دی اومتعلق یې خاص دی چې نعمت دی یعنی خامخابه په مقابله دنعمت کې وي که نعمت نه وونو شکرنه نسته .دحمداوشکرپه مینځ کې نسبت داپه غټو کتابونو لکه مختصرالمعانی فن اول کې بیان سوی دی دلته به یې ضرورت نه وي.

دالحمدالف لام

غريب (يعنی ددې کتاب مصنف) دلته حمدترالف لا م مخکې راوړ ،ځکه چې الف لام وحمدته ورعارض اوحمدېې معروض دی اوداقانون دی چې معروض ترعارض مخکې وي لکه دانسان وجودبه يوواروي بيابه مريض کيږي نوځکه يې ترحمدوروسته الف لام راوړ.

نوالف لام په لغت کې هغه کلمه ده چې دال دی اوپه اصطلا ح کې يوه کلمه ده چې په دې سره بله کلمه محلی (ښائسته) کيږي.

الف لام په خپل کورکې پردوه قسمه دی اسمي ، حرفي: اسمي هغه دی چې پراسم فاعل يامفعول ،اوصفت مشبه داخل وي اوحرفي هغه دی چې پردغو باندي نه وي داخل. اوس نومهمه خبره داده.

سوال: چې پراسم فاعل اومفعول داخل وي داولې اسمي بولي.

جواب: الف لا م چې پراسم فاعل اواسم مفعول داخل سي ددوئ تاويل که مذکراسم فاعل يامفعول وي نوتاويل به يې په الذی سره کيږي که مؤنث اسم فاعل يامفعول وي بيايې تاويل په اللتی سره کيږي نوالذی اواللتی اسماء موصولات دي موصولات خوټول اسماء دي نو ،ځکه يې اسمي بولي.

سوال: الف اسمي ولې په اسم فاعل اومفعول پوري خاص سو.

جواب: الف لا م اسمي له الف لا م حرفي سره په صورت کې مشابه دي ،ځکه دواړه کلمه دال ته وايې نومدخول دحرفي خومفردوي نوپه دې لحاظ اسمي هم مفردد سواوپه معنی کې الف لام داسم فاعل اواسم مفعول خوموصول دي نوموصول خوصله غواړې صيله خوجمله وي اوس نوکه څوک سوال وکړي چې صله يې ولې جمله کړه نوجواب دادی چې الذی اواللتی دارازالذين التين چې تثنيې دي اودارازالا ة والوات چې جمع دي ددې ټولووضع ددې لپاره راغلې ده چې جمله صفت دمعرفي وګرزوي نوکه صله جمله نسي نوخلا ف دوضعې راځي نو،ځکه به صله جمله وي نودوئ په معنی کې جمله سواوس نوداسي کلمه نسته چې په صورت کې مفرده وي په معنی کې جمله وي غيرله اسم فاعل اومفعول څخه نو ،ځکه اسمي په دوئ دوو پورې خاص سواواسم فاعل اومفعول چې په صورت کې مفردي اوپه معنی کې جمله دي وجه يې داده چې دوئ مشابهت لري له اسم

جامد سره په عدم تغييركې يعنى لكه څرنګه چې اسم جامد په حال دغيبت اوخطاب اوتكلم كې تغيرنه خوري په دروسروو حالاتوكې ،ځكه داسي ويل كيږي [هوزيد(دغائب مثال) ، انت زيد(دمخاطب مثال) ، انازيد(دمتكلم مثال) نودادى تغيربې نه دى خوړلى.

اواسم فاعل ، مفعول هم په دغودروسره ووحالاتوكې تغييرنه خوري لكه [هو قائم ، انت قائم ، اناقائم] اسم فاعل دى اوتغيربې نه دى خوړلى نودديې مشابهت له وجې اسم فاعل اومفعول مفردين سُواوچې دوئ دوه مشابه دي له فعل سره په حمل دضميركې يعني په اسم فاعل اومفعول كې هم استتاردضمير كيږي داسي په فعل كې هم نوپه دې وجه بيادوئ دوه جمله سو ،ځكه فعل خوجمله وي نودوئ چې مشابهت په معنى كې ورسره پيداكړنودوئ دوه هم جمله سوخلاصه داده چې الف ،لام اسمي هم په صورت كې مفرد په معنى كې جمله دى اواسم فاعل ، اسم مفعول همداسي دي لكه الف لام اسمي نومناسبت يې سره پيداكړنو ،ځكه اسمي په دوئ پورې خاص سُواوحرفي پردوه قسمه دى زائد ، غيرزائد: زائداهغه بولي چې دده په ساقطېدوسره په معنى كې تغييرنه راځي لكه [لقدامرعلى اللئيم يسبنى فمضيت ثمه وقلت لايعنينى] ترجمه : زه پرخبيث سړى باندي تيرسوم ده ښكنځل كول مال له ځان سره وويل چې مانه ښيي اوس نوداللئيم الف لام زائددى ،ځكه صفت دالليئم جمله ده چې يسبنى لفظ دى كه زائدنه واى نوصفت يې جمله نسواى راتلاى ،ځكه جمله خو نكره وي نكره خوصفت دمعرفه نه راځي.

الف لام زائدلازم ، غيرلازم ، اوهريوعوضي ،غيرعوضي هم راځي اوس نوچې زائدلازم عوضي درې سره وي لكه لفظ دالله زائددى ،ځكه تعريف په علميت راغلى دى اولازم دى ،ځكه جزله علم څخه دى عوضى ده ،ځكه عوض له همزې څخه دى .اوچې خالي عوضي نه وي دانوردوه قسم موجودوي دهغه مثال لكه [النجم] وجه دزيادت اولزوم هغه ده كومه چې تيره سوه ا وعوضي نه دى ،ځكه عوض دهيڅ شى نه دى راغلى اوچې زائد عوضي اوغيرلازمي وي مثال يې لكه [ياالناس) زائد ،ځكه دى چې تعريف په حرف ندا راغلى دى عوضى ،ځكه دى چې عوض له همزې راغلى دى ،ځكه اصل يې اناس ووغيرلازمى .ځكه دى چې الناس علم نه دى اوچې زائدوي غيرلازمي عوضي وي مثال يې لكه [ياالغلامان] زائد ،ځكه دى چې تعريف په نداراغلى دى غيرلازمي دى ،ځكه علم نه دى

غيرعوضي دی ،ځکه عوض له شی څخه نه دی راغلی اوغيرزايدبيا هغه دی چي په سقوط دده معنی اصلي ته تغيرورسيږي هغه پرڅلورقسمه دی ـ۱ جنسی ـ۲ استغراقی ـ ۳ عهدخارجي ـ ۴ عهدذهنی وجه دحصريې داده چي دالف لام به خالي نه وي يابه په ده سره اشاره سوې وي وماهيت ته يااوافرادوته که ماهيت ته وي نوجنسی دی که افرادوته وي نوبيابه خالي نه وي يابه وټولو افرادو ته په ده سره اشاره سوې وي يابه بعضی افرادوته که ټولوته وي نو استغراقي دی اوکه بعضوته وي دابعض به بيا خالي نه وي يابه معلوم وي يانه که معلوم وي نوعهدخارجي دی که نه وي معلوم نوعهدذهني دی.

الف لام جنسي

نوجنسي هغه بولي چي په ده سره اشاره سوې وي خالي ماهيت ته افرادوته اشاره نه وي نه ټولوته .نه بعضوته لکه [الرجل خيرمن المرأة] نوددې قول معنی داده چي مفهوم درجل چي مذکرله اولاده دآدم عليه السلام چي تجاوزيې کړی وي له حده دکوچنيوالي وحدته دلوئيوالی دابنه دی ترمفهوم دښځې چي مفهوم دښځې نودادی چي هغه لورله لونوڅخه دآدم عليه السلام چي دصغير(کوچنيوالی)ترحديې تيري کړی وي وحدته دکبر(لوئيوالی) اودغه جنسي استغرافي نسي کېدای ،ځکه ټول افراددده خونه دي ښه ترټولوښځوبلکي بعضي ښځې ښې دي ترنارښه لکه عائشه صديقه رضی الله عنها . فاطمة الزهری رضی الله عنها .

اوعهدخارجی اوعهدذهني هم نسي کېدای ،ځکه په دې قول کې مدح دجنس غرض ده مدح ديوه فردمعين (معلوم) اوغيرمعين نه ده مراداوپه دوئ کې خولحاظ دفردمعين وي لکه په خارجی کې چي دی يالحاظ دغيرمعين وي لکه په ذهني کې چي دي.

الف لام استغراقي

اواستغراقي هغه دی چي په ده سره اشاره سوې وي ومفهوم دخپل مدخول ته (کوم چي دی پرداخل وي) ته سره له لحاظه دټولوافرادومثال يې لکه [ان الانسان لفی خسرالا الذين آمنو] ترجمة: بېشکه هرفردله افرادوڅخه دانسان په تاوان کې دی.

نودا الف لام جنسي نسي كېداى وځكه بيابه حكم په تاوان سره راځي پرماهيت دانسان سره له دې چې تاوان له افرادوصادرېږي نه له ماهيته اوعهد خارجي اوذهني هم نه دی ځکه بیا استثنی دمتعدد راځي چې الا الذين دی له واحد څخه.

الف لام عهدخارجي

عهد خارجي هغه بولي چې په ده سره اشاره سوې وي يوه فردمعلوم ته په مابين دمتكلم اومخاطب کې په خارج کي لکه [فعصى فرعون الرسول] ترجمه : نافرماني وکړه فرعون له رسول (کوم چي دمتكلم اومخاطب په مینځ کې معلوم دی).

نورسول چي موسی علیه السلام دی متکلم ته هم معلوم وو چي الله تعالی دی اومخاطب ته هم معلوم ووچي محمدصلی الله علیه وسلم وواودغه جنسي نسي كېداى ،ځکه نافرماني خوله ماهيت څخه نسي کېداى بلکي له فرد څخه کيږي اواستغراقي هم نه دی ،ځکه فرعون خونافرماني دټولورسولانونه وه کړې ټول کله موجودوده په زمانه کې اوذهني هم نسي کېداى ،ځکه دفرعون نافرماني خوموجوده په خارج کي وه هغه متصورپه ذهن کې نه ووسره له دې چې ذهني خوهغه ووچي په ذهن کې متصوروي په خارج کې نه وي.

الف عهدذهني

عهدذهنی هغه دی چي په ده سره اشاره سوې وي وداسي فردته چي هغه په خارج کې نه متكلم اونه مخاطب ته معلوم وي هسي متكلم په ذهن کې معلوم فرض کړی وي لکه [اخاف ان يأكله الذئب] ترجمه: زه ویرېږم چي لیوه به یې وخوري.

نولیوه خونه په خارج کې مخاطب ته معلوم ووچي ديعقوب عليه السلام زامن وواونه متكلم ته معلوم ووچي يعقوب عليه السلام ووليكن يعقوب عليه السلام هسي په ذهن کې معلوم فرض کړی وو.

نودغه ذهني جسني نسي کېداى ،ځکه خوراک خوماهيت نه کوي بلکي فردیې کوي که جنسي سی نوبيابه معنی داسي وي چي دليوه ماهيت (چي حيوان مفترس) دی خوراک کړی وو ،ځکه په جنسي کې خواشاره ماهيت ته وي استغراقي هم نه دی ،ځکه دټولې دنیالیوان خوممکن نه دی چي پريوسف عليه السلام دې راجمع سي ،ودې خوري عهدخارجي هم نه دی ،ځکه په هغه سره خواشاره ویوه معلوم ته وي اويوفردلاهم په خارج

کې قادرنه دی چې یوسف علیه السلام وخوري ،ځکه دانبیاؤ علیهم السلام غوښې پرهرشی باندي خوړل حرام دي.
نو کله چې دحمدلغوی ،اصطلاحي اودالف لام اقسام بیان سونومعنی دحمدشروع کیږي .

دحمدمعني

دحمد معنی یعنی ټولې ستاینې په هره زمانه کې له هرستایوونکې څخه هغه که انسان وي که پیریان ،که ملائکه وي داخاصې دي الله تعالی لره اوس نودشمه په دوهم مخ حاشیه کې یې سوال کړی دی:
سوال: دادی چې حمدخو یوکلام دی له دې څخه څنګه څلورمعناوې ثابتې سوي
جواب : دادی چې اوله معنی له الف لام څخه ثابته ده ،ځکه الف لام به یاجنسي وي يااستغراقی په دې دواړوکې عموم وي ،دوهمه معنی له جملې اسمیې څخه ثابته سوه ،ځکه جمله اسمیه ددوام لپاره وي که ته وایې چې زه به یې دروښییم چې جمله اسمیه به وي اوددوام لپاره به نه وي لکه زیدقائم داددوام لپاره نه ده ،ځکه داکېدای نسي چې زیددې همېشه ولاړوي نودهغه جواب دادی چې ددوام لپاره هغه جمله اسمیه ده کومه چې له فعلیې رامعدوله وي لکه الحمدچې معدوله ده له حامدت حمداڅخه بیافعل اوفاعل حذف سوبیارفع ورکول سوه مصدرته لپاره ددوام نوحمدپاته سوبیاچې حمد مبتداواقع سونوبیاالحمدسو الف لام پرداخل سو،ځکه تنکرد مبتداء خوغیرجائزدی او دریېمه معنی له نه ذکرڅخه دفاعل ثابته سوه ،ځکه ماداسي نه دي ویلې چې دانسان یاپیري حمدنومعلوم سوه چې دهرچاحمد ثابت دی الله تعالی لره ، څلورمه معنی چې تخصیص دی له لام جاره څخه معلومه سوه ،ځکه لام جاره ماقبل خپل ترخپل مدخول پورې خاصه وي چې دلته لفظ دالله دی بیاپه دغه مخ کې په حاشیوکې سوال کوي چې ولې یې لله الحمدونه وایوسره له دې چې لفظ دحمدخودال پروصف دی اولفظ دالله دال پرذات نودال پرذات بایدمقدم سي تردال پروصف اوذات مقدم وي په طبع اووجودکې پروصف نوبایدچې په ذکرکې هم مخته سي نوبه لفظي ترتیب موافق سي له طبعی ترتیب سره ،ځکه داحسن په کلام کې فائده کوي.
ددې سوال محشی درې جوابونه کړې دي:

۔۱ داچي صفت که چیري داسي صفت ووچي تردغه ذات پوري خاص ووپه بل چاکې نه راتلی نو دهغه صفت تقدیم جائزدی دلته هم حمد خاص په الله تعالی پورې دی بل چاته نه ثابتیږي که ته وایې چي دبعضی بندګانو هم حمدویل کیږي نوموږوایوچي هغه هم په حقیقت کې الله تعالی ته راجع دی.
۔۲ داچي په کوم ځای کي مقصود بیانول دصفت وي هلته بیاذات مقصودنه دی اوپه هغه وخت کې تقدیم دصفت پرذات باندي واجب دی ،ځکه چي ذات که څه هم ذات دی خومقصودنه دی وصف که څه هم وصف دی خومقصوددی نومقصودخو مخکې ویرپر غیر مقصودنو .ځکه وصف مقدم سوپرذات.
۔ ۳ داچي په ترکیب کې وصف چي الحمددی مبتداواقع سوی دی اوجارو مجرورچي لفظ دالله دی په اعتباردمتعلق سره دایې خبردی نواصل په مبتداکې تقدیم وي نو .ځکه موږوصف مقدکړچي حمددی پرذات چي الله دی.
بل سوال محشیانوداکړی دی چي خلاصه یې داده چي مناسب خوداووچي الشکریې ویلي وای ،ځکه تصنیف خونعمت دی په مقابله دنعمت کې خوشکرواجب وي دسوال دجواب خلا صه داده چي کله حمدشکرپرځای واقع سي لکه په دې ځای کې چي واقع سوی دی بیاحمدعین شکروي نوګوکي ده اوس هم شکرویلی دی نائب لره حکم دمنوب عنه وي دغه جواب تسلیمي دی دوهم جواب منعی دی هغه داچي زه یې نه منم چي په دې ځای کې مناسب شکردی بلکي مناسب حمددی ،ځکه چي الله تعالی مستحق دحمددی خواه نعمت یې کړی وي ،که نه اودشکرمتعلق خوخاص دی چي خاماخابه نعمت وي نو که زه شکرووایم نوبیاداګمان کیږي چي الله تعالی مستحق دشکردی ددې نعمت په وجه کنې دخپل ذات په اعتبار متسحق نه دی العیاذبالله نوکله چي داګمان کېدی نو ،ځکه مناسب شکرنه دی بلکي حمدمناسب دی.

دحمددارکانوبحث

دحمدارکان څلوردي ۔ ۱ حامد(حمدویوونکی) ۲محمودبه (چي الفاظ دحمددي)۔ ۳محمودعلیه (چي انعام دی)۴ محمود(پرکوم چي حمدویل کیږي مثلا یوڅوک تاته سل روپۍ درکړې ته حمدپروایې) نودغه سل روپۍ محمودعلیه دي یعنی هغه شی چي حمدویوونکی یې پرحمد ویلوباعث کړی دی دامحمودعلیه دی اوس نودایورکن چي

سبب باعثه دی داد خدای تعالی په حمد کې نسته ،ځکه د خدای حمد احسان دی پر خدای تعالی باندي هيڅ باعث نسته اوله خدای تعالی پرته دبل چاپه حمد کې حمدځلورسره رکنونه غواړي.

دحمداوصلوة ترکيب

الحمدلله الذی زين النبيين بحبيبه المصطفي

ترکيب : الحمد مرفوع لفظا مبتدا، لام حرف جر، الله موصوف الذی موصل زين فعل ماضي له بابه دتفعيل ضمير پکي پټ چي تعبيرپه هوځيني کيږي چي راجع موصول ته (الذی) ته دی هغه يې فاعل دی النبيين يې مفعول دی باحرف جرحبيب مضاف دی ضميرته ضمير مضاف اليه دمضاف مضاف سره له مضاف اليه داموصوف سوالمصطفی دايې صفت سوموصوف سره له صفته دامجرورد جارسوچي باده جارسره له مجروره داظرف لغوه متعلق دزين سوزين فعل سره له متعلق چي حبيبه ووداجمله فعليه خبريه صله دموصول سوه چي الذی دی موصول سره له خپلې صلې داصفت دموصوف سوچي لفظ دالله دی موصوف سره له خپله صفته دامجروردجارسوچي لام جاره ووجارسره له خپله مجروره دا ظرف مستقرپه اعتبارد متعلق محذوف سره چي ثابت دی يامختص دی داخبردمبتدا سوچي الحمد دی مبتدا سره له خپله خبره داجمله اسميه خبريه لفظا انشائيه معنی سوه.

په دريم نمبرحاشيه کې يې سوال کړی دی

سوال : پرالذی زين توروباندي دی: خلاصه يې داده چي زين صله دالذی ده اوصله نه وي مګرجمله وي اوجمله خومستقله وي اررتباط ته ضرورت نه لري خوچي جمله صله راسي نوصله خومربوطه وي له موصل سره او محتاجه وي وعائدته نوبه په دې عائدسره مربوط سي له موصول سره دلته صله جمله ده او عائد يې نسته

جواب : چي عائديې موجوددی خوخالي مقدردی.

سوال : چي الذی دمذکرغائب لپاره وضع دی اودلته تعبيرله الله ځخه په سوی دی اوسره له دې چي الله خونه مذکر ،نه غائب دی داصفتونه خودمخلوق دي

جواب : دادی چي تذکيردالذی په اعتباردموصوف سره دی چي لفظ دالله ده الله خوپه لفظ کې مذکردی که څه هم ذات مقدس پاک دی له تانيث اوتذکيرڅخه اوغائب والی

دالله جل جلا له بيا په نظر و موږنه دی ،ځکه زموږ له نظره خویقینا غائب دی لکه خدای پاک خپله وايي [لا تدركه الابصار م وهو يدرك الا بصار وهو اللطيف الخبير] نو غيبوبة موږ په دې وجه وايو چې لفظ دالله اسم ظاهر دی اسماء ظاهره خو ټوله له قبيلې د غائب دي.

سوال : حاشيې والاسوال کړی دی چې حبيبه مضام اومضاف اليه داموصوف ده اومصطفى يې صفت دی داصفتيت يې نه صحيح کيږي ،ځکه موصوف نکره دی صفت چې مصطفى دی هغه معرفه دی اوموافقت په مابين دصفت اوموصوف کې شرط دی په تعريف اوتنکيرکې دلته موصوف نکره سوچې حبيبه دی اوصفت معرف سوچې المصطفى دی نو ،ځکه صفتيت د مصطفى نه صحيح کيږي.

جواب :داجواب پرطريقه دمنعي دی هغه داچې موصوف هم معرفه دی په اضافت سره حبيب مضاف دی وضميرته نومصووف معرف په دې اضافت سره دی.

اضافت بياپردوه پردوه قسمه دی : ـ ۱ اضافت لفظي ـ ۲ معنوي ددوئ بحث وروسته راروان دی هلته به يې بيان کړوانشاء الله تعالى.

الضابطة الكلية

ضابطه دصفت اوموصوف صفت پردوه قسمه دی ـ ۱ هغه صفت دی چې دلالت پرهغې معنى کوي چې هغه ثابته وي په عين موصوف کې لکه جاء نې رجل عالم دغه صفت موافقت غواړي له موصوف سره په (۱۰)شيانوکې هغه لس شيان دادي (اعراب ، رفع ، نصف ، جر، تعريف ، تنكير،تذكير، تانيث ،افراد ، تثنيته ، جمع) په دغولسوشيانوکې په څلورو(۴) کې موافقت له موصوف سره ضروري دی يعنى ممکن دا ـ ۴ دي داسي نه چې دغه لس سره به ضروري وي ،ځکه ټول خو په خپل مابين کې سره ضددي په يوه کلمه کې به څنګه يوځاى سي مثلا چې موصوف مرفوع وي نومنصوب يامجرورخونه سي کېداى نوپه اعراب کې يوموجوددی داسي په موصوف کې رفع ،نصب ، جردرې سره نه سي موجودېداى دارازچې موصوف مذکروي مونث نه سي کېداى چې معرفه وي نکره نسي کېداى چې مفردوي تثنيه اوجمع نسي کېد اى نوځکه په دغولسوکې وحدت دڅلوروشرط سوپه مابين دصفت اوموصوف کې اودغه صفت چې موافقت غواړې په دي لسوشيانوکې دې ته صفت بحال موصوف وايې ـ ۲ قسم صفت موافقت غواړي په پنځو(۵) شيانوچې هغه پنځه يوٰاعراب ، بل رفع ، بل نصب ، بل جر، بل تعريف ،تنكير، دي

اوس نوپه دې صفت کې بيادوه ممکن دي يعني په دې پنځوکې بياپه (۲) کې صفت اوموصوف سره برابروي دغه صفت نه صفت بحال متعلق موصوف وايي ،ځکه دى دلالت کوي پرهغه معنى چي ثابته وي په متعلق دموصوف کې مثلا جاءني رجل عالم ابوه رجل موصوف دى عالم يې صفت دى ابوه يې متعلق دموصوف دى اوداعالم دلالت کوي پرعلم علم خوثابت دى په متعلق کې چي ابوه دى يعنى چي پلاردرجل دى اوداخبره په ذهن کې لرئ چي موږوايو چي صفت اوموصوف به موافق وي په تذکيراوتانيث کې داهغه صفت مرادده چي پروزن دفعيل په معنى دمفعول نه وي راغلى که صفت پردغه وزن راغلى ووبيامواففت نه غواړي لکه امرأة جريح دادى موصف مؤنث دى صفت يې مذکردى دارازبه صفت پروزن دفعول نه وي راغلى چي په معنى دفاعل وي که پردغه وزن راغلى ووبيايي موافقت نه ده ضروري لکه امرأة صبورداده صفت چي صبوردى مذکردى موصوف چي امرأة ده مؤنث ده تفصيل يې نورهم سته خوپه دې ځاى کې داکافي دى عبدالرحمن عاصى بانواع المعاصى غفرله البارى.

فائده : صفت هغه وخت لپاره دتخصيص وي کله چي صفت اوموصوف دواړه نکره وي لکه [جاءني رجل عالم] ،ځکه مخته رجل عام ووعالم اوغيرعالم دواړوته په صفت سره چي عالم دى رجل خاص سومرادرجل عالم دى اوفائده دده توضيح ده که چيري دواړه معرفه وويعنى صفت رفع داحتمال کوي که دواړه معرفه وولکه [جاءني زيدالتاجر] ،ځکه زيد مخته عام ووپه صفت سره چي التاجردى خاص سو.

ترکيب ددوهمې جملې يعني منّ علي المؤمنين بنبيه الخ

واوعاطفه منّ فعل ماضى معلومه له باب دنصرينصرده مضاعف ثلا ثي ضمير پکي مستتر(پټ) دى چي تعبيرپه هوسره ځيني کيږي هغه يې فاعل دى على جارالمؤمنين مجروردجارسوجارسره له خپله مجروره دامنصوب محلا مفعول به غيرصريحي دمنّ سوباجارنبى مضاف دى ضميرته ي هى ده هى مضاف اليه سوچي نبى دمضاف سره دمضاف اليه دامجروردجارسوجارسره له مجروره دابه ظرف لغومتعلق ترمنّ پورې سي منّ فعل سره له خپله فاعله چي ضميرو سره له خپله مفعول به اوسره له خپله متعلقه چي بنبيه ووداجمله فعليه خبريه معطوفه پرمخکي جمله باندي.

(والصلاة والسلام علي رسوله محمدخير الورى)

ددريېمې (والصلاة والسلام علي رسوله محمدخير الورى) جملې ترکيب

واوعاطفه الصلوة مرفوع لفظا معطوف عليه والسلام پرعطف معطوف عليه سره له خپله معطوفه دامبتداء سوعلى جاررسول مضاف سوضميرته چي هي ده مضاف چي روسول دى سره له مضاف اليه چي ضميردى دامبدل منه سومحمد موصوف خيرمضاف الورى مضاف اليه دمضاف مضاف سره له مضاف اليه داصفت دموصوف سوچي محمددى موصوف سره له صفته دابدل دمبدل منه سوچي رسول دى مبدل منه سره له خپله بدله دمجروردجارسوچي على دى جارسره له خپله مجروره داظرف مستقرترنازلتان پوري سونازلتان اسم فاعل ضميرپکي مستردى چي راجع صلاة اوسلام ته دى هغه يې فاعل سواسم فاعل سره.له نائب فاعله اوخپله متعلق داشبه جمله خبردمبتداء سومبتداء سره له خپله خبره دابيا جمله اسميه معطوفه سوه.

دڅلورمې جملې ترکيب

صلى فعل ماضى معلوم له باب دتفعيل دافعل سوالله حال تعالى فعل ماضى معلوم ضميرپکي مستترچي تعبيريې په هوسره کيږى چي راجع الله ته ده دافاعل دتعالى سوعليه على جارضميرراجع ومحمدص ته دى دامجرورد جارسوجارسره له مجروره داظرف لغوه متعلق دتعالى سوتعالى فعل سره له خپله فاعله چي ضميرووسره له خپله متعلقه چي عليه ووداجمله فعليه خبريه منصوب محلا حال دذوالحال سوه چي الله دى .ځکه حال هم جمله راځي لکه خبريعنى حال اوذوالحال په معنى کي لکه مبتدااوخبرداسي دي نوخبرخوجمله راتلا ى سي نوحال هم جمله راځي ذوالحال سره له خپله حال دافاعل دفعل سوچي صلى دى فعل سره له خپله فاعله داجمله فعليه دعائيه سوه واوعاطفه على جارآله مضاف اومضاف اليه دامعطوف عليه اصحابه بيامضاف اومضاف اليه داموصوف المتأدبين اسم مفعول بالتقوى جاراومجروردا ظرف لغومتعلق تراسم مفعول پورئ اسم مفعول سره له خپله فاعله چي ضميرکې مستترووراجع اصحابه ته وواوسره له خپله متعلقه داشبه جمله صفت دموصوف سوه چي اصحابه ووموصوف سره له خپله صفته دامعطوف دمعطوف عليه سوچي آله ووعطوف عليه سره له خپله معطوفه دامجروردجارسوچي على ووجارسره له مجروره داظرف مستقرپه

اعتبار د متعلق سره خبر د مبتداء محذوفي سو چي الصلوة مبتداء سره له خپله خبره داجمله اسميه سوه.

داايت شريف [وبعث فيهم رسلا] محشي ددې لپاره راوړی دی چي د شارح د مدعی اثبات په ورکړي .ځکه شارح خوايې چي د محمد صلی الله عليه وسلم رااستول د مؤمنانو لپاره دا د خدای تعالی احسان دی پر مؤمنانو.

دنبي دلفظ تشريح

په نبی کې درې مذهبه دي ـ ۱ دادی چي نبی مأخوذدی له نبوة او نبوة وايې رفعت يعنی لوړوالې ته نو اصل يې نبوٌ وو خو پر وزن د فعيل بو په معنی د مفعول نو معنی يې دا سوه چي محمد ص مرتفع او لوړ دی پر ټول مخلوق او رشتيا هم لوړ دی ـ ۲ مذهب دادی چي نبی ماخوذدی له نباء ځخه په معنی د خبر نو نبی فعيل په معنی د فاعل يعني خبر راوړ وونکی نو پر دې مذهب يې معنی دا سوه چي خبرراوړوونکی او رښتيا هم خبرراوړوونکی په احکام شرعيه وو سره او ځوک وايې چي نبی په معنی د الطريق (لارې) دی بيا دهغه چانوم سو چي الله تعالی رااستولی وي لپاره د تبليغ وخلګو ته نو پر اول مذهب ناقص واوي ده او پر دوهم مذهب مَهموز اللام ده او پر دريم مذهب ناقص يايې دی.

دصلاة تشريح

سوال : صلوة او سلام خو مقصود نه دي نو شارح ولې راوړې دي دا خو شروع په غير مقصود ده او شروع په غير مقصود خو غير جائز ده.

جواب: دادی چي صلوة او سلام دواړه په دليل عقلي او نقلي سره ثابت دي دليل نقلي لکه دا آيات شريف [ان الله وملئكته يصلون على النبى الآية] يعنی الله تعالی وايې: چي په تحقيق سره زه او زما فرشتې درود وايې پر نبی عليه السلام باندې نو ای ايمان والاوو تاسو هم درود پر ده باندې وايا ست.

دليل عقلي دادی چي موږ له خدی پاک ځخه ډير ليرې يو ،ځکه موږ ملوث او متدنس (لړلي او خيرن) په خړوالي د بشر سره نو موږ په علم حاصلولو کې يو داسي واسطې ته ضرورت لروچي هغه هم مناسبت له خدای تعالی سره او هم له موږ سره ولري هغه واسطه نه ده مګر محمد صلی الله عليه وسلم او انبياء عليهم السلام دي ،ځکه دوئ معصوم (له ګناه

پاک) دي نویونوع مناسبت یې پیداکړله خدای تعالی سره نوددې مناسبت په وجه به انبیاء علیهم السلام استفاضه او طلب دعلم وکړي له الله جل جلا له څخه اوله موږسره یې بیامناسبت په بشریت کې دی ،ځکه دوئ هم بشردي نوددې مناسبت په وجه به افاضه دعلم پرموږوکړي اوعلم خوډیرغټ نعمت دی نومحمدعلیه السلام مجازی نعمت کوونکی سو پرموږباندي.

خلاصه داده چي دمنعم حقیقي چي الله تعالی دی شکرپرمنعم علیه چي بنده دی واجب دی نودمنعم مجازی چي محمدصلی الله علیه وسلم دی شکرهم واجب دی پرمنعم علیه چي موږیواوس نوپردې خبره چي موږویل چي موږله الله تعالی څخه لیري یومحشی سوال کړی دی:

سوال : چي الله تعالی وایې [نحن اقرب الیه من حبل الورید] یعنی موږانسان ته ترښارګودغاړې نژدي یونوموږخوله الله تعالی څخه لیري نسولکه دی چي وایې نوچي هرکله خبره داسي ده نودلیل عقلي صحیح نه سو.

جواب : دادی چي موږوایوچي موږله الله تعالی څخه لیري یوداپه دې معنی چي له الله تعالی سره کوم عبادت لائق (وړ) دی موږهغه نه دی کړی اوالله جل جلا له وایې چي زه انسان ته دغاړې ترښارګونژدي یم داپه قدرت اوعلم کې نه په مرتبه کې.

دصلاة تشریح په نظم کې

ناظم وایې: درود مصطفی داعبارت دي له صلاة څخه وس نومحشی سوال کړی دی:

سوال : دادی چي دصلوة دوې معناوي دي یوه حقیقي بله لغوي لغوي معنی یې دعاده اوحقیقي معنی یې ارکان مخصوصه دي نوپه دغودوومعناووکې خویوه هم په الله جل جلا له کې نه صحیح کیږي ،ځکه دعاخودامعنی چي طلب دشی له غیرڅخه پرطریقه دعجزدامعنی خوپه الله تعالی کې محاله ده دارازاراده دارکان مخصوصه هم په الله تعالی کې محاله ده.

جواب : دادی چي دلته مجازي معنی مرادده چي رحمت ده خلاصه داده چي دلته مجازمرسل دی ذکرسبب چي دعاده یاارکان مخصوصه مرادموسبب دی چي رحمت دی ،ځکه دعاکول یارکوع کول یاسجده اوداسي نورارکان کول داسبب درحمت دي اوس نوکه څوک سوال وکړي چي رحمت خورقة القلب (زړه سوي) ته وایې نومعنی یې داسوه

چي دالله تعالى زړه دې نرم وي پر محمد صلى الله عليه وسلم نعوذ بالله تعالى او سره له دې چي الله تعالى خومنزه (پاک) دی دزړه او جسم څخه جواب : دا دی : چي دا قاعده کليه ده چي هرځای لفظ محال وي په معنى حقيقي کې په اعتبار د مبدأ سره نو هلته تګ کيږي لوازم او غاياته مثلا الله تعالى ته په قرآنکريم کې نسبت د محبت سوی دی لکه [ان الله يحب المحسنين] يا د مکرلکه [والله خيرالماکرين] نسبت چي ورته سوی دی لکه داستهزا [الله يستهزئ بهم] او داسي نور مثالونه په قرانکريم او په احاديثو اوس نو يعني چي له رحمت سره احسان لازم او پرده مرتب دی هغه احسان او ايصال النفع ده نو په رحمه کې بيا مجاز مرسل دی ذکر ملزوم چي رحمت دی مراد لازم او غاية دي چي احسان او رسول دخير دي دا راز د مکر غايه او دده لازم عذاب ورکول دي محشي بيا سوال کړی دی

سوال : چي جمع په مينځ د حقيقت او مجاز کې خو غير جائز ده که ته وو ايې چي څه وجه ده چي د دوئ جمع غير جائز ده

جواب : نو جواب دا دی چي عين لفظ د حقيقت او مجاز دا تقاضا کوي چي موږ په خپل مينځ کې سره منافي او ضد يو ،ځکه د حقيقت معنى ثبوت دی او د مجاز معنى تجاوز کول دي خلا صه دا سوه چي حقيقت خو دا معنى چي لفظ په خپله معنى موضوع له کې ثابت پاته وي او مجاز دا معنى چي تر خپله معنى موضوع له يې تجاوز کړی وي نو داسي خو نسي کېدای چي يو لفظ دې هم په خپل ځای کي پاته وي او هم دې تر خپل ځای او موضوع له يې تجاوز کړی وي نو خامخا جمع په مينځ د حقيقت او مجاز کې غير جائز سوه.

مثلا داسد معنى حيقيقي حيوان مفترس ده او مجازي معنى يې رجل شجاع ده نو د اسد څخه دواړې معناوې نسي مراد بېدای يوه به مرادوي نو که څوک سوال وکړي چي زه به يې دروښيم چي جمع به راغلې وي لکه په دې آيات شريف کې چي [ان الله وملئکته يصلون على النبی] سره له دې چي موږ مخته ويلې ووچي الله ته يې نسبت وسي رحمت مراددی او که يې بندګانو ته وسي نو دعا مرادوي نو داده جمع راغله ،ځکه په آيات کې دواړه مراددي جواب: چي دلته جمع نه راغله بلکي عموم د مجاز دی چي [ايصال الخير] عموم د مجاز ابولي چي نه حقيقي معنى واخلي او نه مجازي بلکي د رېيمه معنى واخلي چي دوئ دواړو ته شامله وي لکه په دې آيات شريف کې چي نه معنى حقيق چي دعاده او نه معنى مجازي چي رحمت مراددي بلکي ايصال خيرکوم چي عام دی که دالله تعالى له

لوري وي او كه دبندګانو دارازپه آيت شريف كې راځي چي [حرمت عليكم امهاتكم] يعنى پرتاسو خپلې مندې حرامې دي نوانا خومورنه ده بايدچي نكاح يې رواسي نودلته هم مورنه حقيقي معنى اخلواونه مجازي بلكې دريمه معنى اخلوچي دواړوته شامله وي چې هغه معنى اصل يعنى اصل پرتاسوحرام دى اوس نواصل خومورهم ده اناهم ده نودواړي حرامې سوې خلا صه داچي عموم مجازيوامروسيع دى په اصطلاح داصوليينوكې.

داصحاب تحقيق

اصحاب جمع دصاحب ده لكه اطهارچي جمع دطاهرده اوصحابي هغه چاته ويل كيږي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم يې ليدلى وي يارسول الله صلى الله عليه دى ليدلى وي (نويه عبدالله ابن ام مكتوم هم داخل سي) ،ځكه هغه ييامحمد عليه السلام ليدلى ووكه ته وايې چي نبى عليه السلام خوكفاروهم ليدلى وومورږوايوچي صحابې هغه دى چي پرنبى عليه السلام يې ايمان هم راوړى وي نوكفاروخوايمان نه ووپرراوړى كه ته وايې چي داسي خلګ چي ايمان يې پرراوړى وي ليكن بيرته كافران سوې وي نودادې هم صحابه وبلل سي.

جواب : چي پرايمان به مړسوى هم وي نوداخلګ خوپرايمان نه دي مړه سوي نوداخلګ صحابه نسو.

دآل تحقيق

د(آل) ترلفظ لاندې نكته (اى اهل بيت رسول الله ﷺ) ده ددې نكتې غرض جواب دسوال دى سوال داچي داخومخالفت له هغه حديث څخه راغى چي (من صلى صلاة ولم يصل عليّ وعلى اهل بيتى لم يقبل) نوناكت جواب وركړچي مرادله آله څخه اهل بيت درسول الله ﷺ دي نومخالفت نه راغى

آل اسم جمع ده دجمع اواسم جمعې فرق: اسم جمع هغه ده چي له خپله لفظه مفرد نلري.

اسم جمع پردوه قسمه ده يوداچي په لفظ كې هم جمع وي اوپه معنى كې هم جمع وي لكه نساء داهم په لفظ كې جمع دى هم په معنى كې خومفردله لفظ نلري بل داسي اسم جمع ده چي خالي په معنى كې جمع وي په لفظ كې نه وي جمعه لكه قوم ، قوم ډيرخلګ بولي يارهط چي پوره جماعت ته وايې نوقوم هم په لفظ كې مفرد ددى رهط هم په لفظ كې

مفردذی اوجمع بیادابولي چي مفردله لفظ څخه لري لکه رجال مفرديې رجل دی یااصحاب مفرديې صاحب دی یانور داراز.

اوبل ختلا ف په معنی مراده دآل کې دی زمونږ دامام صاحب په مذهب کې آل هغه بولي چي زکوة پرحرام وي څوک وايې چي له شرک څخه يې تقوی کړې وي دامذهب مختاره دی معتزله وايې چي دمحمدصلی الله علیه وسلم آل حضرت علی ، فاطمه ،حسن اوحسين رضی الله عنهم اوڅوک بیاوايې چي دمحمدصلی الله علیه وسلم ټول کاله ته وايې چي ازواج مطهرات (امهات المؤمنين) هم پکې داخل دي.

دوهم اختلا ف په اصل کې دآل دی ،څوک وايې اصل يې اولَ واومتحرک ماقبل يې مفتوح هغه يې په الف بدل کړنوآل سونوپردې مذهب اجوف واوي دي .څوک وايې چي اصل يې اهل وو ،ځکه تصغيريې اهيل راځي اوتصغيرخوشی اصل ته ردوي نو .ځکه يې اصل اهل دی بیاها په همزه بدله سوه نوا ء ل سوبیاقانون دآمن پکي جاري سونوال سولیکن اول مذهب مختاره دی ،ځکه دقطبي په حاشیوکې وايې چي یوفصیح اعرابي راروان ووې ويل اهل واهیل وآل واویل اوتصغيرخوشی خپل اصل ته ردوي نودغه اعرابي دهريوه تصغيرجلا ،جلا ذکرکړی نوهريوه خپل ،خپل تصغيرپيداکړیعنی اهل جلا تصغيرلري ،آل جلا تغصيرلري نوخلا صه داسوه چي دآل اصل اهل نه دی دال اصل به هلته اهل وای که آل خپل تصغيرنه درلودلای اوس خوخپل تغصيرلري.

دآل اواهل دفرق تحقيق

ددوئ په مینځ کې فرق دادی : چي آل په ذوی الاشرافوکې استعماليږي خودومره په نظرکي لرئ چي شرافت عام دی که په دنیاکې وي اوکه په اخيرت کې وي لکه په مسلمانانوکې اوکه خالي په دنياکې شرافت لري لکه ددنیاکافران اوس نوداسوال نه کیږي چي ته وايې چي آل په ذوی الاشراف کې استعماليږی زه به يې دروښیم په غیرذوی الاشراف کې به هم استعمال سوی وي لکه [واغرقناآل فرعون] ،ځکه نومونږشرافت عام کړاواهل فقط په ذوی الارذال کې استعما ليږي مثلا آل سلطان صحيح دی اواهل سلطان نه دی صحيح درازاهل الحمام صحيح دی اوآل الحجام نه دی صحيح اوڅوک بیاوايې چي آل په عقل والوکې استعماليږي اواهل په عقل اوغيرعقل والودواړوکې استعماليږي.

داما بعد اجمالي بيان

په امابعد کې درې مذهبه دي څوک وايې اصل يې مهمادی ، مهمااسم شرط بياهاء په همزه بدله سوه ،ځکه چي سره قريب المخرجه دي ،دواړه حرف حلقي دي نومأما سو بيا همزه سره ته يووړل سوه ،ځکه همزه قوی اوشديده ده اومتلکم هم په ابتداء دکلام کې قوی يې سرته يووړل سوه نوامما سوبياابتداء په ساکن راغله ،ځکه همزه ساکنه وه نو داول ميم حرکت يې وهمزې ته ورکړبيادوه حرفه له يوه جنسه راغلو اول يې په دوهم کې مدغم کړنوامّا سودوهم مذهب والاوايي چي دامااصل نفس امادی خالي اماقائم ده پرمقام دمهمااصل يې مهمانه دی دامذهب مختاره دی ،ځکه اماحرف ده اصل په حروفو کې عدم تصرف دی دوهم داچي مهمااسم شرط دی نوکه اعلال پکي وسي لکه اول مذهب کې چي يې اعلال پکي کړی دی نواماحرفي جوړيږي نوهرکله چي اماحرفي سي نومهماله خپله اصله ووته چي اسميت ووسره له دې چي په اعلال سره خوکلمه له خپله اصله نه وزي اوکه يې اصل مهماسي بياامّا جوړه سي نوبياخوداله خپله اصله ووته ليکن پردوهم مذهب سوال کيږي چي هرکله دامااصل عين دغه امادی خالي پرځای دمهماولاړه ده نوداخوغيرمستقل قايم سوچي اماده ،ځکه اماحرف دی پرځای دمستقل چي مهمادی مهمااسم دی اسم خومستقل وي اوداخبره خويقيني ده چي غيرمستقل پرځای دمستقل قائم نه سي جواب خلاف القياس قائم داسي دی لکه ياحرف نداچي قائمه ده پرځای دادعونوخلاصه داچي دوهم مذهب مختاره دی فاحفظ هذالتكون بصيرة فى كثيرمن المواضع عبدالرحمن غفرله المنان.

نوپراول مذهب يې اصل مهمايكن من شئ بعدالحمدوالصلوة فقدالتمس بعض اخوانی. اوس نوكلمه دمهمامبتداء ده متضمن ده معنی دشرط لره اواسميت خولازم وي له مبتداء سره اويكن په معنی دوجدسره تامه دافعل شرط سواومن شئ بيان دمهماسواو فقدالتمس داخبردمبتداء سوبيامهمااوفعل شرط چي يكن وواوبيان چي من شئ داټول حذف سواوپرځای اماودرېده کله چي اماحرف وه ،پرځای دمبتداء قائمه سوه چي هغه اسم وونودوئ پرځان دالازم کړل چي تراماوروسته به خاماخااسم راوړي چي هغه په دې ځای کې دبعدلفظ دی ،ځکه اصل خواوچي داماپرځای مهماراغلی وای خوچي مهمانه راغله نووروسته ترامابه اسم راوړي ،ځکه مالايدک کله لايترک کله يعنی چي ټول نسي

درک کولای نوتول به پرېږدي هم نه خیر خو چي په دغه ترکیب کې چي مهما الخ غرض الزام وي ،ځکه تعلق ترضروري پوري ضروري وي نو ترحمدا وصلوة وروسته خاماخا بوشی سته نو التماس ددوئ ثابت دی.

داما بعداول قائل (ویوونکي)

داما بعد په اول ویوونکي کې اختلاف دی څوک وایې چي داود علیه السلام دی ،بعضی وایې چي یعقوب علیه السلام دی او بعضی وایې چي محمد علیه السلام دی.

او په اعراب او بناء کې یې مشهوره داده چي بعد او قبل ظروف زمانیه هم راځي لکه [بعد الیوم الغد ، (مثال زمان)] یا الیوم قبل الغد (مثال الزمان) یا [داری بعد دارک (مثال مکان) یا قبل دارک (مثال المکان).

که چیري له بعد سره مضاف الیه ذکروي نو معرب ده ،ځکه نه مبنی الاصل ده او نه مشابه له مبنی الاصل سره ده او که مضاف الیه نسیا ،منسیا حذف وه بیا معرب ده په دغه مخکې دلیل سره او که مضاف الیه له لفظ څخه حذف سوې وي او مرادوي په دې وخت کې مبنی ده ،ځکه دا مشابهت لري له مبنی الاصل سره چي حرف دی په احتیاج کې لکه حرف چي په دلالت کولو کې پرخپله معنی وغیرته محتاج وي دارازمضاف چي بعد ده محتاجه ده مضاف الیه ته او مضاف الیه په لفظ کې ذکر هم نه ده.

سوال: اصل خو په بناء کې سکون دی نو تا ولې بعد مبنی پرضمه کړه.

حواب: دادی چي دلته قوي نقصان راغلی دی چي حذف د مضاف الیه دی نو قوي جبره (پتې) غواړې او قوي په حرکاتو کې ضمه ده نو ،ځکه مبنی پرضمه سوه.

دفاء اقسام

فاء پرڅلور(۴) قسمه ده ـ۱ تعلیلیه ، ـ۲ تفریعیه ـ ۳ جزائیه ، ـ۴ تفصیلیه:

تعلیلیه هغه ده چي مابعد ددې علت وي د ماقبل لپاره لکه [ابشر فقد اتاک الغوث ، یالکه ابشر فقد اتاک ابنک (مبدل منه) المسافر (بدل)] وغیرهما.

تفریعیه هغه ده: چي ترفاء مخکې یوه قاعده کلیه ذکرسوې وي وروسته یو جزء ذکروي مثلا [کل فاعل مرفوع فزید فی ضرب زید مرفوع].

تفصیلیه هغه بولي: چي ترفاء مخته اجمال وي وروسته یې تفصیل وي لکه [جاءنی القوم فامازید فاضربته فاماعمرا فاهنته]

جزائیه هغه بولي: چي ترفاء مخکې شرط وي.

دطلب تحقيق

طلب جنس دی: امر، التماس، نهی اودعايې انواع دي لکه حيوان چي جنس دی انسان، بقر، غنم، اوابل يې انواع دي.

که چيري طلب پرطريقه دلوړوالي وي نوامردی، که پرطريقه دتساوا (برابري) وي نوالتماس دی اوکه پرطريقه دعجزوي نودعاده اوکه پرطريقه دکف (منعې) دمخاطب وي نونهی ده.

داقول دشارح په صفحه نمبر۶کې چي اقول په دې کې اشاره ده واداد شکرواجب ته، ځکه چي الله جل جلا له پرتادنظم دعلم نعمت وکړ يعنی ده ته يې علم ورکړپه نظم دعوااملو وکړ نوشکردمنعم خوواجب وي الله تعالی پرمنعم عليه چي ناظم دی اودوهم يې عمل کړی دی په قرآنکريم اوحديث او موافقت يې کړی دی له سلف سره بياپرناظم سوال کوي:

سوال: چي تاخوحمدنه دی ويلی بلکي حکايت دې له حمدڅخه کړی دی نوحکايت له حمدڅخه خوحمدنه وي.

جواب: دادی چي حکايت له حمدڅخه بعينه حمددی لکه نبی صلی الله عليه وسلم چي په حديثکې ويلې دي چي څوک له نيکۍ څخه حکايت کوي هغه لکه کوونکې دنيکۍ داسي دی نوخلاصه داسوه چي ناظم مخالف نه سو.

پردې قول دشارح چي الحمد مصدرحاشيې والاسوال کړی دی:

سوال: دادی چي داخوتعريف دشی دی په خپل نفس سره، ځکه تحميد خپله مصدردی نوداداسي سولکه زه چي ووايم مصدرڅه شی دی ته ووايې چي مصدرمصدردی يازه ووايم چي انسان څه شی دی ته ووايې چي انسان انسان دی نوددې سوال دوه جوابونه دي:

۱ جواب: دادی چي له تحميد څخه لفظ دتحميد مراددی مثلا لفظ دضربامصدر دی لفظ دقولا مصدرذی نوتعيريف دشی په خپل نفس راغی.

۲ جواب: هغه داچي مصدرکلی دی يوجزء يې تحميددی بل جزيې ضربا دی بل يې قولادی بل يې بيعادی مثلا نوداحمل دکلی دی پرجزئی لکه حمل دانسان پرزيدلکه ته چي ووايې زيدانسان.

پردې قول دشارح چې [فهو عطف] محشي سوال کړی دی:

سوال : دادی چې ته وایې چې درودمصطفی عطف پرخداوندی نوحرف عطف خوپه عطف کې ضروري دی په مابین دمعطوف کې چې درود دی اودمعطوف عليه کې چې خداوند دی اودلته نسته نوبیایې بیرته جواب ورکړی دی:

جواب : دادی چې حرف عطف ضروري دی امالیکن په عربي کې نه په فارسي کې داخوفارسي دی دوهم جواب یې په منع سره ورکړی دی:

جواب : چې اوس هم عطف م وجوددی دسجعې لپاره حذف سوی دی اوداقول دشارح اصله مصطفی داخبره بناده پرهغه قاعده چې په صرفوکې ذکرده فارجع اليها.

اوپه داقول دشارحتم الآل على قسمين صفحه ۷کې اشاره ده وجواب دسوال ته:

سوال : دادی چې عام علماء اصحاب هم ذکرکوي ناظم ولي نه دي ذکرکړی نوشارح آل تقسیم کړچي له آل څخه مطلق هغه [من آمن] مراددي نوکله چې مطلق مؤمن مرادسونوصحابه هم داخل سوذکرته یې اړتیاپاته نشوه.

داقول دناظم چې [رسول] جمهورعلماء وایې چې رسول خاص دی ترنبی ،ځکه له رسول سره تجدید دکتاب شرط دی په نبی کې داشرط نسته اوس نوپردې مذهب باندې سوال کیږي:

سوال : دادی چې په حدیث شریف کې راغلې دي چې رسولان (٣١٣) دي اوکتابونه (١٠۴) دي نوداخونه صحیح کیږي ،ځکه(١٠۴) په (٣١٣) باندې نه رسیږي.

جواب : دادی چې تجدیددکتاب عام دی که خپله پرده نازل سوی وي ،که په میراث ورپاته سوی وي نوبیاتعریف صحیح سواویامرادله تجدیدڅخه دکتاب نزول دی بیاصحیح نسو اوبعضی علماء وایې چې رسول اونبی مرادف دي والله اعلم وعلمه اتم.

دشارح داقول چې [خلق عظیم] بعضی محدثین وایې چې مرادله خلق عظیم څخه یوه ملکة (قوه) دی چې په محمدصلی الله عليه وسلم کې یې ثابته کړې ده

چې ددې قوې په وجه له محمدصلی الله عليه وسلم څخه افعال په سهولت (اسانتیا) سره صادریږي اودا افعال موافق له قرآنکریم سره وي داتفسیرله عائشی رضی الله عنها څخه منقول دی بعضې وایې چې له خلق عظیم څخه جود(سخا) فی الکونین (دواړوجهانونو) کې مراددی نوددنیاسخاخوعلم دی چې محمدصلی الله عليه وسلم پرموږکړی دی

اوداخیرت له سخاځخه شفاعت کبری دی اوبعضی وایې چي خلق عظیم دادی چي قرابت کول له هغه چاسره چي قرابت يې شکولی وي او عفوه کول وهغه چاته چي پرتاباندې يې ظلم کړی دي او... کول له هغه چاسره چي له تاسره يې بدکړې وي اوس نوحاشيې والاسوال کړی دی.

سوال: دادی چي خلق موصوف دی اوعظیم يې صفت دی اودانه صحیح کیږي ،ځکه موصوف جمع دی چي خلق دی اوصفت يې مفرددی چي عظیم دی سره له دې چي دصفت اوموصوف په مینځ کې موافقت شرط دی دلته داشرط نسته.

۱ جواب: دادی چي خلق هم مفرددی لکه عنق چي مفرددی اودعنق جمع اعناق دی لکه چي الله تعالی وایي: [فاضربوا فوق الاعناق] ترجمه: پرد... ووهئ) نوچي خلق هم مفرد سونوموافقت هم ثابت سو په مینځ دصفت اوموصوف کې.

۲ جواب: پرطریقه دتسلیم دی هغه دادی چي خلق جمع په تاویل دجماعت ده نوخلق هم مفردسوبیاموافقت راغی په مینځ دصفت چي لفظ دجماعت دی اوموصوف چي عظیم دی.

سوال: چي اوس بیاموافقت په تذکیراوتانیث کې رانغلی ،ځکه موصوف مؤنث سوصفت مذکرسو.

جواب: دادی چي عظیم فعیل په معنی دمفعول دی نوپه ده کې تذکیراوتانیث برابردي یعنی فعیل صفت دمذکرهم راځي اودمؤنث هم لکه [رجل جریح ، امرأة جریح].

په حاشیه کې یردلیل سوال کړی دی چي جواب يې واضح دی.

اوس نوناظم دمدح بیت ویلی دی شارح يې غرض بیان کړی دی هغه داچي صفت کول دمسلمان باچایوښه کاردی مفهوم دحدیث شریف يې رانقل کړی دی چي دهرمؤمن لپاره پربل مؤمن دخیردعاکول یوښه کاردی خاص بیادباچالپاره خوبیخي ښه کاردی.

دعلَم تقسيم

محشي علم درو(٣) اقسامو ته وېشلی دی ـ ١ اسم محضه ـ دوهم اسم لقب ـ دریم اسم کنیه: اسم محضه هغه بولي چي موراو پلار پر اېښی وي.

اسم لقب هغه دی: چي مدح فائده کوي لکه دمحمدصلی الله علیه وسلم لپاره چي ته ووايې سيد الانبياء نو دا مدح دمحمدصلی الله علیه وسلم فائده کوي یا ذم فایده کوي لکه چي ته چاته [تابط شرا] ووايې یعنی شردې په بغل کې رااخستی دی.

اسم کنیه هغه دی چي په سرکې يې [اب یاابن] راغلی وي لکه ابی یوسف یاابی الحسنات یاابن عباس رضی الله عنهما.

فارس دیوه غټ ښارنوم دی داپه تصرف دفارس بن بهلو ل کې وونو، ځکه يې فارس بولي په دې کې (۴) ښارونه وو ـ١ شیراز، ـ٢ کرمان، ـ اصفهان، ـ۴ یزد حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه ددې ځای ووچي محمدصلی الله علیه وسلم ته يې داحزاب په غزاکې دخندق مشوره ورکړې وه هغه صلی الله علیه وسلم قبوله کړه.

خوحاشيې والا دقیصرتعریف داکړی دی چي په رومي ژبه کې قيصرهغه کوچنی ته وايي چي لا پیداشوی نه وي موریې مړه سي بیايې دمورنس څیري سي کوچنی ژوندی ترې راوباسي ددې نوم قیصردی بیانوچي به دروم هرباچا کښېنوست هغه به يې قیصربالی وروسته شارح دغازي لفظ صیغه اوباب معلوم کړې دي چي خلاصه يې داده چي غازي اسم فاعل ناقص واوي دی له باب: دعايدعو دی خوکه په زاء سره وي نو جهادکوونکې ته وايې اوکه په ذال سره وي بیاطاقت پیداکوونکې ته وايې دلته اوله معنی مراده، ځکه په دې کې دباچا مدح راځي او مقام مقام دمدحې دی.

دجهادتقسيم

بیاشارح دجهادتقسیم کړی دی چي یوحقیقي هغه داچي له نفس اوشیطان سره يې مقابله وسي داجهاداکبردی، ځکه چي محمدصلی الله علیه وسلم چي کله داحدله غزاراغی نووي ویل چي موږ دجهاداصغرڅخه رافارغ سوو جهاد اکبرته

معزالدين

.تردې وروسته شارح دمعزالدین تعریف کړی دی چي داالفظ مرکب دی له دوو کلمو څخه یوه معز، بله دین دی اومعنی يې عزت ورکوونکی ده اوباب يې افعال دی اصل يې

معززدی اومضاعف ثلاثي دي بيا حركت دزاء رانقل سوبيا اوله زاء مدغم سوه په دوهمه کې له وجي دثقله ،ځکه دوه حرفه چي له يوه جنسه راسي په يوه کلمه کې داثقالت راولي پرژبه بياشارح وايې چي پردې قول سوال کيږي:

سوال : دادی چي معزدین نه صحیح کیږي ،ځکه عزت خوهغه ته ورکول کیږي چي محسوس وي يعني په سترگوليدل کيږي اودين خونوم داوامرو اونواهي ده الله تعالی دې اوامرخو غيرمحسوس دی يانوم دطريقې دی يادنورو داسي شيانونوم دی چي غيرمحسوس وي.

جواب : دادی چي په عبارت کې حذف دمضاف دی هغه مضاف لفظ داهل دی نوخلاصه داسوه چي [اهل الدين] باچاعزت ورکوونکی ووخاوندانوددين ته

بياظاهراپرلفظ دحسين چي په صفحه نه(۹) کې راغلی دی سوال کيږي:

سوال : دادی چي حسين لفظ پرحقارت دلالت کوي ،ځکه تصغيردی نودالفظ مناسب نه وونوشارح جواب ورکوي:

جواب: دادی چي له تصغيرسره حقارت لازم نه دی بلکي کله ،کله دتعظيم لپاره هم راځي لکه يعقوب عليه السلام چي يوسف عليه السلام ته ويل [يابنيّ لا تقصص رؤياک] اوغرض يې تحقيرنه ووبلکي تشفيق وو.

داقول دشارح چي السبط ددې لفظ دوې معناوې دي يوه داچي السبط لمسی ته وايې هغه نوعام دی که دزوئ زوئ وي .که دلورنودعبارت معنی داسوه چي تصغيرپه علم اونامه دباچاکې لپاره دتشفيق دی لکه په نامه دلمسی دمحمدصلی الله عليه وسلم کې چي تصغيرلپاره دتشفيق دی بله داچي السبط لفظ نوم دقبيلې دی نوپردوهمه طريقه دعبارت معنی داسوه چي دباچاپه نامه کې تصغيردتشفيق لپاره دی لکه په نامه دامام دقبيلې کې چي دتشفيق لپاره دی امام دقبيلې نوامام حسين رضی الله عنه وومگردوهمه معنی دالسبط افضله ده ،ځکه حضرت حسين رضی الله عنه امام دقبيلې هم وو.

داقول دشارح [وههنا بمعنی المفعول] په صفحه(۱۰) کې داجواب دسوال دی

سوال: دادی چي دين علم داحکامو په منزله وونواحکام خوذوات دي اودين له دان ،يدين ،دنيا له بابه ده په معنی دانقيادسره دی انقيادمصدرده صرف وصف دی نومعنی داسوه

چي احكام نفس انقياددی داخوحمل دصرف وصف دی پرذات اوحمل دصرف وصف پرذات غیرجائزدی.

جواب : دادی چي دغه سوال هلته کېدی که مصدرچي انقيادلفظ دی پرخپله مصدری معنی باقي پاته وای اوس خومصدرچي انقياددی په معنی دمفعول دی چي منقادة لفظ دی نواسم صفتی خوذات سره له وصف وي صرف وصف نه وي خلاصه داچي دلته حمل دذات سره له وصفه راغلی پرذات داروادی حمل دصرف وصف پرذات نه دی راغلی یعنی که مصدرپه معنی دمفعول نسي نومعنی داکيږي چي دين نفس انقياددی (غاړه ښوول) دي داخوغيرجائزدی ،ځکه دين خوهغه احکام دي چي دوئ ته غاړه ښوول کيږي اوکه مصدرپه معنی دمفعول سی بیامعنی بلکل صحیح ده.

په دغه صفحه نمبر۱۰) کې داقول دشارح چي [شبه الناظم السلطان] په دې کې غرض دشارح دادی چي ناظم باچامشابه کړی دی له لمرسره په استوااوبرابر والی کې یعنی لکه څنګه چي لمرپرفقيراوغنی برابرراخيژي دارازدباچاعدل هم پرفقيراوغنی برابروواود شبهې وجه ظهوروویعنی لکه لمرچي هرچاته ښکاره دی دارازدباچاعدل هم پرهر چاښکاره وو.

دشارح داقول چي [كناية عن الرحمة] داجواب دهغه سوال دی چي پردې قول دناظم چي ظل خداکیدی:

سوال : چي ظل خدايعنی باچاسایه ده الله تعالی ده نوالله تعالی لره خو قطعا سا یه نسته زیات تردې چي باچادې دالله تعالی سایه سي نوشارح جواب ورکړ:

جواب : چي مرادله ظل څخه رحمت دی نورحمت خويقيناالله تعالی ته ثابت دی اودليل دشارح پرخپله مدعی داحديث دې چي [السلطان العادل الخ.

داشارح داقول چي [وخداعلم لذاته تعالی بالفارسية جائزالاطلا ق عليه تعالی باجماع العلماء رحمهم الله تعالی داجواب دهغه سوال دی چي پردې قول دناظم کېدای چي خدا:

سوال : دادی چي دالله تعالی اسماء (نومونه) خوتوقيفي دي يعنی پرشرع موقوف دي اوخدااسم په شرع کې نه دی اوربدل سوی نوشارح جواب ورکوي:

جواب : چي خدااسم په شرع کې موجوددی ،ځکه په اجماع سره اطلاق دخدالفظ پرالله تعالی باندي صحيح دی نواجماع خوهم يودليل له دلائلوشرعيه ووڅخه دی خلاصه

داچي خداهم اسم له اسماؤتوقيفيه ووڅخه دی دوهم جواب داچي کوم الفاظ چي مرادف وي له لفظ دالله سره دهغوټولواطلاق شرعا پرالله تعالی صحیح دی ،ځکه دخدادلفظ معنی متحده ده له الله سره ولي ددواړو معنی موجودبذاته (پخپله موجود).

داقول دشارح چي [واماخداوند] داجواب دسوال دی:

سوال : دادی چي دخداونددلفظ اطلاق به پرغیرد الله تعالی جائزوي نوشارح ددې جواب په دې قول سره کوي:

جواب : چي [واماخداوندفکذلک] یعنی دخداوندلفظ اطلاق هم پرغیرد الله تعالی غیرجائزدی لکه دخدادالفظ اطلاق چي غیرجائزدی پرغیرد الله تعالی.

سوال : چي دخداوندلفظ داضافت اوعدم اضافت په وخت کې به وي.وي لکه دخدا یعنی لکه دخدااطلاق چي پرغیرد الله تعالی نه کیږي که مضاف وغیرته وي مثلا خداخانه که نه وي مثلا یوسړی خدانه بلل کیږي دارازبه خداوندلفظ هم.وي نوشارح په دې قول خپل سره جواب ورکړ:

جواب: چي الا فی الاضافة یعنی خداوندلفظ که مضاف غیرته ووبیایې اطلاق پرغیرد الله تعالی هم روادی لکهٔ خداوندخانه خلاصه داچي خداوندلفظ په وخت دعدم اضافت کې داسي دی لکه لفظ دخدااوپه وخت داضافت کې داسي نه دی لکه لفظ دخدا.

په صفحه (۱۱) کې شارح دواجب تقسیم کړی دی اوله واجب څخه متبادرواجب شرعي وي نوپه ترک دواجب شرعي خوسړی گنهکارکرځي سره له دې چي په ترک دمدحې دباچاسړی نه گنهکاري.ي نوشارح په دې قول خپل سره جواب ورکوي چي [والمرادههنا الآخیران] یعنی ناظم وایې چي مدح دسلطان پرخلکوواجب ده نومرادواجب استحسانی دی یاواجب عرفی نه واجب شرعي چي سوال واردسي.

سوال : چي دباچادمدحې اودعاوباچاته به فرق نه وي یعنی مدح اودعاکول وباچاته دواړه واجب استحسانی وي نوشارح په دې قول خپل سره جواب ورکړ:

جواب : [واماالدعاللسلطان الخ]صفحه نمبر۱۱ خلاصه داچي دعاکول وباچاته واجب شرعي دی.

دشارح له دې قوله چي [الفرض علی نوعین بیاتربدانکه ص ۱۲پوري] .شارح فرض څلورقسمه کړی دی اوبیامرادله دې لفظ څخه دناظم چي [بربنده زاده فرض عین] معلوم

کړی دی چي مرادله فرض څخه فرض اعتباردی دلیل دشارح دادی چي الله تعالی خومنعم حقیقی دی نوشکریې فرض.حقیقي دی او سلطان منعم مجازی دی نوشکریې فرض عین اعتباردی پرناظم ،ځکه ناظم له وزیرانو دسلطان وو.

په صفحه نمبر(۱۲) کې دشارح داقول چي [بدان که مرادازبنده اگرعبدالله باشد] دفع دتوهم ده خلاصه یې داچي له بنده څخه مراد خاماخابنده دالله تعالی دی اوس نوسوال نه کیږي اوکه مرادله بنده څخه مربیی دباچاسي اوس نوکه ناظم له آزادشدگانود سلطان ووبیاسوال نه کیږي اوکه مرادله بنده څخه مربیی سي اوناظم له آزادشدگانود باچاهم نه وي بیانوسوال کیږي چي ناظم خوغلام دباچانه ووبلکي وزیردباچاوونوناظم ولې ځان ته مربیی وایې جواب دادی چي مرادله بنده څخه معنی مجازي ده معنی مجازي دبنده تابعداري ده اوله حکایت څخه مرادتائیددجواب دمعنی دحکایت یې په ترغیب الصلوة کتاب کې راوړی دی (که روزی] یوه ورځ [هارون رشید] وزیردهارون رشید [درفقیه] په یوه فیصله کې [پیش امام ثانی] چي امام ابویوسف رحمه الله دی [شاهدی داد] [امام ابویوسف رحمه الله شهادت اورا] دده شاهدی رده کړه هارون رشیدپوښتنه وکړه چي دوزیردشاهدي دردولوسبب څه شی دی امام ابویوسف رحمه الله وویل چي یوه ورځ زه اوته په یوه مجلس کې سره ناست ووتاده ته یوکاروفرمایی نوده وویل چي زه ستابنده یم نوداخبره به له دووجهوخالي نه وي یابه دی پخپله خبره کې رښتیاگویه وي یابه دروغجن وي که رښتیاگویه وي نودمربیی شاهدي خونه قبلیږي اوکه دروغجن وي نوددروغجن شاهدي هم مردوده ده بیاهارون رشیدوویل چي که زه شاهدي ورکړم چي زه امام دمسلمانانویم نوته به زماشاهدي قبوله کړې یانه امام ابویوسف رحمه الله وویل چي نه هارون وویل چي ولې چي امام ابویوسف رحمه الله وویل چي ته تارک الجماعت (دجماعت پرېښوونکی) یې هارون وویل چي زه دمسلمانانوپه مصالحومشغول یم یعنی زه دمسلمانانوپه کارونوبوخت یم امام وویل چي [لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق] یعنی دبندگانوپه تابعداري که دالله تعالی ځان گنهگاره کول نسته نوهارون رشیدوویل چي دده پردروازه دې مسجدجوړسي چي دی لمونځ په جماعت پکي کوي نودشمه ملا صاحب رحمه الله وایې چي وگوره ددین امام ته څومره بې طمعې اوله خدایه ببرېدوونکی دی اوماوتاځرنگه یویعنی څومره طمع والااونه ویرېدوونکې یو.

په صفحه (۱۳) کې دشارح داقول چې [کلمه چون زائده والدعاء فاعل] ددې قول دشارح ده چې واجب نومعنی دبیت داسوه چې دعاپرخلګوواجب ده اوپربنده زاده فرض عین ده په فرض اعتباری سره اوله شهزاده لفظ څخه سلطان حسین مراددی اوسلطان حسین ته بې شهزاده وویل چې دته اعلی مرتبه حاصله سې یعنی دی هم باچاووپلارېې هم باچاووروسته شارح وایې چې صحیح دادی چې ناظم دده مدحه مشابه کړې ده له واجبوالي سره ددعادزوئ خپل سره اوکلمه دچون زائده ددتشبیه لپاره ده لکه.

په ص: ۱۴) قصیده کې چون دتشبه لپاره اوقصیده څوک لس بیتونه بولي اوڅوک بې اووه بیتونه بولي اوقصیده داسي قصیده وه خوشحالوونکې وه

[دبیت معنی پروازوکړپرباغ دکوڅې ستا: لکه بلبل خوپه دې شرط چې زماوږ ډېرې دحفامات کړل اوس نوځنګه والوزم نوپردې تقدیرمعنی دبیت داسوه چې مدحه دباچاحسین پرخلګوواجب ده اوپربنده زاده چې ناظة دی فرض عین ده لکه دوعاکول وزوئ دباچاته چې پرعاموخلګوواجب ده اوپرمافرض عین ده نوپردې احتمال فاعل دواجب مدحه سوه دوعانه ده.

سوال : چې ذکرکول د[مه ، صبح اوامسی] مستدرک (بې فائدې) دې ،ځکه دغه درې سره په کال کې داخل دي کال پرمشتمل دی نوشارح جواب ورکړ:

جواب : داچې په دې کې اشاره ده واستغراق ددعاته یعنی ټول عمرپرخلګودعا کول دباچاوزوئ ته واجب ده لکه پرماچې دعاکول ټول عمرواجب ده.

دنصرت دبیت معنی ظاهره ده عبدالرحمن غفرله الباری المعترف بالمعاصی.

ددې بیت اصلي مقصد شروع ده په ص ۱۵کې چې [عامل اندرنحو صدباشد]

دعامل تشریح

عامل په لغت کې په غیرکې اثرکوونکې ته وایې.

فائده : دعامل اثر(۴) دي ـ۱ جزم داخاص په فعل مضارع پوري دی په اسم کې نسي راتلای ـ۲ جر دابیاخاص په اسم پورې دی ـ ۳ رفع اونصب دابیامشترک دي په فعل اواسم دواړوک کې نودعامل اثرداڅلوردي اوپه اصطلاح کې بیاعامل یوداسي شی دی چې کلمه پریوخاص وجه ثابتوي یعنی یوخاص اعراب ورکوي مثلا زید ساکن دی خوچې

جاء پرداخل سي نوزيدته يې رفع ورکړه اوچي رأيت پرداخل سي نونصب ورکوي اوچي باء پرداخله سي نوجرورکوي مثلاً [جاء نی زيدٌ ، رأيت زيداً ، مررت بزيد]
عامل پردوه قسم دی: ۱- لفظي ۲- معنوي:
عامل معنوي هغه بولي چي په مبتدا وخبراو دمضارع په حال درفع کې معنوی دی خلاصه داچي په مشهوره مذهب کې عامل معنوی يو دمبتدا وخبردي بل دمضاع عامل معنوی دی په حال درفع کې.
دعامل معنوي په تعريف کې اختلا ف دی ابن حاجب وايې: چي عامل معنوي هغه بولي چي په لفظ کې حصه نلري يعنی په لفظ کې نه وي ذکرکه بيخې په لفظ کې نه وي هم معنوي دی اوکه خالي په لفظ کې نه وي تقديراموجودوي هم معنوي دی لکه [فی الدار] دفی الدارعامل تقديراموجوددی چي [ثبت] دی او په لفظ کې نسته.
اومولنا عبدالرحمن جامی رحمه الله وايې چي عامل معنوی هغه دی چي نه په لفظ کې حصه لري اونه مقدروي لکه [هذازيد] دزيد عامل نه په لفظ کې سته اونه مقدردی خالی له هذاڅخه فهميږي هغه داچي له هاڅخه [أنبّه] فهميږي اوله ذاڅخه [اشير] فهميږي نو [انبه او اشير] خونه په لفظ کې سته اونه مقدرپه نظم دکلام کې.
نودهذازيد عامل ددواړو پرمذهب معنوي دی ،ځکه نه په لفظ کې حصه لري لکه مذهب دابن حاجب اونه مقدردی لکه مذهب دامام جامی رحمه الله نو ،ځکه په دې مثال کې دواړه سره متفق دي اود [فی الدارقائم] عامل په مذهب دابن حاجب معنوی دی ،ځکه په لفظ کې حصه نلري که څه هم مقدرخوموجوددی اوپرمذهب دعبدالرحمن جامی رحمه الله لفظی دی ،ځکه عبدالرحمن جامی رحمه الله خوعامل معنوی هغه بولي چي مقدربه هم نه وي داخومقدرموجوددی اود [ضربت زيداً] عامل ددواړوپرمذهب لفظی دی.
په صفحه ۱۵کې دشارح پردې قول چي (والبناء) حاشيې والاسوال کړی دی چي اثردعامل خوخالي اعراب دی بنانه ده نوذکرکول دبنابېله فائده ده نوجواب يې داورکړی دی چي ذکردبنااستطراداً دی يعنی طبعاً دی ،ځکه که طبعاً نسي نوبيابه هم نوع داعراب سي سره له دې چي بناخونوع داعرات نه ده.

دشارح داقول چي [وهذه التعريف لمطلق الخ] داجواب دسوال دی

سوال : هغه داچي تاولې مخالفت وکړله تعريف مشهوردعامل څخه تعريف مشهورخودادی چي عامل خو[مابه يتقوم المعنى المقتضى للا عراب] لكه داتعريف چي ابن حاجب په کافيه کې کړی دی.
جواب : دادی چي شارح دمطلق عامل تعريف کړی دی که عامل داسماؤوي که دافعالووي اوابن حاجب تعريف داسم عامل کړی دی نومخالفت نه راغی ،ځکه چي دمطلق عامل تعريف دجمهوروپرمذهب همدغه دی چي شارح کړی دی يعنى عامل يوشی دی چي په سبب دده سره يوه معنى حاصليږي په اسم معرب کې داسي معنى چي دامعنى تقاضاکوي ديوه خاص اعراب مثلا جاء نی زيد ، رأيت زيداً ،مررت بزيدٍ جاء عامل دی داتقاضاکوي ديوې معنى چي فاعليت دی اوفاعليت تقاضاکوي ديوه خاص اعراب چي رفع ده نوپه جاء نی زيدکې جاء عامل دی په زيدکې يې معنى دفاعليت حاصله کړه اوفاعلية تقاضادرفع کوي نوزيدمرفوع سووعلى هذاالقياس اوس نوحاشيې والاسوال کړی دی:
سوال : دادی چي هرڅوک چي په يوه علم کې شروع کوي نوهغه به تعريف ، موضوع ، غرض ددې علم پيژني ،ځکه چي تعريف ونه پيژني نوداسړی به طالب (طلب کوونکی) دمجهول مطلق سي اوطلب کول دمجهول مطلق ناروادی اوغرض که ونه پيژني نوسعی اوکوشش به يې عبث سي ،موضوع که ونه پيژني نوبيابه ديوه علم اوبل علم په مينځ کې فرق نسي کولای يعنى دهغه علم چي ده شروع پکي کړې وي اودبل علم په مينځ کې به جلا والى نسي کولای ،ځکه يوعلم چي جلا کيږي له بل علم څخه نوپه موضوع جلا کيږي محشي جواب ورکړی دی:
جواب : دادی چي په حقيقت کې دغه سوال اوجواب ته ضرورت نسته ،ځکه په دې بله صفحه کې چي ورقه راواړوي شارح خپله غرض په وجه دتسميې دنحوې کې دذکرکړې ده اوپه اصطلاحي معنى دنحوې کې يې تعريف دنحوې کړی دی خالي موضوع يې صراحتا نه ده ذکرکړې هغه له تعريف دعلم نحوې معلوميږي چي موضوع يې کلمه اوکلام دي خوچي شارح غرض دنحوې په صفه (۱۲) کې په [صيانة الذهن المبتدى] سره بيان کړنوحاشووالاسوال کړی دی چي خطا لفظي په الفاظوکې کيږي او الفاظ خوپه لسان سره ويل کيږي نوبايدچي شارح [صيانة اللسان] ويلى وای ددغه سوال حاشيې والادوه

جوابه کړې دي يوداچي خطااوس هم په ذهن کې واقع کيږي په ژبه کې نه واقع کيږي ،ځکه چي ذهن خطاسي نوژبه خامخاخطاکيږي اوچي ذهن له خطاوساتل سي نوژبه هم نه خطا کيږي نوپردې تقديرتلفظ کوونکی ذهن سوژبه نه سوه نو .ځکه ده صيانة الذهن ووايو .صيانة اللسان يې ونه وايودوهم جواب داچي دلته حذف دمضاف دی چي لفظ د [مبين] نومبين خوبيرته ژبه ده ذهن نه دی نوګواکي شارح اوس هم صيانة اللسان ويلی دي داسوال اوداوه جوابه دهداية النحوي په(۴) صفحه په حاشيه کې هم ذکردي

پردې قول دشارح چي [يعرف بهااحوال اواخرالکلم الثلث] حاشيې والاسوال کړی دی:

سوال : هغه داچي ته وايې په دې علم نحوسره احوال داخيرددې (۳) کلموپيژندل کيږي نوداخبره به خالي نه وي يابه ټول احوال مرادوي ،يابه بعضی احوال مرادوي اوس نوکه ټول احوال مرادسي نوبايدچي په ټوله دنياکې هيڅ سړی نحوې نه وبلل سي ،ځکه علم پرټولواحوالو داخيردکلموخاصه ده الله تعالی ده انسان ته ټول احوال دکلمې نسي حاصلېدای اوبل داچي دانوشته سوې نحوپه کتابوکې دانحوه نه وبلل سي ،ځکه چي په دې نويشه نحوه خوبعضی احوال دکلمې پيژندل کيږي ټول نه پيژندل کيږي نوټول احوال نسي مرادېدای اوکه بعضی احوال مرادوي نوبايدچي يوسړی لس مسئلې دنحوي يادکړي نحوي جوړسي ،ځکه ده ته هم پربعضي احوالودکلمې علم حاصل دی اوسره له دې چي په عرف اواصطلاح کې دې سړی ته نحوي نه وايې نوحاشيې والاجواب په دې سره ورکړی دی:

۱جواب : چي له احول څخه ټول احوال دکلمې مراددي خوبالفعل به نه وي ورته حاصل بلکي يوملکة (قوی) به ورته حاصله وي چي ددې ملکې په وجه به داسړی قدرت لري پرپيژندلودټولواحوالودکلمو.

۲جواب : يې داکېدای سي چي مرادټول احوال دي خوپه طاقت بشري سره يعنی هغه احوال به ټول پيژني چي دميانه انسان په قدرت پيژندل کېدای سي دغه سوال اوجواب هم دهداية النحوي په حاشيوکې ذکردي.

اوپه صفحه(۱۷) کې داقول دشارح چي [ولماکان قول سيبويه داجواب دسوال دی:

سوال : دادی چي داخفش په نزدعوامل(۱۰۱) سوه نوناظم ولې صد(سل) وويل

جواب : شارح جواب ورکړی دی چي دناظم په نزددسبویه قول معتبر وو، ځکه یې سل وویل.

دشیخ تحقیق

پردې قول دشارح چي عبدالقاهرحاشیې والابیان دشیخ کړی دی یوه یې داخبره کړې ده چي دلته مرادله شیخ څخه شیخ په علوم دینیه ووکې نه دی مراددلته مرادله شیخ څخه په علم نحوکې مراددی لکه سیبویه یااخفش یاابن جنی یاجارالله زمخشری حاشیې والاوایي داټول معتزله وولیکن اصل خبره داده چي عبدالقاهرمعتزلي نه ووخوخیردحاشیې غرض هغه ووچي مخته تیرسوو الله اعلم بمرادعباده خودومره اندازه په فکرکې لرئ چي شیخ په لغت کې سپین ږیري ته وایې اوسردارته وایې چي په فارسي یې پیراوخواجه بولي اوپه اصطلاح کې څوک وایې چي (۵۵) کلونوته رسېدلی وي نوداشیخ بولي ،څوک وایې چي په هرعلم کې یې یو، یوکتاب جوړکړی وي ،څوک وایې چي جامع المعقولات والمنقولات وي یعنی هم په عقلي علومو(لکه منطق اداسي نورو) پوه وي اومنقولات لکه قرآن ، حدیث نوچي په دې دواړوپوه وي نوشیخ دی خیرخومختلف اقوال راغلې دي اوس نوچي په نحو،معانی اوبیان کې شیخ ذکرسي مرادځیني عبدالقاهردی اوچي په حکمت کې ذکرسي مرادځیني ابوعلی ابن سینادی اوچي په منطقوکې ذکرسي مرادځیني امام فخرالدین رازی دی اوچي په حدیثوکې ذکرسي مرادځیني محمداسماعیل بخاري رحمه الله دی دابیان په ایساغوجی کې دی خوحاشیې والادلته هم اجمالا بیان کړی دی.

سوال : پربیت سوال کیږي چي تاولې معنوی مخته کړل مناسب خوداووچي لفظي دې مخته کړې وای ،ځکه مفهوم دلفظي وجودي دی ولې لفظي دامعنی چي سړی هم په زړه کې پوهیږي اوهم تلفظ په کولای سي مثلا [جاء نی زید] جاء عامل دی تلفظ هم په کیږي اوپه زړه کې هم معلومیږي چي عامل دی اومعنوی دامعنی چي تلفظ نه په کیږي خالي په زړه کې سړی ته معلومیږي لکه عامل دمبتدااوخبر،ځکه چي دوئ دواړه رفع لري نورفع خوبواثردی اثرخوخامخوا مؤثرغواړې چي هغه عامل دی اوعامل په لفظ کې نسته نومعلومه ده چي په تقدیرکې موجوددی ،ځکه اثرخوبلا مؤثره نه وي خیرخوچي لفظي وجودي سواومعنوي عدمی سونووجودخوترعدم اشرف وي.

- ۲ جواب : محشي داورکړی دی چي معنوي لږدي ترلفظي نومعنوي پرمنزله دجزء سو اولفظي په منزله دکل سونو جزء خوترکل مقدم وي په طبع کې نوپه ذکرکي يې هم مقدم کړچي موافقت دذکرله طبعې سره راسي.

- ۲ جواب : دادی چي رعايت دسجعې دبيت يې کړی دی ،ځکه چي معنوي مقدم سي نو دبيت سجع به برابره سي.

په بيت کې داقول دشارح چي [شد سماعی وقياسی] پردې قول محشی سوال کړی دی:

سوال : دادی چي مناسب خوداووچي قياسي يې مخته کړې وای ،ځکه دقياسي مفهوم وجودی دی قياسي دامعنی چي دعربواوزبدل سوی وي موږنورهم پر قياسولای سو نودادي دقياسي په مفهوم کې نفی نسته اودسماعی په مفهوم کې نفی سته ،ځکه سماعی دامعنی چي له عربواورېدل سوی وي نوږنه پرقيا سيږي نودسماعی په مفهوم کې نفې راغلې نوعدمی سوخلاصه داچي سماعی عدمی سواوقياسي وجودی سونووجودخواشرف وي ترعدم نوناظم ولې عدم مخته کړی دی چي سماعی دی پروجودي چي قياسی دی نومحشی دوه جوابه ورکړې دي:

- ۱ جواب : چي سماعي ډيروو ،ځکه (۹۱) سماعي دي اوقياسي (۹) دي نوعزت تکاثر(ډيروالې) ته وي.

- ۲ جواب : داچي سماعي هم پراسماؤداخليږي اوهم پرافعالواوپه دواړوکې عمل کوي اوقياسي خالي پراسماؤداخليږي پرافعالونه داخليږي نوسماعي قوي سوترقياسيوو نو ،ځکه ناظم مخته کړل.

په صفحه (۱۸) کې داقول دشارح چي (آن لفظي الخ)نومحشی فرق کړی دی دسماعي اوقياسي چي قياسی دادی چي که چيري عامل داسم وونوداعمل به کوي مثلا مضاف عامل دی په مضاف اليه کې خومضاف عامل قياسی دی نوچي وويل سي چي [غلام زيد] اوداول جزء چي مضاف دی اثريې معلوم سي په دوهم جزء کې چي مضاف اليه دی اوس نوداول جزء اثرخوجرووداودې جرعلت هم معلوم سي چي علت يې اضافت دی يعنی داجرپه مضاف اليه کې په وجه داضافت سره دی اوس نوسړی ويلای سي چي به هرترکيب کې چي اضافت موجودوي مضاف اليه به مجروروي مثلا [داربکرياثوب عمرو] اوسماعی دادی چي سړی ويلای سي چي داعامل فلانی عمل کوي خونورنه سي

پرقیاسو لای مثلا حروف جاره دې جرورکوي حروف جازمه دجزم عمل کوي نورحروف پردوئ دومره قیاسیږي دافرق دسماعي اوقیاسي دی بل فرق دادی چي دعامل قیاسي افرادتفصیلا ترحساب نه لاندي کیږي مثلا دمضاف افرادنه دي معلوم چي څومره دي او دسماعی افرادترحساب لاندي کیږي چي (۹۱) دي یعنی دابل فرق سواوس شارح خپله سوال کړی دی:

سوال : دادی چي ناظم لفظي تقسیم کړی دی وسماعي اوقیاسي ته نومعنوی خوهم دغودووته تقسیمیږي نوناظم ولې نه کړتقسیم.

جواب : خلاصه داچي مطلق عامل مقسم دی لفظي اومعنوي یې اقسام دي اوس نوداقاعده ده چي په تقسیم دقسم سره تقسیم دمقسم راځي نوناظم چي لفظي تقسیم کړسماعي اوقیاسي ته نومطلق عامل تقسیم سوپه ضمن دلفظي کې په دې وجه چي مطلق په ضمن دلفظي کې وونولفظي خوتقسیم دی مطلق هم تقسیم سو، ځکه چي دی خوپه ضمن دلفظي کې دی نوچي مطلق په واسطه دلفظي تقسیم سوسماعي اوقیاسي ته نودارنګه مطلق عامل تقسیم سودغودووته په ضمن دمعنوی کی نومعنوی هم تقسیم سوسماعي اوقیاسي ته خلاصه داچي په واسطه دلفظي مطلق عامل تقسیمیږي سماعي اوقیاسي ته، ځکه مطلق په ضمن دلفظي کې وونومطلق په ضمن دمعنوی کې هم تقسیم سولکه په ضمن دلفظي کې چي مطلق تقسیم سوی وو، ځکه مطلق په ضمن دمعنوي کې هم موجوددی نوچي مطلق تقسیم سونومعنوي تقسیم سو.

داجواب ضعیف دی، ځکه چي تقسیم دقسم مستلزم تقسیم لره هغه مقسم لره دی چي هغه مطلق اومقسم په ضمن ددغه قسم کوي چي داتقسیم سوی دی مطلق مقسم لره نه دی مستلزم یعنی دانه دی ضروري چي تقسیم دقسم راسي نوبه هغه مطلق هم تقسیمیږي چي په ضمن ددغه تقسیم سوی قسم کې ده اوهغه مقسم اومطلق به هم تقسیمیږي چي په ضمن ددې تقسیم سوې قسم کې نه دی په ضمن دبل قسم کې ده بلکي په تقسیم دقسم سره هغه مقسم تقسیمیږي چي په ضمن ددغه تقسیم سوې قسم کې ده مثلا په تقسیم دلفظي سره هغه مطلق تقسیمیږي چي په ضمن دلفظي کی ده هغه مطلق نه تقسمیږي چي په ضمن دمعنوي کې ده نومعنوی نه سوتقسیم نوسوال بیرته راوګرځیدی نو، ځکه شارح دوهم جواب ورکوي چي معنوي بیخي نه تقسیمیږي بلکي خالي قیاسي دی، ځکه

معنوی عامل خودمبتداء اوخبردی نومبتداء اوخبرخوترقاعده لاندي وي چي قاعده نو [کل فاعل مرفوع] دی تردې قاعده لاندي دی اوهرڅوک چي ترقاعده لاندي وي هغه قیاسي وي نوعامل دمبتداء اوخبرقیاسي سواوس نومحشی سوال کړی دی چي مبتداء اوخبرخوفاعلان نه دي نوځنګه به ترقاعده لاندي سي د [کل فاعل مرفوع] نومحشی جواب ورکړی دئ چي مبتدااوخبرکه حقیقة فاعلان نه دي حکما خوفاعلان دي .ځکه دوئ هم یورکن د.کلام دي یعنی کلام ددوئ څخه مرکب کیږي لکه د [زید(مبتدا) قائم (خبر)] لکه فاعل چي رکن دکلام دی مثلا [ضرب] یورکن دی [زید] بل رکن دکلام دی نومبتداء اوخبرفاعلان حکمي سومګرپردې جواب داسوال کیږي چي باید فعل چي ضرب دی داهم فاعل سي ،ځکه داهم رکن دکلام دی سره له دې چي فعل خوفاعل نه سي کیدای خوحق جواب داده چي فاعل حکمي دانه دی چي رکن دکلام به وي بلکي داده چي په ده کې خاصه دفاعل حقیقي موجوده وي نوپه مبتدااوخبرکې هم خاصه دفاعل حقیقي موجوده ده اوس نوخاصې دفاعل حقیقي دوې دي یوه خاصه دفاعل داده چي فاعل به محکوم علیه وي په کلام کې بله داچي فاعل به مؤخر وي په کلام کې اوس نوپه مبتداء کې اوله خاصه دفاعل موجوده ده ،ځکه مبتدا هم محکوم علیه ده اوپه خبرکې دوهمه خاصه دفاعل موجوده ده ،ځکه فاعل هم مؤخروي په کلام کې بناپراصل ،ځکه اصل په خبرکې تأخیردی نوخلاصه داچي مبتدااوخبرفاعل حکمي دی اوداخبره چي موږکووچي فاعل حقیقي دوي خاصې لري داخبره ثابته ده .ځکه ابن حاجب وایي [ومنه الفاعل وهوماسند الیه الفعل اوشبهه وقدم علیه] فاغتنم هذاالبیان لعلک لاتجدهافی اکثرالمواضع عبده عاصی غفرله الباری.

په صفحه (۱۸) کې دشارح داقول چي [علی ثلاثة عشرة نوع] پردې قول سوال کیږي:

سوال : هغه داچي دغه دیارلس (۱۳) نوعي تقسیمول داپه دې وجه دي چي هرڅومره سماعي عامل په عمل کې سره متحدوي نودابه یوه نوع وي که داسي نو بایدچي افعال ناقصه اوماولامشبهتان یوه نوع سي ،ځکه دوئ په عمل کې سره یودي اسم ته رفع ورکوي خبرته نصب ورکوي سره له دې چي دوئ هریوجلا ،جلا نوعې دي یوه نوع نه دي اوکه په دې وجه ۱۳ نوعي سي چي هرڅومره سماعی حروف وې دابه یوه نوع وي اوکه افعال وي دابه بله نوع وي اوکه اسماء وي دابه بله نوع وي نوبایدچي حروف جاره

اوحروف مشبه بالفعل يوه نوع سي ،ځکه دواړه حروف دي سره له دې چي دوئ جلا ،جلا نوعې دي يوه نوع نه دي اوكه په دې وجه تقسيم سي پر۱۳ نوعې چي دځومره سماعيو ومدخول يوونو دابه يوه نوع وي نوبايد چي حروف جاره اوافعال ناقصه يوه نوع سي ،ځکه مدخول ددواړو اسم دى سره له دې چي جلا ، جلا نوعې دي.

جواب : دادى چي ځومره سماعي په دې درې سره ووكې سره برابروودايوه نوع ده نودغه ۹۱ سماعي ۱۳كيږي اوپه اته سوه داخبره چي افعال ناقصه اوماولا مشبهتان كه څه هم په عمل كې يودى خوپه فعليت اوحرفيت كې يونه دى ،ځکه افعال ناقصه ، افعال دي اوماولا حروف دي اوموږويل چي ځومره سماعي عوامل په عمل اوحرفيت ،اسميت ،فعليت اومدخول كې سره يووي نوداسماعي عوامل يوه نوع كيږي يعنى په يووالي دنوع كې دادرې سره شرط دي چي دغه درې سره (عمل ،حرفيت ، اسميت ،فعليت اومدخول دي اوكه له دې دروڅخه يونه وونوبيايوه نوع نه جوړيږي دارازحروف جاره اوحروف مشبه جلا ،جلا نوعې دي ،ځکه كه څه هم په حرفيت كې سره يودى مگرپه عمل كې سره جلا دي نوشرط ديووالې دنوع نه سوموجودنو ،ځکه جلا ، جلا نوعې سوې اوحروف جاره اوافعال ناقصه كه څه هم په مدخول كې سره يودي چي ددواړومد خول اسم دى مگرپه ذات كې سره جلا دي ،ځکه حروف جاره حروف دي افعال ناقصه افعال دي نوبياشرط ديووالي دنوعې نسو موجود:

سوال: اوس نوسوال كيږي چي اتحادپه عمل كې خوشرط وواواسماافعال په عمل كې نه دي متحد ،ځکه چي په معنى دامروي نواسم ته نصف وركوي بناپر مفعوليت اوچي په معنى دماضي مجهول وي اسم ته رفع وركوي بناپرفاعليت نوچي نه سوه متحد نوبايد اسماافعال يوه نوع نسي اودوئ يوه نوع دي.

جواب: دادى چي دوئ كه څه هم په عمل كې مختلف دي مگرپه ذات كې يودي ،ځکه ټول اسماء دي نودوې نوعې نسوې يوه نوع سومحشى همدغه جواب كړى دى والله تعالى اعلم بحقيقة الحال.

په صفحه (۱۹) كې دشارح ددې قول چي [انماانحصرالمصنف رحمه الله] غرض دادى چي يووالى دنوعې په اتحاددعمل سره دى يعنى چي دځومره سماعي عاملانوعمل يې وي دابه يوه نوع وي اوس نود(۱۷) حروف جاره عمل يوويعنى پراسم داخلېدل اووروسته

يې ټولو جرورکوي نودا(۱۷) حروف جاره يوه نوع سودرازاد(۲) حروفو مشبه بالفعل عمل يووچي اسم ته يې نصب ورکوو خبرته يې رفع ورکوله نودا(۲) حروف مشبه بالفعل يوه نوع سو.

سوال : اوس محشى سوال کوي چي افعال ناقصه اوافعال مقاربه خوپه عمل کې متحددي بايدچي يوه نوع سي ،ځکه دواړه اسم ته رفع ورکوي خبرته نصب سره له دې چي دوئ دوې نوعې دي يوه نوع نه دي.

جواب : دادی چي دنوعې ديووالي لپاره يوازي اتحاددعمل نه دی کافي اتحاد په مدخول کې هم غواړې يعنی ته چي څومره سماعي عاملان يوه نوع بولي دابه اتحاد په عمل کې هم سره لري اوپه مدخول کې هم اوافعال ناقصه اوافعال مقاربة که څه هم په عمل کې سره متحددي خوپه مدخول کې سره جلا دی ،ځکه افعال ناقصه پرمبتدااوخبرداخليږي مګرخبربه جمله نه وي غالبا اوافعال مقاربه هم پرمبتدااوخبرداخليږي مګرخبريې غالباجمله وي ياداجواب دی چي بيخي اوس هم افعال ناقصه او افعال مقاربه يوه نوع دي پرمذهب دسبيويه دوې نوعې نه دي.

بل سوال : يې داکړی دی چي حروف جوازم لکه [ان ولم الخ] اوکلمات دشرط خوپه عمل کې سره يودي چي دواړه جزم کوي په مدخول کې نوبايدچي دواړه يوه نوع سي اودوئ يوه نوع نه دي.

۲جواب : دادی چي دنوعې يووالی چي په اتحادپه عمل کې غواړې په ذات کې يې هم غواړې يعنی په عمل اوذات دواړوکې به سره يووي نوبه يوه نوع وي اوس نوحروف جازمه اوکلمات دشرط که څه هم په عمل کې سره متحددي مګرپه ذات کې سره جلا دي ،ځکه حروف جازمه حروف دي اوکلمات دشرط اسماء دی سوال: محشى سوال کړی دی چي اسماء عدد(۳) قسمه عمل کوي نوبايدچي درې نوعې سي يعنی په عمل کې سره مختلف دي ،ځکه له دروچي يې واخلې تر(۱۰) لسوپورې په خپل مدخول کې عمل دجرکوي ،ځکه له دروتر(۱۰) لسوپوري ددوئ تميزمجروراوجمع وي اوله ۱۱څخه بياتر ۱۹ پورې عمل دنصب کوي ،ځکه ددوئ تميزمفرد، منصوب وي ا وله (۲۱) ترغيرنهايې پورې عمل دجر کوي ،ځکه ددوئ تميزمجرورمفردوي نوچي په عمل کې سره يونه سونوبايد چي يوه نوع نسي بلکي(۳) نوعې سي اودوئ يوه نوع دي.

جواب : دادی چي اوس هم په عمل کې سره یودي مختلف نه دي ،ځکه مقتضی اصلي دټولویوه ده چي تمیزده نوتمیزخوله منصوباتوڅخه دی یعنی په اصل کې دا(۳) سره وو تقاضایوه وه چي هغه نصب ورکول ووتمیزنه مگرپه استعمال کې دوئ څوک په نوع ثامن کې داخل سو ،څوک په مضاف کې داخل سوخلاصه داچي په اصل کې دوئ سره متحدوو دا استعمال په وجه مختلف سواستعمال خومعتبرنه دی نوچي اتحاددعمل يې راغی نوخودیوه نوع سو.

سوال : محشی سوال کړی دی چي اسماافعال په عمل کې مختلف دي دوئ یوه نوع وګرځي یعنی په اسماافعالوکې یوشرط نیستي دی چي هغه اتحاددعمل دی پرهغه سربېره دوئ یوه نوع سواوپه افعال ناقصه اومقاربه ووکې هم یوشرط نیستي دی چي مدخول وولکه مخته چي ذکرسواودوئ یوه نوع ونه ګرځي ده نوداخوترجیح بلا مرجح ده ترجیح بلا مرجح خوغیرجائزدی.

جواب : دادی چي رشتیاهم په اسماافعالوکې یوشرط نیستي دی چي اتحاددعمل دی اوپه افعال ناقصه او افعالومقاربه ووکې هم یوشرط نیستي دی چي هغه اتحادپه مدخول کې دی یعنی په مدخول کې سره جلا دي مګرداتحاد دعمل یوشرط ضعیف دی اواتحاددمدخول اواتحاددذات قوي شرطونه دي اوس نوپه افعال ناقصه اومقاربه ووکې قوي شرط دیووالي دنوع نیستي سونو خوددوئ دوې نوع سواوپه اسماء افعالوکې ضعیف شرط دیووالي دنوعې نیستي سونو ،ځکه یوه نوع سو.

په صفحه(۱۹) کې دشارح داقول [من غیررعایة نوع] داجواب دسوال دی:

سوال : دادی چي سماعی پخپله نوع دعامل لفظي ده نودنوعې لپاره خوبله نوع نه وي مثلا انسان نوع دحیوان ، حیوان جنس دی نودانسان لپاره خوافرادوي لکه زید ،عمر ،خالدانواع نه وي نودلته هم عامل لفظي جنس دی یوه نوع یې سماعی بله نوع یې قیاسی دی نوناظم څنګه وایې چي سماعی(۱۳) نوعې دي.

جواب: داچي دغه سماعی په اعتباردنوعې نه اخلوبلکې په اعتباردجنس یې اخلو.

په صفه(۲۰) کې دشارح داقول چي [خمسة منها الخ] کله حروف وي ، کله اسماء وي اوس نوچي پر[عن اوعلی] باندي لفظ دمن داخل سي نوعن اوعلی اسماء دي اوکه لفظ

دمن نه وو بيا حروف دي او كه پر كاف تشبه عن داخل وي بيا په معنى دمثل سره دى لكه په دې شعر كي:

[بيض ثلا ث كنعاج: يضحكن عن كاالبرد المنهم (اى مثل برد)]

ترجمه: درې (۳) سپينې ښځې چي مشابه وي له هغې هوسى سره چي ښكرونه لري: داسي يې خندل لكه ويلې سوې ږلۍ يعنى غاښونه يې لكه ږلۍ داسي وو.

نو خلاصه داچي هرځاى چي پر كاف عن داخل وي په معنى دمثل ده اسمى ده او كه نه وو پر داخل بيا حرفي ده او [مذ او منذ] كله دابتداء لپاره راځي په هغه وخت كې چي ته په دوئ سره زمان حاضر اراده كړي اوس نو كه ددوئ مدخول مجرور وو نو دوئ حروف دي او كه يې مدخول مجرور نه وو نو دوئ اسمونه دي چي او پر عن لفظ من داخل سي لكه من عن يمينك نو عن اسم دى وځكه په دې وخت كې دى په معنى دعنده دى عنده خو اسم ظرف دى او چي پر على من داخل سي لكه من على سطح اى فوق سطع نو على په معنى دفوق ده او فوق اسم ظرف دى خلاصه داچي پر عن او على چي من داخل سي دوئ اسم دي كه نه وو پر داخل نو حروف دي او پر كاف كه عن داخل وو په معنى دمثل سره وو نو اسم دى او كه نه وو حروف دي.

او د [مذ او منذ] كه مدخول مجرور وو نو حروف دي كه نه وو نو اسماء دي عبد الرحمن غفرله الديان.

په صفحه (۲۱) كې دشارح داقول چي [ولماكان الحروف كثيرة الانواع فلذاقدمها] جواب د سوال دى:

سوال: دادى چي ولي يې حروف پر اسماؤ او افعالو مخكې كړل سره له دې چي اسم خو اشرف دى ترفعل او حرف، ځكه له ده څخه يوازي كلام جوړيږي يعنى مسند اليه او مسند دواړه راتلا ى سي او فعل هم ترحرف اشرف دى ،ځكه مسند خو راتلاى سي حرف خو مسند هم نه راځي او نه مسند اليه راځي نو بايد چي ناظم اسماء مخكې كړې واى.

جواب: نو شارح جواب وركړچي دحروف نوعې ډيرې دي نو ،ځكه ده حروف مخكې كړل عزت ډيروالې ته وي بيا شارح تقسيم كړى دى چي يو داسي قسم حروف دي چي پر دوو شيانو داخليږي لكه حروف مشبه بالفعل بل داسي قسم حروف دي چي پر يوه شى داخليږي اوس نو چي پر يوه شى داخليږي هغه يې مقدم كړل پر هغه چي پر دوو داخليږي

،ځکه دوه خوفرع ديوه دي نوعامل ددوهم فرع دعامل ديوه ده اوهغه حروف چي پريوه شى داخليږي دابياپردوه قسمه دي يوداچي پراسم د اخليږي بل داچي پرفعل داخليږي اوس نوچي پراسم داخليږي دايې مقدم کړل پرهغوچي پرفعل داخليږي ،ځکه اسم خواصل دى ترفعل نوعامل داسم هم اصل دى ترعامل دفعل.

اوپه صفحه (۲۱) کې داقول دشارح چي [ثم مايدخل الخ] جواب دسوال دى:

سوال: دادى چي حروف جاره اوحروف نداخودواړه پراسم داخليږي اوناظم حروف جاره مخکې کړل پرندانوداخوترجيح بلا مرجح ده.

جواب: دادى چي پراسم داخليږي دادووه رنګه دي ديوه قسم عمل اتفاقى وي لکه حروف جاره اودبل قسم عمل اختلا في وي لکه حروف ندانوناظم هغه مخکې کړل چي عمل يې اتفاقي وي پرهغوباندي چي عمل يې اختلا في وي ،ځکه توافق اصل دى تراختلاف خلا صه داچي ترجيح بلا مرجح ناظم نه ده کړې

اوپه صفحه (۲۱) کې داقول دشارح چي [ثم بالنواصب ترمشبه بالفعل] پورې بياجواب دسوال دى:

سوال: دادى چي حروف مشبه پردووشيانوداخليږي اونواصب اوجوازم پريوه شى داخليږي نودوه خوفرع ديوه وي نوبايدچي ناظم نواصب اوجوازم مخکې کړې واى پرحروف مشبه بالفعل باندي نوده ولې حروف مشبه مخکې کړل.

جواب: حروف مشبه پراسم داخليږي اونواصب وجوازم پرفعل داخليږي اسم خواصل دى ترفعل نو ،ځکه ناظم حروف مشبه مخکې کړل ،ځکه په اصالت دمعمول سره چي اسم دى اصالت دعامل راځي چي حروف مشبه دى خلاصه داچي حروف مشبه بالفعل اصل دي په اعتباردمعمول سره ترنواصب اوجوازم نواصل خومخکې وي ترفرعې نو ،ځکه ناظم مخکې کړل الراجى غفرله البارى

سوال: چي نواصب اوجوازم خودواړه پرفعل داخليږي نوناظم ولي نواصب مخکې کړې دي پرجوازموباندي داخوترجيح بلا مرجح ده.

۱ جواب: داچي نواصب مشابه دي له حروف نداء سره په نصب کې نونوناظم ترجوازمومخکې کړل چي حروف نداء ته نژدې سي په ذکرکې.

Scanned with CamScanner

- ۲ **جواب**: داچي نواصب دنصب عمل كوي په مدخول خپل كې اوجوازم خپل مدخول ساكن كوي يعنى دنواصبو عمل حركت وركول دي خپل مدخول ته اودجوازمو عمل سكون دى په مدخول كې اوس نوحركت خوقوي دى ترسكون نومخكې كول دقوي حقداره دې ترضعيف چي سكون دى نو ،ځكه يې نواصب مخكې كړل.

په صفحه دوويشت (۲۲) كې دشارح داقول چي [لكنه ليس بمحله كماترى] دارددى پرهغه نسخه چي حروف مشبه مخته سوې وي پرحروف ندا خلاصه داچي موږددې نسخې والاله لورې چي حروف مشبه يې مخته كړې دي پرنداوودوه جوابه وركوويوداچي حروف مشبه پردووشيانو داخليږي اوندا پر يوه شي نوحروف مشبه قوي دي پرندانوبايد چي حروف مشبه مخكې سي پرندادوهم جواب دادى په كومه نسخه كې چي مشه مخكې سوې دى داسوه دكاتب ده پراول جواب سوال كيږي چي هغه عامل چي پردووداخليږي هغه قوي دى ترهغه چي پريوه داخليږي نوبايدچي مشبه مخكې سي پرجازمه باندي جواب: چي اصل خودادى چي دكوم عامل معمول يووي داعامل اصل دى ترهغه عامل چي معمول يې دوه وي نوحروف جاره خوپراصل موافق دي نوددې لپاره طلب دنكتې نه كيږي اودحروف مشبه مخالفت چي له اصل څخه پردې نسخه راغى نسبتا نداته طلب دنكتې يې كيږي چي وجه دمخالفت يې څه ده له اصل څخه نوموږجواب وركړچي مشبه قوي دى ترندا پردې قول دشارح چي [فاعلم ان حروف الجارحروف] ص: ۲۲سوال كيږي:

سوال: دادى چي مخكې شارح وويل چي [خمسة تارة حروف وتارة اسماء] بيايې وويل چي [وثلاثة تارة حروف وتارة اسماء] اودلته بياوايې چي حروف جاره ټول حروف دي خلاصه داچي دشارح په قول كې تناقض راغى نوداقول دشارح چي بذاتها جواب ددې سوال دى:

جواب: داچي كلمه دوئ اسماء وي كله حروف وي ياكله افعال وي داپه اعتباردعوارضوسره دى اوعوارض خونه دي معتبراوذات په اعتباردوئ فقط حروف دي نه اسماء دي ،نه افعال دي نودشارح په قول كې تناقض نه سوپيداتدبرعبدالرحمن غفرله الجبارج.

په صفحه (۲۲) كې دشارح پردې قول چي [لا اسماء ولاافعال] سوال كېداى:

سوال :داچي دوئ حروف سونوبياخونه اسماء اونه افعال كيږي ،ځكه حرف خوداسم اوفعل سره ضددی خلاصه داچي دشارح په كلام كې استدراك راغی جواب چي لپاره دزيات وضاحت له وجې ذكركړی دی نوچي دزيات وضاحت لپاره يې ذكركړل نوسوال نه كيږي پردې قول دشارح چي [وعددهاسبعة عشرحرفا] محشی سوال كړی دی خلاصه يې داده چي دشارح په كلام كې استدراك راغی ،ځكه شارح په وجه دحصردسماعی كې په ۱۳انواعوكې ويلې ووچي اتحاددعمل په (۱۷) حروفوكې موجوددی نودا(۱۷) حرفه يوه نوع سوخلاصه داچي شارح يووارد حروف جاره ووعددذكركړی ووسره له دې چي ده بياذكركړل داخواستدراك سو.

جواب : داچي په دوهم وارذكركولوكې شارح بيان داختلا ف ته اشاره كړې ده يعنی په حروف جاره ووكې اختلا ف دی په مابين دجمهوراوابن حاجب كې ،ځكه ابن حاجب حروف جاره (۱۸) بولي په زيادت دواودرب سره يعنی چي په معنی درب وي لكه داقول [وعالم يعمل بعلمه ای رب] اوس نوپه واودرب كې اختلا ف دی اخفش اوكوفيين وايي چي واودرب حقيقتا حرف جردی خپله جروركوونكی دی اوسبويه وايې چي واورب حقيقتاحرف جرنه دی مجازاله حروف جاره ووڅخه شمارسوی دی ،ځكه دی پخپله جروركوونكی نه دی په واسطه درب مقدرسره جروركوونكی دی خلاصه داچي دسبويه پرمذهب حروف جاره عام دي كه بلا واسطه جروركوونكې وي اوكه مستلزم وي حروف جاره ووته مثلا له دې واودرب سره اكثره وخت رب نه ښكاريږي نولكه پخپله واوچي جروركوونكی دی اوس نومدخول دحروف جاره ووبه اسم وي يعنی پراسم داخليږي پرفعل نه داخليږي.

سوال: داچي زه به يې دروښييم پرفعل به داخل وي لكه [ليصل] .

جواب : نوشارح جواب وركړپه دې قول سره چي [حقيقته كزيد] ص۲۲) يعنی اسماء عام دي كه حقيقة اسم وي اوكه تاويلا اسم وي اوس نوحقيقي اسم دامعنی چي بلا تا اويله اسم وي لكه زيدياتاويلي اسم وي تاويلي اسم دامعنی چي په تقديردحرف مصدري سره اسم ګرځيدلی وي مثلا لكه دلته چي له [ليصل] سره ان مقدردی ،ځكه په اصل كې [لان يصل]وو.

سوال : داچي مدخول دحروف جاره ووبه ولي اسم وي يعنى دوئ ولې پراسم داخليږي خو پرفعل دې داخل سي.

جواب : دادى چي دحروف جاره ووضع ددې لپاره راغلې ده چي معنى دمتعلقاتوچي افعال دي يا ملابس له افعالوسره دى داراكش كړي ترمدخول خپله پورې مثلا [مررت بزيد] نوباحرف جرزيد يې مجرورجارسره له مجروره دامتعلق دى ترمررت پورې مررت فعل اوفاعل دي اومعنى يې مروره دي دراكش وي ترزيد پورې چي مدخول دبا جاره دى نوكه حروف جاره پرفعل داخل سي نومعنى دفعل به راكش كړي وفعل ته نوداخوكشېدل دشى دي خپل ځانته داخوباطل دي ،ځكه افضاوكشېدل خونسبت دى متسبين متغائرين غواړي اوچي حروف جاره پرفعل داخل سي منتسبين متغائرين نه موجوديږي.

اوشارح وايې چي دوئ ته حروف اضافت وايې محشى ددې دوه جوابه ذكركړې دي يوداچي دوئ معنى دمتعلقاتوچي افعال يامشابه دافعالودي اوداراسوې مدخول خپل ته نو ،ځكه حروف اضافت ورته وايې ولې خواضافت هغه توصل ته وايې بله وجه يې داويلې ده چي اسم چي مضافيږي په تقديردبعضودوئ سره مضافيږي يعنى اضافت په تقديربعض ددوئ سره مثلا چي هغه [من اوفااولام] جاره ده نوموږتول حروف جاره حروف اضافت وبلل تسميه دكل په اسم دجزسره مووكړه ، حروف ربط هم ورته وايې ،ځكه ربط وايې تړلوته نودوئ هم يادوه اسم سره تړي لكه [زيدعلى السطح ،يااسم اوفعل سره تړي لكه مررت بزيد] اوحروف معنى هم ورته وايې ،ځكه هريوخپله معنى لري مثلا بالپاره دالصاق ده اولام لپاره داختصاص ده وعلى هذاالقياس.

په صفحه (٢٢) كې داقول دشارح [وانما سميت الخ] شارح وايې چي جاره وځكه ورته وايې چي ددوئ عمل په مدخول كې جردى جروركوي مدخول خپل ته نو ،ځكه يې جاره بولي خلاصه داچي تسميه دمؤثريې كړى دى چي حرف جردى په اسم داثرسره چي جردى يعنى په اسم سره چي مشتق داثرڅخه دى چي هغه نوجارهٌ دى اوس يومؤثردى چي هغه نوحرف جردى مثلا باهغه بل اثردى لكه دزيدجر.

په صفحه (٢٢) كې داقول دشارح چي [قيل الخ] يعنى چي هغه عمل دحروف جاره ووترقاعده لاندې دى قاعده داده چي حروف جاره مشابه دى له مضاف سره په تجريدكې له تنوين اودقائم مقام دتنوين چي نون دتثنيې اودجمعې دى اوهرحرف چي مشابه وي له

مضاف سره په تجريد کې هغه عمل په مدخول کې دجرکوي نوحروف جاره عمل په مدخول کې دجرکوي دادقيل دعبارت خلاصه وه يعنى قيل وايې چي دحروف جاره ووعمل قياسي دی.

په صفحه (٢٣) کې دشارح قول چي [تأمل وتدبر] اشاره ده وسوال اوجواب ته

سوال : داچي په مضاف کې رښتياهم تجريدصحيح دی ،ځکه مضاف خواسم وي پراسم تنوين اوقائم مقام راځي نوخو دتجريدصحيح کيږي اوپرحروف جاره ووخوبيخي تنوين اوقائم مقام راتلا ی نسي يعنى نه پرداخليږي نوتجريدبه څنګه وسي ،ځکه تجريدخومخته وجوددهغه شی غواړې مګرداخبره په نظرکې لرئ چي داسوال پرمذهب دقيل کيږي.

جواب : داچي دتجريديوه معنى حقيقي ده چي ازاله (ليري کول) دشی دي دارښتياهم مخته وجوددشی غواړې بله يې معنى مجازي ده چي خلو(خالي والی) دی بالانوکه مخته هغه شی وي لکه اسم په وخت دعدم اضافت کې بياپه اضافت سره هغه شی چي تنوين دی ساقط سوی وي اوکه بيخي نه وي لکه حروف جاره ووکې چي تنوين بيخي نه وودلته مجازي معنى چي خلوه ده مرادده

په صفحه(٢٣) کې دشارح داقول چي [فيه] په دې کې بيرته سوال دی پرمذهب دقيل چي قيل وايې چي دحروف جاره ووعمل له وجې دمشابهت له مضاف سره په تجريددتنوين کې دي خلاصه داچي دقيل پرمذهب دورراځي دوردامعنى چي يوله دووشيانوڅخه موقوف پرهابل وې اوجهة دتوقف اوموقوف کېدوېې يووي لکه دلته چي عمل کول دي يعنى حروف جاره چي عمل کوي داموقوف پرمشابهت دی له مضاف سره اومضاف چي عمل کوي داموقوف دی پرتقديرد حرف جرنويوپربل سره موقوفه سوداذردی دورخوباطل دی نودقيل مذهب ضعيف سو.

جواب : دقيل له لورې څخه شارح په قلناهذاعندسبيويه سره ورکړی دی خلاصه يې داده چي دادوردی چي راځي داپرمذهب دسيبويه دی دجمهوروپرمذهب دورنه راځي ،ځکه ددوئ پرمذهب عمل دمضاف په تقديردحرف جرسره نه دی بلکي مضاف بلا واسطه عامل دی په مضاف اليه کې نودورنه سولازم پرمذهب دجمهورو.

اوس كه څه هم شارح خوجواب دقيل له لورې وركړليكن په [فالاولى] قول سره شارح بيرته ترجيح دجمهورومذهب ته وركړى دى يعنى چي دحروف جاره ووعمل سماعي دى اووجه داولوية به هم غالباداوي چي دقيل پرمذهب (۲) سواله وسوچي يوه ته اشاره په تامل قول سره سوې وه اوبل سوال ته په فيه سره اشاره وسوه چي لزوم ددوردى والله اعلم وعلمه احكم واتقن عبدالرحمن غفرله المنان

دوهمه نوع

اوس دوهمه نوع شروع كيږي په حروف نداكي ، دوئ ته نواصب هم وايې وجه دتسميې يې محشى دابيان كړې ده ،ځكه چي دوئ خپل معمول ته نصب وركوي نوتسميه دمؤثريې كړى دى چي حروف ندادي په اسم دهغه چي مشتق له اثرځخه دى اثرالنصب توري ومشتق يې نواصب دي يعنى لكه په حروف جاره ووكې چي ذكرسودلته هم دارازدي اوحروف نداهم ورته وايې ،ځكه نداخوطلب دتوجه دهغه چاته وايې چي هغه نه وي متوجه نوپه حروف ندا سره هم طلب دتوجه كيږي نو ،ځكه يې ندابولي.

سوال : داچي ټول خوحروف ندانه دي نوته څنګه ټول ندابولې.

جواب: داچي (۵) نداسونوداغالب سوپردوئ(۲) چي يوواودى بل الا نودادوه كه څه هم ندانه دي موږيې ندابولواوپه دې كې اختلا ف دى چي حروف نداخپله نصب وركوي مابعدته دايومذهب دى بل مذهب دادى چي ترديې حروف مختته فعل دى هغه نصب وركوي بياپردې مذهب سوال كيږي:

سوال : داچي زه به يې دروښيبم چي تردوئ مختته به فعل نه وي اومابعدبه يې منصوب وي لكه [ماشانكَ وعمرا] نوشارح جواب وركړى دى:

جواب: داچي ترديې مختته دفعل كېدل عام دي كه لفظا وي لكه [استوى الماء والخشبة] اوكه معنى وي لكه وماشانک وعمرا] دلته له وعمرسره لفظ مختته دتصنع مقدردى.

سوال: داچي نصب فعل وركوي نوناظم وحروف نداته ولي ناصبة ويلې دي چي ناصب اسم اند .

جواب : داچي دنصب نسبة ودوئ ته له دې وجې سوى دى چي حروف نداواسطه دى په مابين دعامل اومعمول كې داقول دناظم چي [ان باان الخ] (ص ۲۴) پردې حاشيې والا سوال كړى دى:

سوال: خلاصه دسوال داده چي بايد حروف مشبه مخته سوې واى پرحروف جاره وو، ځکه حروف اسم ته نصب ورکوي خبرته رفع ورکوي اوس نومرفوع خوفاعل وي دامقدم وي پرمفعول اومنصوب خومفعول وي مفعول خومقدم وي پرمجرورنومعمول دحروف مشبه ووقوي سوپرمعمول دحروف جاره وواوپه قوت دمعمول قوت دعامل راځي خلاصه داچي حروف مشبه عامل قوي سواوحروف جاره عامل ضعيف سونوقوي خومقدم وي پرضعيف.

جواب: دادى چي دحروف جاره ووعمل اصلي دى پرمذهب دجمهورو ، ځکه سماعی دى اودبعضوپرمذهب خوددوئ عمل له وجې دمشابهت له مضاف سره ووپه تجريددتنوين کې اومختاره خودجمهورومذهب ووخلاصه داچي دحروف عمل اصلي دى اودمشبه عمل له وجې دمشابهت دفعل سره دى يعنى فرعى دى نواصلي خومقدم وي ترفرعي عبدالرحمن الراجی غفرله الباری.

تربيت لاندي په نکته کې سوال دى:

سوال: دادى چي حروف مشبه ولي مقدم سوپرماولا.

جواب: چي حروف مشبه مشابهت لري له فعل متصرف سره اوماولامشابهت له فعل غيرمتصرف سره لري فعل متصرف اصلي دى پرغيرمتصرف اوس نوچي له فعل متصرف سره مشابهت لري لکه حروف مشبه دااصل دي پرهغوچي مشابهت له غيرمتصرف سره لري لکه ماولاچي له ليس سره مشابهت لري ليس خوغيرمتصرف دي خلاصه داچي مشبه اصل دي پرماولااوپه بيت کې پرلعل لفظ محشی سوال کړی دی:

سوال: دادى چي لعل رباعی دی اولاکن خماسی دی نورباعی خولکه جزد خماسی دی نوجزخوپه طبع کې مقدم وي پرکل نوبايدپه ذکرکې هم مقدم سي نوبه ذکرموافق سي له طبع سره سره له دې چي دلته خماسي مخته دی چي لاکن دی.

جواب: چي لعل انشادی لاکن اخباردی اخباراصلي دی ترانشاء ، ځکه انشاله اخبارڅخه حاصليږي په اشتقاق سره لکه امرانشادی حاصل سوی دی له اخبار څخه چي مضارع ده يعنی له مضارع څخه جوړسوی دی.

په صفحه (۲۴) کې پر[سمی هذاالنوع]قول دشارح محشی سوال کړی دی:

سوال : دادى چي حروف مشبه (۴) دي نوبايد چي شارح جمع قلته ويلې واى ،ځكه جمعْ قلته خوله (۳) څخه بياتر(۱۰) پورې يې اطلاق كيږي اوشارح جمع كثرته ويلې دي چي حروف لفظ دى اوس نود جمع قلته اوزان (۴) دى افعال (۱) چون اقوال (۲) افعلية چون اوعونة (۳) فعلة چون غلبة (۴) افعول چون اكلب] نومحشى دوه جوابه ذكر كړې دي يو دا چي له حروف جاره وو څخه اول حروف نداوودوئ تعبيرپه صيغه دجمع كثرت كړى دى نودادوئ خوښ نه بولي چي تغيرپه طريقه كې راولي يعنى په حروف مشبه ووكې تعبيرپه قلة سره وكړدوهم جواب يې دادى چي صيغه دكثرت پرځاى دقلته مستعمليږي لكه په آيت شريف كې لفظ د[قرؤ] جمع كثره پرځاى د[اقراء] جمع قلته سره چي قرء خوتر(۳) زياته نسته.

پردې قول دشارح چي [ستة]ص: ۲۴ محشى سوال كړى دى:

سوال : دادى چي مشبه سره له فرعې راواخلي داتر(۲) زيات دي چي فرع يې هغه لغات په [لعل] كې يا چي نون مخففه كې دافرع دى خلاصه داچي شارح يې ولي دا(۲) بولي.

جواب : داچي اصل ددوئ دادى يعنى شارح چي (۲) بللې دي داپه اعتبارداصول دى اصول خويې دغه(۲) دي عبدالرحمن غفرله البارى.

دشارح پردې قول چي [لانها مشابهة بالفعل ص: ۲۴لفظا ومعنى] محشى سوال كړى دى:

سوال: دادى چي ته وايې چي حروف مشبه ،ځكه ورته وايې چي دوئ مشابهت له فعل سره لري يعنى لكه فعل چي ثلاثي ،رباعى اوخماسي راتلاى سي دوئ همدارازراتلاى سي اوس نواسم خوهم ثلاثي لكه [زيد] رباعي لكه [جعفر] خماسى لكه [سفرجل] راځي نوبايد چي حروف مشبه مشبه بالاسم هم وبلل سي لكه مشبه بالفعل چي بلل كيږي سره له دې چي مشبه بالاسم نه بلل كيږي.

جواب : علت دبللو دمشبه فقط ثلاثية ،رباعية اوخماسية نه دي بلكي علت دتسميې له خماسية لفظ څخه وروسته چي ادغام اولحوق دكاف خطاب اولحوق دنون دوقايې يعنى له ثلاثي څخه بياترنون وقايې لفظ پورې دامجموعه علت دتسميې دي اوس نوادغام اوكاف خطاب اونون دوقايې خوپه اسموكې نه راځي نوعلت دتسميې په اسم كې نه سوموجودنو ،ځكه حروف مشبه ته مشبه بالاسم نه وايې كه څوک ووايې چي فعل

خوخماسی بيخي راتلا ی نسي خالي ثلاثي اورباعی راځي جواب داچي فعل سره له زوائد خماسي ته تقسيميږي.

په صفحه (۲۵) کې دشارح داقول چي [ولماكانت هذه الحروف مشابهة بالفعل وللفعل عملا ن] داجواب دسوال دی:

سوال : خلاصه يې داده چي حروف مشبه له فعل سره لفظا اومعنی موافق سونودوئ ولي په عمل کې له فعل سره مخالف سويعنی دوئ اول ته نصب ورکوي دوهم ته رفع ورکوي اوفعل خواول ته رفع ورکوي دوهم ته نصب ورکوي

جواب : داچي فعل لره دوه عمله دي اصلي وفرعی اصلی دامعنی اول مرفوع دوهم منصوب فرعی ددې عکس اوس نوفعل خومُشبه به دی داخواصل وي اوحروف مشبه چي [ان ، بان ،كان الخ) دي دافرع دي نودلته رعايت تعادل سوی دی يعنی عمل اصلي چي اول مرفوع دوهم منصوب ووډااصل ته ورکړل سوچي مشبه به ووا وعمل فرعي چي اول منصوب دوهم مرفوع دايې وفرعې ته ورکړچي حروف مشبته دي.

په صفحه (۲۵) کې دشارح داقول چي [فان قيل اذاكان هذه الحروف كمعاني الافعال]

سوال : خلاصه يې داده چي معانی دحروف مشبه معنی دافعالوسوې نوبايدچي حروف افعال وبلل سي حروف مشبه به ونه بلل سي لکه داسماء افعالومعنی چي دافعالوسوي نواسماء افعال يې بولي سره له دي چي ته يې حروف مشبه بولي.

جواب : داقياس مع الفارق دی يعنی اسماء افعال خوپه وضع ثانی سره بيخي وضع دي لپاره دمعانيوودافعالو،ځکه يې اسماء افعال بولي اوحروف مشبه خووضع لپاره دمعانيوودافعالونه دي خالي مستلزم معانيوودافعالولره دي مثلا د[انّ] معنی [حققت] نه دی لکه د[هيهات] معنی چي [بعد] دی بلکي له تحقق دمعنی دجمله دان زيدا قائم څخه حققت فهميږي لکه له هذا څخه چي انبه او اشير فهميږي.

په [فان قيل وجود المشابهة ثابت بمطلق الفعل الخ ص: ۲۵] سره شارح پخپله سوال کړی دی:

سوال : داچي دحروف مشبه مشابهة خوله مطلق فعل سره دی نودوئ ته يې ولې عمل دخاص فعل ورکړی دی چي متعدی دی.

جواب : چي حروف مشبه مشابهة له مطلق سره لري مگر د متعدي سره بيا خاص مشابهة لري هغه داچي متعدي هم دوه شيان غواړي فاعل او مفعول او حروف مشبه هم دوه شيان غواړي چي اسم او خبردي نو ،ځکه حروف مشبه د خاص فعل عمل کوي چي فعل متعدي دی.

په صفحه (۳۲) کې د شارح پردې قول چي [ماولاالنافيتان] محشي سوال کړی دی:

سوال : داچي ماولاموصوف دي اوالنافيتان يې صفت دی دانه صحيح کيږي ،ځکه موصوف نکره دی او صفت معرفه دی.

جواب : داچي ماولا علم دي دهغه ماولاچي په ترکيب کې واقع سوې وي نوموصوف هم معرفه دی ،ځکه علم هم له معارفوڅخه دي يعنی په علم سره هم شی معرفه کيږي نومطابقت راغی په موصوف اوصفت کې.

په صفحه (۳۲) کې د شارح داقول چي [ماولاالمشبهتان بليس] سوال کيږي:

سوال: داچي ليس فعل ده ماولا حرفونه دي نوماولابه څنګه مشابه سي له ليس سره.

جواب: چي مشابهت ددوئ له ليس سره په نفې اودخول کې دي يعنی لکه ليس چي دنفې لپاره دی ماولاهم دنفې لپاره دي اولکه ليس چي پرمبتدااوخبردا خليږي دوئ هم پرمبتدااوخبرداخليږي نوپه دې اعتبارسره ددوئ مشابهت له ليس سره صحيح سومګرداخبره په يادلرئ چي دمامشابهت له ليس سره ترلازيا ت دی ،ځکه ليس هم لپاره دنفې دحال دی چي قرينه دغيرنوی اوليس هم دغه دی اولادمطلق نفې لپاره ده چي قرينه دغيرنه وي اوس نوچي مشابهت دماله ليس سره زيات سونو ماهم پرمعرفه داخليږي ،هم پرنکره يعنی اسم اوخبربه دواړه معرفه وي لکه [مازيد(مبتد) الظريف (خبر)] نو اسم په علميت سره معرفه دی اوخبرپه الف لام سره اوچي اسم اوخبردواړه نکره وي لکه [مارجل (اسم) افضل منک (خبر)] اوکله اسم دمامعرفه وي خبريې نکره وي لکه [مازيد(اسم) قائم (خبر)] خلاصه داچي ماله وجې دزيادت مشابهت له ليس سره په معرفه اونکره دواړوکې عمل کوي اولاله وجې دکموالي دمشابهت له ليس سره يعنی چي مشابهت يې له ليس سره کم دی فقط په نکره کې عمل کوي نواسم وخبردلا به دواړه نکره وي ابدامثلا لارجل ظريفا يعنی لاخالي په نکره کې ع مل کوي په معرفه کې عمل نکوي اوس نوداتوهم دفع سوچي ماپه معرفه اونکره دواړوکې عمل کوي اولاخلي په نکره کې عمل کوي

داخوترجیح بلا مرجح ده یعنی ماولادواړه حروف نفې دي نوماولي په دواړوکې عمل کوي اولاخالي په نکره کې عمل کوي خلاصه داچي ترجیح بلا مرجح نسته الراجی غفرله الباری.

په صفحه (۲۲) کې دشارح داقول چي [فان قیل فعلی هذا یلزم التسویة]

سوال : خلادا چي عمل دماولاداسوچي اول مرفوع دوهم منصوب نوداخوتسویه دفرع راغله چي ماولادي له اصل سره چي فعل دی ،ځکه فعل خوهم اول ته رفع دوهم ته نصب ورکوي.

جواب: پرطریقه دمنعې دی یعنی موږدانه منوچي تسویه دفرعی له اصل سره منع ده بلکې زیادت دفرعې پراصل منع دی.

سوال : چي تسویه دفرعې له اصل سره منع نه ده نونو حسنه به هم وي.

جواب : شارح جواب ورکړچي په صفحه (۲۲) کې [لکنه غیرمستحسن] دوهم جواب شارح پرطریقه دتسلیم سره ورکوي یعنی رښتیاهم تسویه دفرعې له اصل سره منع ده خودلته چي تسویة راغلې ده داله وجې دضرورت څخه دئ یعنی که ماولاته عمل اصلي ورنکړم بیادماولاالتباس له حروف مشبه سره راځي ،ځکه حروف مشبه ه م اول ته نصب ورکوي دوهم ته رفع دوئ هم دارازدي نوفرق نه راځي په مابین دماولا اوحروف مشبه کې.

په تأمل کې اشاره ده وسوال ته:

سوال : داچي التباس نسته ،ځکه ماولااوحروف مشبه په صورت کې سره مختلف دي نوبایدچي چي ماولاته عمل فرعې ورکړل سوی وای.

جواب : چي ترماولاوروسته ان مقدریږي نوکه ماولاته عمل فرعې ورکړل سي بیانه معلومیږي چي داعمل ان کړی دی اوکه ماولاوچي ماولاته عمل اصلي ورکړل سي نوبیاداتوهم نه کیږي چي داعمل دان دی ،ځکه دحروف مشبه عمل خوفرعی ووچي اول منصوب دوهم مرفوع نوبیرته خلاصه داسوه چي ماولاته چي عمل اصلي ورکړل سوی دی داپه وجه دضرورت [لان الضرورات تبیح المحظورات] عبدالرحمن غفرله الرحمن.

په صفحه (۲۲) کې دشارح داقول چي [ثم اعلم ان ماولایعملان عنداهل الحجاز] خلاصه داچي په ماولاکې اختلاف دی دبنی تمیم اوحجازیینوحجازین وایې چي ماولاعمل کوي ددوئ لپاره دوه دلیله دي یونقلي دی چې [ماهذا(اسم) بشرا(خبر)] یاماهذا(اسم)

امهاتهن (خبر)] بل دليل عقلي دى هغه داچي حجازيين ماولاقياسوي پرليس له وجې دمشابهت دماولاله ليس سره نوليس خوفعل دى عمل كوي .ځكه وضع يې لپاره دعمل ده نوماولاقياس پرليس دي نودوئ هم عمل كوي اودحجازيينو مذهب مختاره دى .ځكه ددوئ پرمذهب قرآن وارددى اوبنوتميم وايې ماولاعمل نسي كولاى ددوئ لپاره هم دوه دليله دي يونقلي دى هغه داقول دشاعردى

ع: فهفهف كالبدرقلت له انتصب وان لم تنتصب

فانامن المقتولين فقال ماقتل المحب حرام

ترجمه: زمامعشوق داسي ښائسته دى لكه سپوږمۍ ماورته وويل چي ماته رجوع اوميل وكړه اوكه رجوع نه راته كوې زه به له مقتولينوڅخه سم ده راته وويل چي دعاشق مرګ په محبت دمعشوق كې نه دى حرام يعنى كه ته زماپه محبت كې مړسي پرماګيله نسته.

په دې شعركې شاهد داقول دشاعردى چي [ماقتل المحب حرام] خلاصه داچي بنوتميم وايې چي اسم اوخبردواړه مرفوع دي په عامل معنوي كې چي ابتدأ دى اوماهم موجوده ده عمل يې نه دى كړى كه يې عمل كړى واى نوحرام به منصوب واى دلته مرفوع دى نومعلومه سوه چي ماعمليه نه ده دوهم دليل دبنوتميم عقلي دى هغه داچي شرط دعمل كولودعامل اتحاددنوعې دى يعنى عامل چي عمل كوي داشرط دى چي پريوه نوع به داخليږي دوئ پرفعل هم اواسم هم داخليږي شرط دعمل ددوئ مفقود(نېستي) سونوخودعمل نسي كولاى ،ځكه په انتفاد شرط انتفى دمشروط راځي حجازيين له دليل نقلي دبنى تميم چي شعروودا جواب وركوي چي داشعرخوستاسوخپل قول دى پخپل قول خودمدعى لپاره حجت اودليل نه كيږي اوله دليل عقلى دبنوتميم څخه داجواب وركوي چي شرط دعمل موجوددى معدوم نه دى لكه تاسي چي واياست .ځكه ماولافرع دليس دي په ليس كې خواتحاداوبووالى په نوع كې موجوددى .ځكه ليس پراسم داخليږي پرفعل نه داخليږي نوچي شرط په اصل كې حقيقتا موجودسونو په فرع كې هم حكماموجوددى اوس نوچي شرط دعمل دماولاموجودسونوما ولا خامخواعمل كوي داسي نه چي عمل نكوي لكه بنوتميم چي وايې فاغتنم هذاالتحقيق اللطيف لعلك لاتجدبهذاالطرز الانيق وكل حزب بمالديهم فرحون الراجى ص:٢.

پنځمه نوع

په دې نوع کې تراعلم پوري بيان داختلا ف په حروفوناصبه ووکې دی خلاصه داچي حروف ناصبه دغه (۴) دي پرمذهب دبصريينواوپرمذهب دکوفيينو(۴) دغه دي (۲) نوردي چي هغه [حتی ، لام کی ، لام حجد ، فا ، واو ، او] دي په معنی د [الا ان يا الی ان ،] ليکن دجمهوروپرمذهب تردې (۲) رووسته ان مقدر دی نونصب ورکوونکی هغه ان مقدره دی دوئ نصب ورکوونکې نه دي يعنی حروف ناصبه دغه (۴) دي زيات نه دي لکه کوفيين چي وايې (۱۰) دي دناظم مذهب دبصريينوخوښ وونو ،ځکه يې چارحروف معتبروويل . اوپه حروف ناصبه ووکې د[لن] اصل پرمذهب دخليل [لا ان] دی همزه حذف سوه لپاره دتخفيف بياالتقادالف اونون راغله الف حذف سونولن سواوفراء وايې چي اصل د[لن] [لا] ووالف په نون بدل سونولن سواوسيبويه وايې چي لن مستقل کلمه ده اصل يې دغه شی دی خيرخواوس په دې (۴) کې اصل ان دی ،ځکه ان مخففه مشابه دی له اِن مشدده سره په فتحه دهمزې کې اوس نومشبه به خواصل وي ترمشبه نوخودان نصب واسم ته ورکوي اوان نصب فعل ته ورکوي خلاصه داچي سوال کېدی چي ته وايې ان مشابه دی له ان سره نوان خواسم ته نصب ورکوي نوبايد چي ان هم اسم ته نصب ورکړي نومونږجواب ورکړچي درجه دفرعی چي ان دی تراصل چي ان دی کمه وي نوان فعل ته نصب ورکوي اوان اسم ته اومونږويلې دي چي قوت دعامل په قوت دمعمول راځي.

اوس نوپردې قول دشارح په صفحه (۲۷) کې چي لمشابهتهابان التی محشی سوال کړی دی:

سوال : دادی چي ان خپله دفعل دمشابهت له وجې عمل کوي نوان به څرنګه دده له وجې عمل وکړي داخواستعاره له مستعيره ده اواستعاره له مستعيره غيرجائزدی.

جواب : چي استعاره له مستعيره هلته ناروداه چي که مستعرداسي نه وولکه پخپله معرچي فعل دی نوله فعل څخه خواستعاره جائزده خلاصه داچي حروف مشبه ووکامل مشابهت له فعل سره پيدا کړنوله دوئ څخه هم استعاره جائزه ده.

دشارح داقول په ص : ۲۷کې چي [ان من الحروف المشبه بالفعل بنصب الاسم فهذاينصب الفعل حطالدی رجة الفرع عن درجة الاصل] خلاصه داچي سائل سوال کوي:

سوال: هركله چي ان مشابه سوله ان سره نوان خواسم ته نصب وركاوى نوبايد چي ان هم اسم ته نصب وركړي او ان فعل مضارع ته نصب وركوي اسم ته بې نه وركوي.

جواب: داچي ان فرع دان دى نوان عمل په فعل كې كوي او ان چي اصل دى نو هغه عمل په اصل كې كوي چي اسم دى نو رعايت ته تعادل سوى دى يعنى اصل چي ان دى په اصل كي چي اسم دى عمل كوي او فرع چي ان دى عمل په فرع كي كوي چي فعل دى خلاصه داچي اصل په اصل كې عمل كوي او فرع په فرع كې عمل كوي.

په صفحه (۲۷) كې داقول دشارح چي [واماالثلاثة الاخرة] دابيان داختلاف دى په دانورو(۳) كې بعضى وايې دوئ خپله عمل په مضارع كې كوي اوبعضى وايې چي تردوئ وروسته ان مقدردى هغه مضارع ته نصب وركوي نوفائده داختلاف په صفحه (۲۸) كې په [لن يضرب] كې ښكاريږي نواول مذهب والا وايې اي [يضرب] ته نصب پخپله [لن] وركړى دى اودوهم مذهب والاوايې چي ان مقدروركړى دى.

په صفحه (۲۸) كې دشارح داقول چي حروف مصدرفيكون تسمية الكل باسم الجزء] سائل سوال كوي:.

سوال: داچي مصدرخودامعنى چي مدخول خپل په تاويل دمصدرګرزوي سره له دي چي په دې (۴) كې يو [ان] مدخول په تاويل دمصدرګرزوي دانور(۳) يې نه ګرزوي خلاصه داچي ټول حروف ناصبه مصدريه نه دي نوشارح ولي ټول مصدريه بولې محشى وايې اصل په دې (۴) كې [ا ن] دى خلا صه داچي تسميه دباقي (۳) په مصدريه سره په اعتبار داصل سره دى چي هغه [ان] دى.

جواب: شارح جواب وركوي چي پركل يې نوم دجزء ايښى دى.

شپږمه نوع

خلاصه داچي جازمه (۵) دي اوس نوسائل سوال كوي:

سوال: داچي حصردجازمه وو په (۵) كې نه دى صحيح ،ځكه [لام] ددعاهم جازمه دى لكه [ليغفرالله] داراز [لام] دالتماس لكه [ليفعل زيد] يعنى دادوه لامه په لام دامركې هم نه داخليږي ،ځكه لام دددوعاخولپاره دطلب دفعل وي پرسبېل دخضوع اوعاجزي

اوپه لام دالتماس کې طلب دفعل وي پرسببله دمساوات نودوئ دوه په لام امرکې نه داخليږي.
اوجزم فعل ته ورکوي نوچي دوئ دوه جزم هم ورکوي اوپه لام دامرکې داخل هم نه دي نوبلکل حصرباطل دی.
جواب : داچي لام دامرپرمذهب دنحاتودادی چي لپاره دطلب دفعل وي استعلاء نه غواړې اوس نوطلب دفعل خوپه (۳) سره ووکې موجوددی خلاصه داچي لام ددوعااوالتماس داخل دی په لام دامرکې يعنی نحات ددي (۳) لامو فرق نه کوي نوچي داخل سو حصرصحيح سودوهم ج ياله لام دامرځخه صورت دلام دامرمراددی اوپه صورت کې دوئ دوه يودی له لام دامرسره نوګواکي (۳) سره يولام سوبيا حصرصحيح سو.
داقول دناظم چي [جازم فعلندص: ۲۸] محشی په دي ځای کې وجه دتسميې بيان کړې ده خلاصه داچي جزم قطعه کولوته وايې نوجازمه هم ياحرکت قطعه کوي لکه [لم يضرب] ياحرف قطع کوي لکه [لم يرم] اصل يې [يرمی] وو.
سوال: داچي جازمه ولې په فعل پوري خاص سو.
جواب : داچي دوئ بعض لپاره دنفې دفعل دي لکه [لم ، لما] اوبعضی لپاره دطلب دفعل دي لکه [لام] دامريادکف (منعې) دفعل دي لکه [لام] دنهې اوبعضی لپاره دتعلق ديوه شی په فعل پورې خلاصه داچي دوئ وضع سوې دي لپاره دفعل دي نوکه په فعل پوري خاص نسي خلاف دوضعې راځي نو ،ځکه خاص په فعل پوري سو.
اوس نوسيد سندرحمه الله چي علامې دفعل بيان کړې دي اول [قد] دی وجه دتخصيص يې ترفعل پورې داده چي [قد] لپاره دتحقيق دفعل ده چي پرماضي راسي اويادتقليل دفعل دی چي پرمضارع راسي نو ،ځکه [قد] علامه دفعل ده
بيا سيدرحمه الله وايې [سين اوسوف] علامه دفعل دي وجه دتخصيص يې داده چي [سين اوسوف] دواړه داستقبال لپاره دي اوس نوحال يااستقبال ياماضی داخوپه فعل پوري خاص دي په اسم کې نه راځي نودال پراستقبال چي [سين اوسوف] دي داخاص په فعل پوري سودراز[تاء ساکنه] علامه دفعل ده دابياخاص ترفعل پوري ده ،ځکه داعلامه ده پرتانيث دفاعل فاعل خوفعل لره وي يامتعلقاتو دفعل لره وي چي اسم فاعل

، اسم مفعول الخ نو ،ځکه تاء ساکنه خاص ترفعل پورې سوه خيرخوخبره ترخبرې پورې يادېږي الراجي.
په صفحه (۲۸) کې داقول دشارح چي [اعلم ان هذه الحروف تجزم الفعل المضارع] دافرق بيانوي په مابين د [ان] جازمه اوددانورو (۴) کې اودافرق ظاهردی خودافکرکوئ چي د [ان] جازمه اوداسماء جوازموچي [من ،متى ،مهماالخ] دابيافرق ظاهردی چي ان فعلينو ته جزم ورکوي يعنى ان جزم فعلينوته ورکوي بلا واسطه اواسماء جوازم فعلينو ته جزم ورکوي په دې وجه چي دوئ متضمن دي ان شرطيه لره بيامحشی وايي چي بايدان شرطيه په نوع سابعه کې ذکرسوی وای ،ځکه دی هم جزم په فعلينوکې کوي لکه اسماء جوازم جواب دادی چي ان مغايردی له اسماء جوازم سره ،ځکه ان جزم کوي په فعلينوکې ببله واسطې اواسماء جوازم جزم کوي په فعلينوکې په واسطه ددې چي دوئ متضمن دي ان شرطيه لره دوهم جواب داچي اسماء جوازم له قبيلې داسم څخه دي اوان حرف دی نوددې تغييرپه وجه ناظم په نوع سابع کې نه کړل ذکر.

سوال : که څوک ووايې چي ان فعلينوته جزم ورکوي اولم ولما الخ فعل واحدته جزم ورکوي نوبايدچي ان جلا نوع جوړه سي.

جواب : داچي ناظم نفس جزم ته کتلې دي په نفس جزم کي ان شريک دی له لم اولماسره نو ،ځکه ناظم ان جلا نوع نه وبلی.

اوس نوداحروف جازمه فعل مضارع ته جزم ورکوي اوپه دوئ کې ان دووفعلينو ته جزم ورکوي لکه [ان تضرب اضرب] .

دشارح داقول چي [فان قلت ان كلمة ان حرف] چي ان خوحرف دی حرف خوضعيف وي نودی څرنګه عمل په دووفعلينوکې کوي يعنى نه يې سي کولای جواب: داچي عمل دان په فعلينوکې سماعی دی داپه عقل اوقاعدې پورې اړه نلري اوقيل وايې چي ان يوازي په شرط کې عمل کوي بياان سره له شرطه داعمل کوي په جزاکې والله اعلم.

اوس نواصل په جزم کې ان دی ،ځکه دده وضع دجزم لپاره راغلې ده اودانورچي جزم کوي دده دمشابهت له وجې يې کوي يعنى لکه ان چي خاص ترفعل پورې دی پراسم نه داخليږي دارازدانورهم خاص په فعل پورې دي پراسم نه داخليږي

اوومه نوع

اسماء جازمه بيافعلينو ته جزم ورکوي ،ځکه دوئ مشتمل پرمعنی د [ان] دي نو ،ځکه فعلینو ته جزم ورکوي اودابنادي پردې چي کوم حکم دمشتمل (اسم مفعول) چي [ان] دی دابه له مشتمل [اسم فاعل] سره چي اسماء جوازم دي متحدوي اوس نوکه اسماء جوازم فعلینو ته جزم ورنکړي نو اتحادنه راځي سره له دې چي اتحاد خوضروري وو.

اوکه اسماء جوازم مشتمل نه وي پرمعنی دان بیادوئ بیخي عمل نکوي بیادوئ اسماء جوامد دي لکه [زید ،عمر ،خالد ،والد ،فلانی].

سوال : داچي [کیفما اواذا] خوهم جزم کوي نوناظم ولي نه دې ذکرکړي.

جواب : داچي ددوئ جزم شاذدی شاذپه دې معنی چي قلیل دی دامعنی نه چي مخالف القیاس یااستعمال وي اووجه دشذوذد[کیفما] داده چي [کیفما] تقاضادبرابروالې کوي دشرط له جزاسره اوبرابروالی دشرط اوجزامتعذردی لکه [کیفماتقرأ اقرأ] ،ځکه برابروالی د [قرأتین] نسي کېدای داراز[اذ] دامرمقطوع به (یقیني) لپاره دی اوکلمات دشرط دابهام اوشک لپاره دي اوشک اویقین خونسي سره جمع کېدای.

اوس نودغه اسماء جوازم ته کلمات دشرط اوجزاء وايې ،ځکه شرط موقوف علیه وي نودلته هم اول فعل مثلا چي [ان تضرب] دی موقوف علیه دی دثانی فعل چي [اضربْ] دی اوجزاخومرتبه وي پرفعل نودلته هم ثانی فعل مرتب دی پراول فعل خلاصه داچي دوئ پرشرط اوجزاء داخلیږي نو ،ځکه یې کلمات دشرط اوجزابولي .

اتمه نوع

دغه نوع اسم نکره ته نصب ورکوي اوس نواسم پردوه قسمه دی نکره اومعرفه معرفه هغه دی چي پرذات معین (معلوم) دلالت کوي لکه زیداوعمراونکره هغه دی چي پرذات غیرمعلوم دلالت کوي لکه رجل اوفرس بیامعرف پراووه قسمه دی ـ ۱ اعلام لکه زید ،عمر، بکراومضمرات لکه (هو ،هماهم (اواسماء اشارات لکه هذااوموصولات لکه الذی اومعرفه په لام لکه الرجل اومعرفه په ندالکه یارجل اومضاف ودوئ ته غیرله معرفه په نداسره لکه [غلام هذا] یاموصول ته لکه غلام الذی یامعرفه په لام لکه غلام الرجل یاعلم ته لکه غلام زید.

سوال : داچي اسماء اشارات اوموصولات ته دوئ مبهمات وايې خلاصه داچي تسميه ددوئ تقاضادنکارت کوي اوراوړل ددوئ په معارفوکې تقاضادتعريف کوي داخوتنا قض ثابت سو.

جواب : داچي اسماء اشارات اوموصولات مخکې تراستعمال مبهمات دي وروسته تراستعمال معرفه دي يعنى چي مشاراليه اوصله يې ذکر وي نودوئ معرفه دي اوچي نه وي ذکرنونکره دي موږپه هغه وخت کې معرفه ورته وايوچي ذکروي خيرخوالنوع الثامن اسم نکرته نصب ورکوي بنابرتميز.

تمييز

اوس نوتميزپه لغت کې فصل اوفرق ته وايې يعنى فرق اوجلا والى راوستل په مينځ ددووشيانوکې اوپه اصطلاح کې [يرفع الابهام عن ذات مذكوره يامقدرة] ته وايې اوس نوچي تميزرفع دابهام کړې وي له ذات مذکوره څخه هغه لکه [رطل زيتا] رطل په معنى يې جنسى مجازي سره چي موزون دى مبهم وويعنى موزون جنس ده ډيرې انواعې لري مثلا غنم ،اوربشي ،غوړي اوداسي نورموزونات نوزيتارفع دابهام وکړه چي له موزون څخه خاص موزون مراددى چي دزيتون غوړي دي اوچي تميزرفع دابهام له ذات مقدره څخه کړې وي لکه [طاب زيدنفسا] ، نفسا رفع دابهام کړې ده له ذات مقدره څخه چي شى دى ،څکه طاب زيدنفسا په قوت کې دطاب شئ منسوب الى زيدنفسا دى

جواب :چي نفسا تميزدي ابهام سابق غواړې اوپه طاب زيدنفساکې نه په منسوب کې ابهام سته چي طاب دى نه په منسوب اليه کې سته چي زيدده نوله تميزڅخه معلومه سوه چي دطاب نسبت که څه هم په ظاهره کې زيدته سوى دى مګرپه معنى کې يوشى مقدرته سوى دى چي هغه متعلقات دزيددي اوس نومتعلقات دزيدخوډيردي مثلا علم دى ،داردى نوابهام واقع سونفسايې رفع دابهام وکړه له شى مقدرڅخه يعنى شى يې معلوم اومعين کړعبدالرحمن غفرله (هاوبحث التمييزطويل الذيل لايليق بهھناتفصيله وان شئت الاطلاع على تفصيله فاطلع المطولات وفى الغة الافغانى ضرب مثل بين الطلبة هغه داچي حال به دې بې حاله کړي تميزبه دي بې تميزه کړي مستثنى به دې له وطنه ورک کړي وهوانسب.

وقول المحشي الجأني الى بيان التميزوان قل حيث قال التميزمايرفع عن ذات مبهم والمذكوره فاوردت مثالهماله خيرخودانوع اسماء عددبولي ،ځکه دامشتمل پرعدددده اوس نوله یوه بیاترلسو بورې عدداقل بولي له۱۱څخه بیاتر۹۱پورې عدداوسط بولي اوله ۲۱څخه بیاتر۹۹پورې عدداکثربولی اوس نوعدداقل به مضاف وي تميزته اوتميزبه هم جمع وي لكه ثلاثة رجال.

سوال : محشي سوال کړی دی چي عدداقل به وي اومضاف به جمعې ته نه وي لکه ثلاثة رهط نورهط خولفظا مفرددی.

جواب : چي لفظا جمع وي لکه رجال اوکه معنی جمع وي لکه رهط نورهط خوجماعت ته وايي نوجمع معنی سو.

سوال : داچي يواودوه خوهم عددمفرددي نوشارح ولې ذکرنکړل ، حساب يې له درو(۳) شروع کړ.

جواب : داچي له یوه اودووسره تمیزنه ذکرکیږي مثلا داسي نه ویل کیږي چي احدرجل يااثنين رجلين بلكي تميزذكركيږي عددطرحه کيږي يعنی غورزي ،ځکه تلفظ په اسم جنس سره اسم جنس که مفردوي که تثنيه وي دلالت پرجنس اوعدددواړوکوي اوجمع چي ده هغه پريومخصوص مقداردعدددلالت نه کوي نوکه له رجال سره عددذکرنسي نونه معلوميږي چي له رجال څخه دوه واخلوکه درې ياځلورخلاصه داچي رجل اورجلان عددته ضرورت نلري اورجال عددته محتاج دي.

سوال : محشي بياسوال کړی دی چي تمييزذکرکوئ نوولې عددنه ذکرکوئ.

جواب : داچي عددرفع دابهام نه کوي مثلا واحداثنين اوس نوواحداثنين نه معلوميږي چي سړی دي که نورڅه اوتميزچي رجل اورجلين دي دلالت کوي ،ځکه دوئ دوه په اعتبار دجوهراومادې سره پرجنس دلالت کوي اوپه اعتباردهيئت پرعدددلالت کوي.

سوال : چي تميزخوله منصوباتوڅخه دی نومفردات ولې مضاف دي تميزته اوکله چي مضاف سي تميزمجرورکيږي ،ځکه کل مضاف اليه مجروروي.

جواب : شارح جواب ورکړچي [للتخفيف حيث تستعمد كثيراً فاقتضى التخفيف ص ۳۱)] ،ځکه مفردات اکثره استعماليږي کثرت استعمال تقاضادتخفيف کوي اوتخفيف په اضافت راځي ،ځکه اضافت سقوط دتنوين ياقائم مقام دتنوين کوي.

سوال: داچي تميزدمفرداتوولې جمع وي.

جواب : داچي ثلاثه بیاترعشره پوري دادلات کوي پرافرادنوتمیزهم جمع ورکړل سوچي معدودچي رجال دی موافق له عددسره سي چي ثلاثه دی.

دجمعې تعریف

جمع هغه اسم ده چي دلالت پرافرادکوي اودلات قصدسوی یې په حروف دمفردد جمع سره خوپه حروفودمفردکې به تغیرموجودوي اوس نوتغیرچي په زیادت سره وي مثلا په رجل کې الف زيات سي نودی دلالت کوي پرافرادويعنی رجال اوکله تغييرپه نقصان سره وي لکه حمرجمع دحمارده مثلا تغییربې زیادت دالف دی په مفردکې اوکله تغییرپه حرکاتو اوسکناتوسره وي مثلا اسدجمع داسدده په جمع کې همزه مضمومه ده اوپه مفردکې همزه مفتوحه ده.

اوپه جمع کې سین ساکن ده په مفردکې متحرک دی داتغییرپه حرکاتواوسکناتوکې حقیقي دی اوچي حکمې تغیروي لکه [فلک]یعنی چي فلک جمع وي نوضمه یې داسي ده لکه ضمه داسداوکه مفردوي نوضمه یې داسي ده لکه ضمه دقفل لاکن داپه نظرکې لرئ چي مرادله حروف دمفردڅخه عام دي که حروف دمفردمحقق وي لکه رجل اويامفروض وي لکه نسوة مفردي نساء په فتحه دنون دی یعنی موږفرض کړې دي چي نساء په فتحه دنون سره مفرددنسوة دی.

قوله انما اختارالتانيث للمذكرعلى خلاف القياس الخ ص (۳۱) : خلا صه داچي که تميزمذکرووعددیې په تاسره راځي اوکه تمیزمؤنث ووعددایې ببله تاراځي ،ځکه موږمخکې داویل چي ثلاثه بیاترعشره دادلات کوي پرافرادویعنی جمع دي په معنې کې نوتمیزیې هم جمع سوچي رجال دی اوس نوجمع خوپه تاویل دجماعت وي اوجماعت لفظ دمؤنث دی نوعددیې هم مؤنث سوددې لپاره چي تمیزچي رجال دی موافق سي له ممیزسره چي عدددی یعنی په معنی کې سره برابرسي که څه هم په لفظ کې سره مخالف دي اومقصوددهم معنی ده.

سوال: محشی سوال کړی دی چي خلاصه یې داده چي ستاسوقاعده منقوضه (ماته) ده چي تاسووایاست چي که تمیزمذکروونوعددبه یې مؤنث وي په دې آیت شریف سره چي [

فله عشرامثالها] دادي تميزچي امثالها دی مذکردی ،ځکه جمع دمثل ده اوعددې يې مؤنث نه دی چي عشر دي نو محشي دوه جوابه ورکړې دي:

۱ جواب : پرطريقه دمنعې هغه داچي امثالها که څه هم لفظا مذکردی مګرعبارت له حسنات څخه دی اوحسنات جمع دحسنة ده نو مؤنث سوخلا صه داچي امثال په معنی کې دمؤنث ده يعنی تميزچي امثال دی مؤنث دی نو عدد به يې خود مذکرراځي چي عشره دی

-**۲ جواب** : يې دادی چي امثال که څه هم په اعتباردنفس سره مذکردی خوچي کله مضاف سوضميردمؤنث ته نو امثال لفظ تانث له مضاف اليه څخه چي ضميردی واخست خلاصه داچي تميزچي امثال دی اوس هم مؤنث دی نودتميزمؤنث لپاره خوعددمذکروي نوآيت شريف اوس هم پرقاعده برابردی عبدالرحمن غفرله.

دشارح داقول چي واماالمرکبات :ص: ۳۲ خلا صه داچي مرکبات بلاعطفه تميزمنصوب کوي لکه په دې آيت شريف کې چي [احدعشرکوکبا الآية] ،ځکه تميزچي مجرورکيږي هغه په وقت داضافت کې وي دلته خواضافت متعذزدی وجه دتعذربې داده چي بيا ۳ کلمې يوه جوړيږي اودامستکره دي نونحات تميزدمرکبات بلا عطفه ته اعراب اصلي ورکړچي نصب دی اوداتميزدمرکبات بلا عطفه به مفردوي ،ځکه مفردمناسبت لری له نصب سره په خفت کې ولي مفردهم نسبتاتثنيې اوجمعې ته خفيف دی نصب هم جراورفع ته خفيف دی

خلا صه داچي دلته لحاظ دتعادل سوی دی اوبل داچي مفرداصل دی ترجمع اوجمع فرع ده اومقصودله تميزڅخه تفسيراوبيان دی نوتفسيرخوپه مفردسره راتلای سي نوعدول اومخ اړول له مفرده وجمعې ته بلا ضرورته غيرجائزدی.

پر[اماالمرکبات] ص۳۲) حاشيه پرته ده خلاصه يعنی دعقودوتميزهم منصوب دی ولې ددوئ اضافت هم نه کيږي مثلا عشرون چي مضاف وي يابه نون باقي وي يابه نه وي په اول صورت کې ته مضافيږي ،ځکه نون دعشرون په صورت کې نون دجمعې دی نوچي عشرون مضاف وي خامخوابه نون حذف کوې ،ځکه چي په وخت داضافت کې حذف کيږي دلته نه دی حذف سوی نوعشرون مضاف نه دی اوپه دوهم صورت کې هم اضافت غيرجائزدی ،ځکه په وخت داضافت کې چي حذف کيږي هغه نونون دجمعې سالمې

يادتثنيې دى اونون دعشرون خونون دجمعې سالمې نه دى خالي په صورت کې لکه نون دجمعې سالمې داسې دى يعنى عقود هم نه مضافيږي نو، ځکه ددوئ تميز منصوب سو.

فائده : يعنى تميزدمائة اوالف اودتثنيې ددوئ دوومثلا مائتان والفان اوجمع دالف چې آلاف دى په الف سره ياألوف په واوسره داپه نظرکې لره چې استعمال دجمعې دمائه نه دى راغلى يعنى مأات خيرخوددغوتميزبه مجرورمفردوي ،ځکه به وي چې مائة اوالف مشابه دي له احادوسره په اصالت کې نوداحادوتميزخومجروروونوددوئ داهم مجرور سواومفردبه ،ځکه وي چې مائة اوالف په جانب دکثرت کې دي اواحادپه جانب دقلة کې دي خلاصه داچې رعايت دتعادل سوى دى.

سوال : په صفحه ۳۲کې دشارح پردې قول چې [لئلايلزم كون ثلاثة كلمات كلمة واحدة] حاشيې والاسوال کړى دى هغه داچې ۳ کلمې به وي اضافت به راغلى وي مثلا خمسة عشرک.

جواب : خلاصه دجواب داده چې (۳) شيان يوشى ګرځول البته مکروه دى چې تميزله قبيلې دعددوي اوکاف له قبيلې دعددنه دي تميزنه دى اوعددچې مضاف وي نودى ممتزج (ګډ) وي له مضاف اليه سره لفظا اومعنى.

سوال : دغه محشى بياسوال کړى دى چې په (۳) کلموکې به اضافت راغلى وي لکه [ثلاثة مائة امرأة] بايدچې دغه اضافت نه واى جائز.

جواب : داپه دې وجه روادى چې داترکيب موافق سي له خالي مائة امرأة سره په دې کې خومائة مضاف دى اودرې کلمې هم يوه نه ګرځي نونحات چې لفظ دثلاث ورسره ذکرکوي داترکيب يې هم جائزکړله وجې دموافقت والله تعالى اعلم.

دشارح داقول چې [وهكذاحال المركبات بالعطف الخ] يعنى مرکبات هم خلافَ القياس دي ،ځکه مرکبات فرع دمفرداتودي نوفرع خوداصل حکم اخلي چې مانع منع نه وي کړې نوچې موږپه اخيرکې قيددمايمنع شرط کړداوروسته سوال دشارح نه کيږي بلکې داسوال هلته کيدى چې مانع نه واى موجوددلته خومانع موجوددى چې هغه اجتماع دعلامتينودتانيث ده په هغه کې چې هغه لکه کلمه واحدداسې دى يعنى عشره سره له ثلاثه پرمنزله ديوې کلمې دي.

قوله ولم يجعل علی العکس ص (۳۳) خلاصه داچي که اول جزء مذکرسي دوهم مؤنث سي مثلا ثلاث عشرة رجل هم فرع جاري کيږي په تيره بياداصل اواجتماع دعلامتينو دتانث هم نه راځي نوعکس به دې کړی وای.
جواب: خلاصه داچي په مرکبات کې هم دمذکردتمييزلپاره عددمؤنث راځي نومقصود تانث سواوس نوکه عکس وسي نوپرمقصودله اوله وار اشعار(اګاهي) نه راځي په دوهمه مرتبه کې اګاهي راځي اوچي عکس ونسي نوپرمقصودپه اول وارکې اګاهي راځي [والا شعارعلی المرادمن اول الا مراحری واليق وانسب واحوط واجدرمن الامرالثانی لانه لا انتظارفيه بخلاف الثانی]
سوال: شارح بياسوال کړی دی چي په [احدی عشرة امرأة] دارازپه [حبليات ، ضربيات مثلا په احدی عشرة کې يوالف مقصوره بله تادعشره ده په حبليات کې يوه يامنقلبه له الف څخه بله تادي.
جواب: داچي هغه اجتماع غيرجائزده چي له يوه جنس وي په دې مثالوکې له يوه جنسه نه ده.
سوال: محشی بياسوال کړی دی چي په [ضربن] کې دې ولې تاحذف کړې ده سره له دې چي په [ضربن] کې هم اجتماع دعلامتينوله يوه جنسه نه ده نو، ځکه يوه تاده بل نون دی.
جواب: داچي ضربن فعل دی فعل خوثقيل دی ،ځکه حدث ، نسبت ،زمان درې سره غواړي نوپه فعل کې دوې علامې بيخي منع دي که څه هم له يوه جنسه نه وي اواسم سپک دی نوکه جنس مخالف ووبيااجتماع جائزاوکه نه نونه ده جائزهکذاقال مولانا احمدبن علی فی کتابه المراح الا رواح.
سوال: شارح بياسوال کړی دی چي [په ثنتاعشرة] کې خوله يوه جنس راغلې دي ،ځکه په [ثنتا] کې هم تاده په عشرة کې هم.
جواب: شارح جواب ورکړی دی چي په ثنتاکې تاپه اصل کې نسته بلکي عوض له يا څخه ده خلاصه داچي دوې علامې له يوه جنسه نه دي.
سوال: شارح بيا سوال کړی دی: چي خلاصه يې داده چي دافرع مخالفه سوه له اصل سره ،ځکه په حال دافرادکې لفظ دعشرمذکرووااوپه حال دترکيب کې مؤنث سو.

جواب : عکس په حال دافرادکې لپاره دفرق په مينځ دمذکراومؤنث کې وويعنى دمذکر دتميزلپاره به عددمؤنث وي اودمؤنث دتمييزلپاره به مذکروي اوس نوپه حال دترکيب کې خوفرق په مابين دتذکيراوتانيث کې خوپه جزاول سره معلوم سويعنى که اول جزعددمذکروونوتمييزبه يې مؤنث وي اوکه مؤنث ووتميزبه يې مذکروي نوچې په مرکباتوکې فرق په مابين دمذکراومؤنث کې په اول جزعددسره راغى نوله تانيث دجزثانى دعددڅخه مانع نسته [وفيها کلا م طويل لايليق بهذه الرسالة لانهاتقرء في حال (ابتدا) والطلبة في وقت قرأتها غيرعارفين بالقواعدالنحويه فلهذاحال الشارح ضمناالى الکتب المطولات.

دناظم داقول چې [بازنانى ص: ٣٣الخ] خلا صه داچې کم استفهاميه هم اسم منکرته نصب ورکوي اوس نوفرق په مابين دکم استفهاميه اوخبريه کې په اعتباردمعنى دادى چې که کم متضمن معنى داستفهام لره وواستفهاميه دى لکه [کم رجل عندک] اوکه نه وومتضمن هغه خبريه دى لکه [کم رجل عندى] اوفرق ددوئ دووپه اعتباردلفظ دادى چې ترکم استفهاميه وروسته به تميزمنصوب مفردوي يعنى تميزدکم استفهاميه به منصوب وي لکه [[کم رجلا عندک] اودخبريه تمييزبه مفردمجروروي لکه [کم مال انفقته] اويابه جمع مجروره وي لکه [کم رجال لقيتهم] خلا صه داچې تميزدکم استفهاميه به لازمي منصوب وي اودخبريه دابه لازمي مجروروي نوکه تميزدخبرې مفردوي که جمع وي خومجروربه خامخاوي نوزه ورته ګورم که تميزمنصوب وونوکم استفهاميه دى اوکه يې تميزمجروروونوکم خبريه دى خوداپه نظرکې لرئ چې دافرق هغه وخت دى چې ددوئ پرتميز[من] جاره داخل نه وي اوکه پرداخل وو بياتميزدکم خبريه اواستفهاميه دواړومجرورکيږي نوپه دې وخت کې يې فرق په لفظ کې نه کيږي بلکې له مقامه به داستفهاميه اوخبريه فرق معلوميږي.

فائده : تعبيرله کم استفهاميه په [اى عدد] کيږي اوله کم خبريه څخه په [عددٌ کثير] سره کيږي يعنى مطلق عددمعنى يې مشترک ده په مابين ددوئ دووکې خالي په کم استفهاميه کې عددمعلوم وي مخاطب ته په ګمان دمتکلم اومتکلم ته نه وي معلوم اوکم خبريه بيادهغه عددلپاره وي چې مخاطب ته نه وى معلوم اومتکلم ته اکثره وخت معلوم وي اومعدودپه دواړوکموکې مجهول وي والله اعلم.

په صفحه (۳۴) کې داقول دشارح چې [حملا علی المرکبات الخ] خلاصه داچې مرادله مرکباتوڅخه مطلق مرکبات دي که مع العطف وي که بلا عطف وي ددوئ دووبيان مخکې تيرسواوس تميزدکم استفهاميه منصوب دی ،ځکه حمل دی پرمرکباتووجه دحمل يې محشی بيان کړی ده هغه داچي کم استفهاميه دمطلق عددلپاره راځي که اقل وي که اوسط وي که اکثروي دابيان بياتيرسوی دی خيرخوزه بې بياکوم اقل له يوتر۱۰پوري اوسط له ۱۱تر۱۹ پوري اکثرله ۲۱څخه تر۹۹پوري اوبياترغيرنهايې پورې اوس نودکم استهاميه تميزپرعدداوسط حمل سويعنی منصوب سواوپرعدداقل اوکثرنه سوحمل ،ځکه بياترجيح بلا مرجح راځي ولې اقل اواکثردواړه طرفين دي نويوطرف خومساوي له بل سره په طرفيت کې وي نوداويل کيږي چي پردايوه يې حمل کوې نوپردابل يې ولې نه حمل کوې خلاصه داچي پراقل يااکثرحمل سي خامخواترجيح بلا مرجح راځي نوچي تميزد کم استفهاميه پرعدداوسط حمل سونوتمييزداوسط خومنصوب وونوتميزدکم استفهاميه هم منصوب سواومفردسونه مجرورسونه جمع سو.

دشارح داقول چي [بخلا ف کم خبرية ص: ۳۴الخ] خلاصه داچي کم خبريه پراوسط نه حمل کيږي ،ځکه چي کم خبريه لپاره دتکثيروي نوتکثيرخوضددی له توسط سره نونه سي حمل کېدای پرعدداوسط نوچي نسي حمل کېدای نوتميزدکم خبريه به مجروروي په اضافت سره يعنی کم خبريه به مضاف وي خپل تمييزته وجه داضافت يې تخفيف دی نوپه اضافت سره تخفيف راځي کماهومقتضاها معنی داچي شی کثيرالاستعمال وي نو تقاضاد تخفيف کوي اوتخفيف خوپه اضافت سره راځي.

سوال: چي تمييزدکم خبريه به مجروروي نه مضاف اليه مثل کم عندی رجلا.

جواب: چي تميزدکم خبريه هلته مجروروي چي فاصل دخبريه اودده دتميزپه مابين کې نه وي په دې مثال کې خوعندی فاصل دی نوکم نسي مضاف کېدای نوتميزدکم خبريه ته اعراب اصلي ورکړل سوچي نصب دی ،ځکه تميزخوله منصوباتودی.

دشارح داقول چي [ثالث ايشان کاين ص: ۳۴] خلا صه داچي کاين هم دلالت پرتکثيرکوي لکه کم خبريه مثلا کاين من رجل لقيته اوکله ، کله بيامتضمن استفهام لره وي مثل کاين رجل عندک لاکن داکاين په معنی دکم خبريه ډيره راځي

داقول دشارح چي [شان كذاص: ۳۴] خلاصه داچي كذا دمطلق عددلپاره راځي نو بيو فرق دكذاله كاين سره دادى چي كذا دمطلق عددلپاره راځي او كاين دتكثيرلپاره راځي دافرق هم كېداى سي چي تميزدكذا واجب النصب دى يعني تميزدكذابه همېشه منصوب وي مجرورنه سي كېداى اودكاين تميزكله منصوب وي ،كله مجروروي دارازكذا بيخي نسي متضمن كېداى معنى داستفهام لره په اتفاق دنحاتوسره او كاين كله متضمن كېداى سي معنى داستفهام لره خيرخوفرق دكذا او كاين سته په دې كې غالبا نورهم داسي شيان سته چي دوئ دوه فرق پکي لري.

نهمه نوع

داقول دشارح چي [كزان شش] ص: ۳۴ يعني اسماء افعال پر(۹) قسمه دي (۲) اسم ته نصب وركوي بناپرمفعوليت او (۳) اسم ته رفع وركوي بناپرفاعليت اوددغوشپږ (۲) ضمير مستتردى او هغه ضميربه مرفوع محلا وي په دغو (۲) سره.

اوداقول دشارح چي [انما سميت] ص: ۳۴ يعني دنحاتودا عادت وو چي يوشى په معنى دبل شى وي نودوئ پردې اول شى نوم دثانى ږدي مگردا په فكركې لرئ چي دادوه شيان به په احكام لفظيه كې سره مختلف وي خيرخوپه دې ځاى كې هم داسماء په معنى داافعال دي نودې اسماؤته اسماء افعال وايي مگرپه احكامولفظيه كې سره مختلف دي ،ځكه فعل نقل كيږي فعل ماضى ، مضارع ،امر،نهى ،اسم فاعل ، اومفعول ته او اسم خودغه شيانو ته نه تقسيميږي په خارج كې دادى مثال لري لكه مصدراو اسم مصدر اول په معنى دثانى دى مگرپه احكامولفظيه كې سره مختلف دي ،ځكه له مصدرڅخه اشتقاق كيږي اوله اسم مصدرڅخه اشتقاق نه كيږي والله اعلم.

سوال : داچي ناظم ولې اسماء افعال (۹) وويل دانه دى صحيح ،ځكه نزال ، تراک داراز حروف نداداهم په معنى دفعل دي داراز[صه (اسكت) مه (اترک)] په معنى دامردي.

جواب : داچي ناظم پرمشهوره تللى دى يعني مشهور(۹) دي نه چي اسماء افعال حصرپه دغو(۹) كې دي نوكه ناظم حصركړى واى بيانوسوال كېداى.

په صفحه (۳۴) كې دشارح داقول چي [وانما صار الاول اى التى بمعنى الامرالخ]ص: ۳۴ خلاصه داچي اول (۲) په معنى دفعل متعدى دي نونصب په اسم كې بنابرمفعول دى

لکه [رويد زيدا] اوباقي (٣) په معنى دفعل لازمي دي نورفع په اسم کې بنا پر فاعليت ده لکه [هيهات زيد].

په صفحه (٣۴) کې دشارح داقول چي [وعلم انها تقترن باحد الازمنة الثلاثة الخ] په دې کې دفع دراتلونکي سوال ده

سوال : داچي داسم تعريف خودادی چي [مادل على معنى في نفسه غيرمقترن باحد الازمنة الثلاثة] نودااسماء افعال خو مقترن دي نو تعريف دې جامع نسو.

جواب : دادی چي دااسماء موږ مقترن بولودا په وضع ثاني سره دي نه په وضع اوله سره او چي موږ وايو چي اسم به مقترن نه وي په زمانه پورې دا په وضع اوله کې مراددی يعنى په وضع اوله کې به نه وي مقترن اودااسماء افعالو ته اسماء منقوله هم وايې ،ځکه دوئ رانقل سوي دي له اولې وضعې څخه.

لسمه نوع

په افعال ناقصه کې داافعال ناقصه اسم ته رفع اوخبرته نصب ورکوي اوس نو په دې افعالو کې په (ليس)کې اختلاف دی جمهوروايې چي ليس لپاره دنفې دمضمون دجملې ده في الحاله مثلا [ليس زيدقائما] معنى داچي اوس في الحاله دزيدقيامه نسته اودسيبويه مذهب دادی چي ليس لپاره دنفې دمضمون دجملې ده په ټولوزمانوکې نومعنى داچي قيامه دزيد په ټولوزمانوکې منتفى ده.

په صفحه (٣٦) کې دناظم داقول چي [کزينها مشتق اند] خلاصه داده چي محشى سوال کړی دی:

سوال: هغه داچي له دې افعال ناقصه وو څخه چي مشتق دي هغه خواسم فاعل ، مضارع ، مصدردغه شيان دي نويابه دامرادوي چي داافعال ناقصه مشتق منه دي اودغه مضارع اواسم فاعل اومصدرځيني مشتق دي نوداخوپرمذهب دبعض صحيح دی ،ځکه بعض وايې چي مضارع اودغه نوردوه له ماضي مشتق دي اودجمهوروپرمذهب نه صحيح کيږي ،ځکه دوئ وايې چي مضارع اودانورله مصدرڅخه مشتق دي اوکه دامرادسي چي مضارع اودانورمشتق دي له افعال ناقصه وو څخه يعنى دامضارع اونوردوه شريک دي له افعال ناقصه ووسره په مبدأ کې يعنى دمضارع اواسم فاعل اومصدراوافعال ناقصه مصدريودی يعنى دواړه له يوه مصدرڅخه مشتق (جوړ) دي اوس نوداخوصحيح دی چي

مضارع اواسم فاعل مشتق دي له مصدرڅخه مګردانه صحيح کيږي چي مصدرله مصدرڅخه مشتق سي ،ځکه چي مصدرنه له ځانه مشتق کيږي ،نه له غيرڅخه خلاصه داچي که دامعنى واخلې چي مضارع اسم فاعل ، مصدراو افعال ناقصه له يوه مصدرڅخه مشتق سي نوخامخوامصدرله مصدرڅخه مشتق کيږي وهو کماترى.

جواب : داچي مرادله اشتقاق څخه دمضارع الخ له افعال ناقصه ووڅخه علاقه داشتقاق وي يعنى که افعال ناقصه مشتق له مضارع ، امراسم فاعل مصدرڅخه وي اويقينا افعال ناقصه مشتق کېداى سي له دوئ څخه په اعتبارددې له يوه فردسره چي مصدردى اوکه مضارع الخ مشتق وي له افعال ناقصه ووڅخه اوس نوچي داتعميم وسوچي که دوئ مشتق له افعال ناقصه ووڅخه وي اوکه ناقصه مشتق له دوئ وي نوبيايونقصان هم نه راځي ،ځکه علاقه داشتقاق موجوده ده په مابين ددوئ اوافعال ناقصه ووکې مثلا مصدرمشتق منه دى لپاره دافعال ناقصه وواومضارع ا،امراواسم فاعل چي دي دابيابالذات مشتق له دغوافعال ناقصه ماضيه ووڅخه دي که څه هم په اخيرکې بيرته مشتق له مصدرڅخه دي والله اعلم وفى هذه الحاشية اضطراب کثيروتعسرعلىّ لعلک وضحتهامنى.

په صفحه (٣٦) کښ دشارح داقول چي [اى النوع العاشرالا فعال الناقصة] خلاصه داچي محشى تعريف دافعال ناقصه ووداراز کړى دى چي افعال ناقصه فاعل پريوه داسي صفت ثابتوي چي هغه صفت مصدرد دغوافعالوناقصه ووته وي يعنى داصفت مغايروي له مصدرڅخه دافعال ناقصه وومثلا [کان زيدجالسًا] اوس نوکان دازيدچي فاعل دکان وو پرصفت دجلوس ثابت کړنوجلوس خومصدردکان نه دى داراز دغه نورافعال ناقصه هم دي چي قال پريوه داسي صفت ثابتوي چي داصفت به مصدرددوئ نه وي اوافعال تامه نه داسي نه دي مثلا [ضرب زيدٌ] نوضرب دغه زيدپريوه داسي صفت ثابتوي چي هغه صفت مصدرددغه فعل دى يعنى [الضرب] دى.

دشارح داقول چي [ومدخولها الجملة الاسمية] يعنى دوئ پرجمله اسميه داخلېږي اوس نوتعريف داسمي اوفعلي ميرسيد سندداسي کړى دى چي اسميه هغه بولي چي اول جزيې اسم وي لکه [زيدقائم] اوفعليه هغه بولي چي اول جزيې فعل وي لکه [ضرب زيد]

يوولسمه نوع

دافعال مقاربه ووپه بيان کې افعال مقاربه هم اسم ته رفع ،خبرته نصب ورکوي اودوئ ته مقاربه .ځکه وايې چې دوئ نژدي والی دخبرکوي واسم ته.

سوال : داچي په اول دکتاب کې موږويل چي دڅومره عواملوعمل يوويعنی په عمل کې سره متحدوونوهغه يوه نوع ده بناپردې قاعده بايدچي افعال ناقصه اومقاربه يوه نوع سي ،ځکه دناقصه اومقاربه عمل يودی نوشارح جواب ورکړپه دې قول سره چي وعلم ان عدتهانوعاآخرعنذالاخفش واماعندسبيويه فافعال بالمقاربة وافعال الناقصة کلاهما افعال الناقصة.

جواب : چي دامقاربه علی حده نوع بلل دامذهب داخفش دی دليل يې دادی چي اتحادنوع په اتحاددعمل دعواملوکې مشروط دی په اتحاددمدخول سره خلا صه داچي موږوايوچي څومره عوامل په عمل کې سره يوونودايوه نوع ده مګرداشرط غواړې چي مدخول به يې هم يووي يعنی فرق به يې په مدخول نه وي دلته خوفرق سره لري ،ځکه دانعال ناقصه ومدخول جمله اسميه ده مګرخبريې اکثره وخت جمله نه وي اودافعال مقاربه ومدخول که څه هم اسميه ده خوخبريې اکثره وخت جمله وي نوافعال ناقصه اومقاربه که څه هم په عمل کې متحددي خوپه مدخول کې سره مغايردي.

په صفحه (۳۷) کې دشارح داقول چي [لاتحادهما فی العمل والمدخول] دادليل دسيبويه دی خلا صه يې داده چي شارح ميلان دسيبويه مذهب ته کړی دی که څه هم مختاره په نزددناظم مذهب داخفش دی خيرچي دشارح دسيبويه مذهب خوښ وونود سيبويه دليل يې ذکرکړاوداخفش دليل يې ذکرنکړ ليکن دسيبويه مذهب ضعيف دی ،ځکه چي اتحاددعمل اتحادنوعی واجبوي داهلته چي فرق په مدخول کې نه وي اوپه افعال ناقصه اومقاربه کې که څه هم اتحادپه عمل کي سته مګراتحادپه مدخول کې نسته ،ځکه خبردناقصه وواکثره وخت جمله نه وي اودمقاربه خبراکثره وخت جمله وي.

په صفحه (۳۸) کې دشارح داقول چي [وعددها اربعة] داجواب دسوال دی:

سوال : دادی چي حصردمقاربه په (۴) کې نه صحيح کيږي ،ځکه چي [جعل ، طفق اخذ] هم مقاربه دي ولې دوئ دلالت کوي پرقرب دحصول دخبراسم لره په قرب شروع سره.

جواب: دناظم او شارح دواړو مذهب دشيخ خوښ دی او دشيخ پرمذهب مقاربه حصردي په دغو (۴) کې او اخذ، طفق او جعل دا پرمذهب دبعضو له مقاربه څخه دی.
وبعد ذلک اورد المحشی کلاما مفصلا ففصل مافصل وانا اقصرولا ابين ولکل وجهة هو موليها عبد الرحمن غفرله.
دشارح داقول چي [تأمل] ص: ۳۸ داجواب دی له سول څخه:
سوال: داچي مقاربه منسلخ سوه نو اسماء دي سي ځکه دا سم تعريف پرصادق سو.
جواب: چي اسم خو هغه دی چي په اصل وضع کې غيرمقترن وي نومقاربه خو په اصل وضع کې مقترن وو خالي دا ستعمال په وجه غيرمقترن وګرزيدل استعمال خو يو عرض دی عارض خو معتبرنه دی نو مقاربه خودا سماء نه سو.

دوولسمه نوع (ص ۳۸)

قوله: [ديګر حبذ] محشی وايې چي حبذله باقي (۳) جلا ده، ځکه چي دحبذ وضع لپاره دمدحې نه ده راغلې بلکي دزيات محبت لپاره ده او د [نعم] وضع دانشاء مدح لپاره ده.
دشارح داقول چي [فاعلها اسم جنس] ص: انا اشترط ان يکون پردې ځای محشی ترکيب دنعم الرجل زيد کړی دی هغه داچي نعم فعل مدح دی الرجل يې فاعل بالمدح دی فعل سره له فاعله داخبرمقدم دی زيد مخصوص مبتداء مؤخره ده دا يو ترکيب دی دوهم ترکيب داچي نعم فعل الرجل يې فاعل دی دا يوه جمله ده او زيد چي مخصوص بالمدح دی داخبرلپاره دمبتداء محذوفې دی چي هوده چي راجع وفاعل بالمدح ته دی دا بله جمله ده اوس نو فاعل دافعال مدحه به اسم جنس وي او معرف په لام ذهني سره به وي يا به مضاف وي هغه ته چي هغه معرف بلام ذهني وي.
سوال: محشی سوال کړی دی چي داحصرنه دی صحيح چي فاعل ددوئ به يا مضاف معرف بلام ذهنی ته وي يا معرف په لام ذهنی سره لکه [نعم فرس غلام الرجل] نو دادی فاعل فرس دی نه معرف په لام دی، نه مضاف معرفه په لام ته دی.
جواب: داچي مضاف معرف په لام ته عام دی که بلا واسطه وي که په واسطه سره وي نو فرس که څه هم بالذات مضاف معرف بلام ته نه دی مګر په واسطه دغلام مضاف دی معرف بلام ته نو زموږ خبره صحيح ده چي فاعل به معرفه بلام وي يا به مضاف معرف بلام ته وي خلاصه داچي فرس هم مضاف معرف بلام ته دی که څه هم په واسطه دی.

سوال : داچي فاعل ددوئ به اسم جنس نه وي ضمير مستتر به وي چي تميزيې نکره راغلی وي لکه [نعم رجلا زيد] نو فاعل دنعم ضمير مستتر دی چي تميزيې رجل دی زيد خويې مخصوص وو.

جواب : موږداخبره کووچي فاعل به يې اسم جنس نه وي دقاعده اکثريه ده کليه نه ده يعنی اکثره وخت دافعال مدح اوذم فاعل اسم جنس وي.

داسم جنس تعريف

محشی داسم جنس تعريف کړی دی خلاصه داچي اسم جنس وضع دی دشی لپاره اودهغه لپاره چي له دې شی سره شريک وي په حقيقت کې اوس نوشريک عام دی که خالي په ذهن کې موجودوي په خارج کې نه وي لکه شمس چي وضع دی دهغه جسم موجودپه خارج کې تکۍ دلمرده اودده دشريک لپاره چي بله تکۍ ده اوپه خارج کې نسته خالي موږپه ذهن کې فرض کړې ده اوکه شريک په ذهن کې هم وي په خارج کې هم لکه اسد دافراد مشترکه وولپاره وضع دی اوس نوچي په ذهن کې فرض سوی دی داموجودپه ذهن کې بلل کيږي اوهغه افرادچي په ذهن کې نه دي فرض سوي هغه موجودپه خارج کې بلل کيږي.

دنکره اواسم جنس په مينځ کې فرق

محشی داسم جنسن اونکره په مينځ کې فرق کړی دی هغه داچي اسم جنس اونکره په ذات کې يودي ،ځکه تعريف ددواړويودی چي هغه [الذی وضع لشئ وشبه ذلک الشئ المشارک لذلک الشئ فی الحقيقة] خالي اعتباري فرق يې سته ،ځکه اسم چي په اعتبار دعدم تعيين دمفهوم واخلي نکره دی اوچي په اعتبارداطلاق پرمشارکينوپه حقيقت کې پرطريقه دبدليت واخلي نواسم جنس يې بولي.

فائده : موږوايوي فاعل به اسم جنس وي اومعرفه په لام ذهني به وي شارح يې علت داويلی دی چي تکراردمدح ياذم راسي ،ځکه فاعل چي اسم جنس سونوعام سونومدح دمخصوص چي زيددی يابه په ضمن دعام کې راسي ،ځکه فاعل بالمدح اسم جنس دی اسم جنس خوعام وي بيابه مدح ياذم په ضمن ددې خاص کې راسي چي مخصوص بالمدح دی لکه نعم الرجل زيداوچي موږوايوچي معرفه په لام ذهنی به وي دا ،ځکه چي مقصودله افعال مدح اوذم څخه مدح ياذم دهغه فرددمعهودپه ذهن کې وي نوفاعل هم معرفه بلام

ذهنی سو چي دامذکور موافق سي له مقصود سره ،ځکه په الف لام ذهنی سره هم اشاره وهغه معهود فی الذهن ته کيږي.

په صفحه (٣٨) کې د شارح پر دې قول چي [وهو الرجل] محشی سوال کړی دی هغه دا چي وهو مبتداء ده راجع د عمومیت ته نو عمومیت خو صرف وصف دی او هو خبر دی او ذات دی او خبر خو حمل پر مبتداء وي دلته نه صحیح کیږي ،ځکه حمل د ذات راځي پر صرف وصف چي عمومیت دی مثلا داسي نه ویل کیږي چي العمیة رجل ده

جواب : دا سوال هلته کیږي چي ضمیر د هو راجع سي عمومیت ته او دلته راجع دی وهغه شی عام ته چي له عمومیت څخه فهمیږي ،ځکه معنی د عمومیت [کون الشئ عاما] دی

په صفحه (٣٨) کې د شارح دا قول چي [فان قیل اذا تقرر ان اللام للعهد الذهنی] خلاصه دا چي لام ذهنی سو دا خو په قوت د نکره کې وي نو دی څرنګه وایې چي معرفه به په لام ذهنی وي جواب دا چي لام ذهنی له هغه معرفه په لام خارجي سره مشابه دی.

د شارح دا قول چي [والمراد من افعال المدح والذمی ما وضع لانشاء المدح والذم الخ] ص ٣٩ : دا جواب د وروسته سوال دی:

سوال : دا چي حصر د افعال مدح او ذم په (۴) کې نه صحیح کیږي ،ځکه [مدحت ،ذممت] هم له افعال مدح او ذم څخه دي.

جواب : خلاصه د جواب داده چي مراد له افعال مدح او ذم څخه هغه دي چي دوئ وضع وو لپاره د انشاء د مدحې یا ذم مدحت او ذممت خو اخبار دي نو حصر صحیح سو باقي عبارت واضح دي.

دیارلسمه نوع (ص ۴۰)

په دیارلسمه نوع کې بیان د افعال قلوب کیږي افعال قلوب ته افعال قلوب ،ځکه وایې چي دوئ له قلب (زړه) څخه صادریږي.

سوال : محشی سوال کړی دی : خلاصه یې داده چي افعال قلوب خو الفاظ دي نو الفاظ خو صادر له ژبې وي ژبه خوله جوارحو څخه ده.

جواب : چي په صفحه ۴۰ کي په دې قول د شارح کې چي [لان صدورها] من القلب حذف د مضاف دی یعنی لان صدر معانیها من القلب او معانی د افعال قلوب خو یقین او شک دي نو یقین او شک خو د زړه کار دی د ژبې کار نه دی نو وجه د تسمیې صحیح سوه.

په صفحه (۴۰) کې دشارح داقول چي [ولادخل فيه للجوارح] داجواب دسوال دی:
سوال: دادی چي افعال خوټول له زړه څخه صادردي مثلا [ضرب ،نصروغيرهما] ،ځکه صادروونکی دټولو افعالو اختياريه ووزړه دی نوبايدچي ټول افعال افعال قلوب وبلل سي.
جواب: داچی مرادله افعال قلوب څخه هغه افعال دي چي فقط له زړه صادروي جوارحولره هيڅ دخل اوبرخه نه وي اوضرب ، نصرکه څه هم صادرله زړه دي ليکن جوارحولره پکي دخل سته نوځکه ټول افعال افعال قلوب نه دي بلکي افعال قلوب هغه دي چي اعضاء ظاهره ووته احتياج نلري فقط له زړه صادريږي يعنی هغه قواوې باطنه په دوئ کي کافي وي.
په صفحه (۴۰) کې دشارح داقول چي [وتدخل علی الجملة الاسمية] وجه داختصاص دافعال قلوب پراسميه داده يعنی هرفعل چي پرجمله داخل وي نودافعل به په دواړوجزؤ ددې جملې کې عمل کړی وي اوس نودافعال قلوب خوپه دواړوجزؤدفعليه کې عمل نه سي کولای نه درفع ،نه دنصب ،ځکه عمل درفعي خوپه مسنداليه کې وي اوجزء اول دفعليه خوفعل دی فعل خومسندابداوي خلا صه داچي افعال قلوب په اول جزدفعليه کي درفعې عمل نسي کولای ددې وجه مخته ذکرسوه اودنصب عمل هم په جزاول کې نسي کولای ،ځکه دنصب عمل چي په فعل کې کوي هغه خوحروف دي مثلا [ان ولن کی یاان ولم الخ] يوفعل خوپه بل فعل کې دنصب عمل نه کوي اوپه جزدوهم دفعليه کې هم داافعال قلوب عمل نسي کولای ،ځکه جزاول دفعليه عامل وو په جزدوهم کې نوکه افعال قلوب عمل درفعي يانصب په دوهم جزء دفعليې کې وکړي نوتواردد عاملين به پرمعمول واحدراسي داخوباطل دی نوپرفعليه داافعال بيخي نه داخليږي نوخودبه داخل پراسميه وي.
دشارح داقول چي [واسمائهاافعال القلوب وافعال يقين وشک] ص: ۴۰دلته سوال کيدی هغه داچي له يقين اوشک څخه خوافعال نه صادريږي نونحات يې څنګه افعال يقين اوشک بولي محشی جواب کړی دی چي ددال نسبت سوی دی ومدلول ته يعنی داافعال قلوب دال پريقين اوشک دي ،ځکه بعض ديقين لپاره دي بعضي دشک لپاره دي داسي نه چي افعال قلوب صادرله يقين اوشک څخه دي.

په صفحه (۴۱) کې دشارح داقول چي [اسم مشتق من الفعل المضارع المعلوم لمن قام به الفعل بمعنى الحدوث] په دې کې احترازدی له صفت مشبه څخه ،ځکه هغه وضع ده دهغه چالپاره چي په دې پورې قائم وي پرطريقه دثبوت نه دحدوث اوس نومرادله حدوث څخه وجوددهغه حدوث ده چي وجودېې مقيدوي په يود زمانوثلاثه وو پورې اومرادله ثبوت څخه وجوددهغه حدوث دی چي هغه مقيدنه وي په يوه د دې زمانو پورې.

اوس نوچي شارح اسم ذکرکړاجسن دی چي مشتق يې ذکرکړدانويوفصل سواسماء غيرمشتقه خارج سواوچي معلوم قيديې ذکرکړدابل فصل سومفعول خارج سواوچي معنى الحدوث يې ذکرکړصفت مشبه خارج سووجه يې مخته ذکرسوه خيرخوکه اسم فاعل متعدی وونوفاعل ته رفع ورکوي مفعول ته نصب لکه [زيدضارب ابوه عمرا] اوکه لازمي وويوازي فاعل ته رفع ورکوي لکه [زيدقائم ابوه] له واعلم (ص ۴۱) څخه بياترقوله له مصدپوري خلاصه داده چي اسم فاعل چي عمل کوي شرط يې دادی چي دی به په معنى دحال يااستقبال وي ،ځکه دی دمشابهت دمضارع له وجې عمل کوي نوپه لفظ کې خومشابه ده له مضارع سره په حرکاتواوسکناتواوپه عددد حروفوکې نوپه زمانه کې به هم مشابه وي چي مشابهت داسم فاعل کامل سي له مضارع سره نوبه عمل وکړي اوکه په معنى دحال يااستقبال نسي بيامشابهت نه دی کامل نوعمل هم نسي کولای ،ځکه شرط دعمل داسم فاعل مشابهت کامله ووهغه نسته.

سوال : داچي اسم فاعل به عمل کړی وي په معنى دحال به نه وي په معنى دماضي به وي لکه [باسط ذراعيْه] نوباسط په ذراعيه کې دنصب عمل کړی دی اوپه معنى دحال نه دی

جواب : محشي جواب کړی دی چي مرادله حال اواستقبال څخه عام دی يعنى که په معنى دحال حقيقي وي اوکه دحکايتی دلته باسط په معنى دحال حکايتي دی حکايتي حال دامعنى چي متکلم هغه ماضي زمانه دي فرض کړي چي دازمانه اوس موجوده ده يعنى هغه زمانه ماضي اوس په وخت دتلفظ داسم فاعل کې موجوده ده نوداسي چي سي يقينااسم فاعل په معنى دحال ده يادااسم فاعل (چي په معنى دماضي وو) دی فرض کړي چي دااسم فاعل موجودووپه ماضي زمانه کې نوچي موجودسونوخودپه معنى دحال سوواللہ اعلم.

دوهم شرط دعمل داسم فاعل دادی چي اعتمادبه يې کړی وي پر(٦) شيانواوس نواعتمادپرمبتدادامعنی چي اسم فاعل خبرواقع سوی وي له دغې مبتداڅخه اعتماد پر موصوف دامعنی چي اسم فاعل صفت ددغه موصوف وي اواعتمادپرذوالحال دامعنی چي اسم فاعل حال له دغه ذوالحال څخه وي اواعتمادپرموصول دامعنی چي اسم فاعل صله ددغه موصول څخه وي اواعتمادپرنفي اواستفهام دامعنی چي پراسم فاعل نفې اواستفهام راغلې وي علت داعتمادداسم فاعل پردغوشپږوشیانودادی چي وضع دعمل لپاره خودفعل ده اسم فاعل نه دی نوداسم فاعل عمل ضعيف دی چي اعتمادنه وي عمل نسي کولای خلاصه داچي داسم فاعل دعمل کولولپاره دوه شرطه دي یوداچي په معنی دحال یااستقبال به وي دوهم داچي اعتمادبه يې پر(٦) شیانوکړی وي.

سوال : چي مصدرخودعمل لپاره نه دی وضع لکه اسم فاعل بایدچي مصدرهم اعتمادپردغوشیانوکړی وای اودارازپه معنی دحال یااستقبال وای.

جواب: داچي مصدرقوي مناسبت له فعل سره لري ،ځکه مصدرخوجزدفعل دی نو ،ځکه هغه شروط نه غواړې چي اسم فاعل يې غواړې نوقیاسول دمصدرپراسم فاعل قیاس مع الفارق دی.

داسم فاعل داعتمادمثالونه شارح پخپله ذکرکړې دي توضيح ته يې ضرورت نسته.

دمصدرتحقيق

په صفحه (۴۱) کې د[قوله مصدر] خلا صه داچي معنی لغوی دمصدرځای دراوتلوته وایې اوپه اصطلاح کې هغه ته وایې چي له ده افعال مشتق (جوړيږي) اوس نوکه متعدي وونودده عمل درفعی اونصب ده اوکه لازمي وونوعمل دده فقط رفع ده اومصدرچي عمل کوي کله سره له تنوینه وي لکه [اعجبنی ضربٌ زیدعمرا] یعنی بلا اضافته اوکله سره له اضافته وي لکه [إعجبنی ضرب زیدعمرا] دادواړه جائزدي.

داسم مفعول تحقيق

داسم مفعول لغوی اواصطلاحي معناوې دواړې ظاهره دي لیکن دی یوازي درفع عمل کوي اوهغه شروط چي اسم فاعل غوښتل اسم مفعول يې هم غواړې.

داضافت تحقيق

قوله مضاف ضابطه اضافت]ص: ۴۲ خلاصه داچي مضاف په لغت کې وبل ته منسوب سوې ته وايې اوپه اصطلاح کې هرهغه اسم ته وايې چي مضاف وي بل ته په واسطه دحرف جرسره دامضاف که جامدوي لکه [غلام زيد] يامشتقي وي لکه [ضارب زيد] اوس نودابن حاجب مذهب دادی چي دغه حرف جرکه تقديراوي لکه [غلام زيد] ،که لفظا وي لکه [مررت بزيد] نوابن حاجب زيدپه دغودواړوترکيبوکې مضاف اليه بولي يعنی اسم چي مضاف سوی وي په واسطه دحرف جرسره دااسم مضاف بولي بالاکه په واسطه دجرف جرملفوظ سره مضاف وي لکه [غلام لزيد] اوکه په واسطه دحرف جرمقدرسره مضاف وي لکه [غلام زيد] خالي تقديردحرف جرخاص په اسم پوري بولي اوظهوردحرف جرعام بولي هم په اسم کې ظهوردحرف جرراځي لکه [غلا م لزيد] هم په فعل کې راځي لکه مررت بزيداوجمهوروايې چي مضاف خالي هغه ده چي په تقديردحرف جرسره مضاف وي اوچي په ظهوردحرف جرسره مضاف وي هغه که اسم وي ،که فعل وي مثلا [غلام لزيد ، يامررت بزيد] دامضاف نه بولي پردې چي يالزيددی يابزيددي اطلاق دجاراو مجرورکوي.

اوس نوجمهوروايې: چي مضاف عمل کوي په مضاف اليه کې دجراوسيبويه وايې چي مضاف بيخي عامل نه دی بلکي عامل په مضاف اليه کې حرف جرمقدردی مثلا [لام يافاء يامن] فاحفظ هذا.

اوس نواضافيت پردوه قسمه دی لفظي اومعنوی لفظي دامعنی چي مضاف اسم صفتي وي يعنی اسم فاعل اسم ،اسم مفعول ، صفت مشبه ،اسم تفضيل خلاصه داچي مرادله اسم صفت څخه دغه (۴) دي اودايوشرط داضافت لفظي دی دوهم داچي داصفت به مضاف وي وخپل معمول ته له معمول څخه مرأددادی چي دامعمول به يافاعل وي لکه [حسن الوجه] يابه مفعول وي لکه [ضارب زيد] داضافت لفظي فايده تخفيف په لفظ کې دی يعنی په دې اضافت سره تخفيف په لفظ کې راځي تخفيف په سقوط دتنوين سره وي ياپه سقوط دقائم مقام دتنوين سره وي چي نون دتثنيې يادجمعې دی بياتخفيف عام دی که په مضاف کې وي لکه [ضارب زيد] دلته تنوين له مضاف څخه حذف سوی دی [ضاربازيد] دلته نون دتثنيې حذف سوی دی [ضاربوزيد] دلته نون دجمعې حذف سوی

دی خلاصه داچي اضافت منسوب لفظ لره دی نو، ځکه يې لفظي بولي په معنی کې کارنه لري او که په مضاف اليه کې تخفيف سوی وي هغه دامعنی چي ضمیرله مضاف اليه څخه حذف سوی وي په صفت کې مستتر سوی وي لکه [قائم الغلا م] اصل يې [القائم غلا مه] ووا و یا په دواړوکې تخفيف راغلی وي لکه [زيد القائم الغلا م] اصل يې [الغلا مه] وواوس نو تخفيف په مضاف کې چي قائم دی په حذف دتنوين سره راغی او په مضاف اليه کې په حذف دضمير له مضاف اليه څخه او په استتار ده سره په صفت کې.

اومعنوي بيامنسوب معنی ته يعني دااضافت په مضاف کې يومعنی فائده کوي اوتعريف يې دادی چي مضاف بيخي صفت نه وي لکه [غلام زيد] ياصفت وي ليکن مضاف نه وي خپل معمول ته لکه [کريم البلد ، يامصارع المصر] ،ځکه بلدخونه فاعل دکريم دی ،نه مفعول دکريم دی ،ځکه بلدکه فاعل سي نومعنی به يې داسي سي چي بلد سخاکوونکی دی اوداخومحاله ده او که مفعول سي معنی به يې داسي چي پربلدکرم اوسخاکړل سوې دي دابيانه دی صحيح.

خيرخومعنوي دامعنی چي يوه معنی فايده کړي په مضاف کې اوس نوکه معرفي ته مضاف وونوتعريف په مضاف کې راولي لکه [غلام زيد] غلام مخکې نکره ووچي زيد ته مضاف سونومعرفه سواوچي نکرې ته مضاف سي نواضافت تخصيص راولي په مضاف کې لکه [غلام رجل] غلام مخکې عام وو ،ځکه درجل غلام ته هم ويل کېدی دښځې دې ته هم اوچي رجل ته مضاف سونوخاص سوفقط دنارينه غلام مراددی.

اضافت معنوی پردرې قسمه دی ،ځکه که مضاف اليه يوامرکلی ووچي پرمضاف هم صادق وواوپرغيرهم صادق وولکه [خاتم فضة] نودا په معنی د[من] سره دی اوس نوچي خاتم له فضه ووجوړه وي نومضاف اليه چي فضه دي صادق سوپرمضاف چي خاتم دی اوکه خاتم له حديديعنی له اوسپيني جوړه وه نومضاف اليه پرغيرصادق سوچي حديددی نوچي مضاف اليه امرکلی وي نواضافة په معنی د[من] دی اوکه مضاف اليه ظرف لپاره دمضاف وونواضافت په معنی د[فی [دی لکه [صلاة الليل] اوکه مضاف اليه نه امرکلي وو ،نه ظرف وونواضافت په معنی د[لام] دی لکه [غلام زيد] خلاصه داچي اول ته بياني وايې دوهم ته ظرفي وايې ،دريم ته لامي وايې.

داضافت يوځوقاعدې دي

اوله : داچي مضاف دوهم وارنه مضافيږي ،ځکه بيافصل راځي په مابين دمضاف اومضاف اليه کې يعنی ازروئی لفظ دوهم ځل نه مضافيږي اوس نوسوال په حبّ زمانک نه واردیږي ،ځکه حب که څه هم يووارزمان ته مضاف ده بياکاف دخطاب ته مضاف ده داپه اعتباردمعنی دی په لفظ کې فقط حب زمان ته مضاف دی نه کاف دخطاب ته.

دوهمه قاعده : داچي اسم خپل مماثل ته نه مضافيږي اوس نو

سوال : کیږي چي مرادله مماثل څخه داده چي دادوه اسمونه په ماهيت کې سره شريک وي نوبايدچي اضافت دغلام نسي صحيح وزيدته ،ځکه زيداوغلام په ماهيت کې سره شريک دي ماهيت يې حيوان ناطق دی خلاصه داچي زيداوغلام مماثلين دي اضافت دمما ثلينوخوغيرجائزدی.

جواب : داچي مرادله مما ثلت څخه مساوات دی په عموم اوخصوص کې يعنی دادوه اسمونه چي يومضاف وبل ته دابه مساوي وي په عموم اوخصوص کې مثلا چي پرکوم شی اطلاق د[اسد] کيږي پرهغه به اطلا ق د[غنضفر] هم کيږي دارازيې عکس راواخله دامعنی دعموم ده يعنی په عموم کې سره مساوي اوپرکوم شی چي اطلاق د[اسد] نه کيږي پرهغه شی به اطلاق د[غنضفر] هم نه کيږي دامعنی دخصوص ده په دې کې بيادواړه مساوي سوپه خصوص کې نوچی دارازمما ثلت وي نواضافت نه دی صحيح خلاصه داچي مماثلة دميزانينونه دی مرادچي اشترا ک دماهيت دی اوس نوسوال نه کيږي ،ځکه غلام اوزيدخومساوي نه دي متباينين دي مثلا غلا م مملوک دی زيدحراو مالک دی نوچي مساوی نه سونو اضافت دغلام وزيدته صحيح سو.

سوال : محشی سوال کړی دی: چي مساوي به مضاف وي بل مساوي ته لکه [کل الدراهم ،يا عين الشی] ،ځکه کل دراهم خوعين دراهم دي اوعين دشی خوذات دهغه دی داراز [سعيداوکرز] مساوی دي ،ځکه دادواړه ديوه شخص نومونه دي کله يې سعيدبولي اوکله يې کرزبولي.

جواب : داچي دامساوي نه دي کل عام دی تردراهم ،ځکه کل خونورشيان هم لري لکه دراهم چي يې لري نودااضافت دعام سوخاص لره لکه [علم فقه] دارازعين ورعام ده موجود اومعدوم ته شی خاص دی چي خالي موجوددی خلا صه داچي کل اوعين عام

وو په اضافت سره خاص سونو اضافت دعام وسو وخاص ته اوله (٣) ترکيب څخه جواب چي مراد له سعيد څخه مدلول ده اوله کرز څخه لفظ او دال ده په قرينه سره لکه [جاء نی سعيد کرز] ،ځکه دامدلول خومجيئت نسي کولای نوداهم اضافت دعام دی خاص ته ،ځکه مدلول من حَيث هو ،هو عام دي او کرز خاص لفظ دی.

دريمه قاعده : داده چي مضاف که صفت وي لکه اسم فاعل ،اسم مفعول ، صفت مشبه ، اسم تفضيل او که غيرله صفت څخه وي يعنی په مطلق اضافت کې داشرط دی چي مضاف به مجرد يعنی خالي وي له تنوين اوقائم مقام ددتنوين څخه ،ځکه تنوين اوقائم مقام دتنوين دلا لت پراتمام دکلمې اوپرانفصال ددغې کلمې کوي له بلې يعنی داکلمه چي تنوين پکې موجوددی داجلا ده له بلې کلمې څخه اوچي تنوين په دغه کلمه کي نه وي نودادلات پردې کوي چي داکلمه نه پوره ده او له بلې کلمې سره متصله ده خلاصه داچي که اضافت سره له تنوينه وي یاسره له قائمقام دتنوينه وي نوجمع دمتنافيينوراځي ،ځکه مدلول داضافت اومدلول دتنوين سره ضددي نولکه جمع دمتنافيينوچي غيرجائزده نوجمع کول دهغه چي دال پرمتنافيينووي هم غيرجائزده چي هغه دال نوتنوين اواضافت دي غرض داچي مضاف که سره له تنوينه اوقائم مقام دتنوين وي نويوه کلمه به هم تامه وي هم به غيرتامه وي اوهم به متصله له بلې سره وي اوهم به نه وي داخومحاله ده نو ،ځکه داشرط سوچي مضاف به مجرد(خالي) وي له تنوينه اوقائم مقام دده فاحفظ هذه الجزئية وغتنم عبدالرحمن الراجی الی رحمة الغنی.

څلورمه قاعده : داچي اضافت دادی چي مضاف به مجرداوخالي له تعريفه وي ليکن داپه نظرکي ساتئ چي داشرط دتجريدله تعريف څخه يوا زي داضافت معنوی دی نه دلفظي اوس نوپه [الضاربا زيد ،یاالحسن الوجه] سره سوال نه کيږي ،ځکه دااضافت لفظي دی اوس نوپه اضافت معنوي کې تجريدله تعريف څخه ،ځکه شرط سوچي مورمخته قاعده دمعنوي یاتخصيص بلله یاتعريف اوس نوکه معرفه مضاف سي نکره ته نوطلب دادنی به وسي چي تخصيص دی سره له حصول داعلی چي تعريف دی داخوغيرمناسب دی اوکه معرفه مضاف سي ومعرفه ته نوتحصيل دحاصل ،ځکه اضافت ومعرفه ته خوتعريف راولي هغه مخته حاصل وونوتحصيل دحاصل خوغيرجايزدی.

خلاصه دا چي: په اضافت معنوي کې که اضافت مجرد له تعریف څخه نسي پرده هغه خپل اثراوفائده معتبره نه مرتبيږي چي هغه تخصیص اوتعریف معتبرووېعني په ده کې هغهتخصیص معتبردی چي طلب دادنی سره له حصول داعلی نه سي لازم اوپه دي کې هغه تعریف معتبردی چي تحصیل دحاصل نه سي لازم اوس نوکه مضاف معرفه وي نولازمي دادوه نقصانه راځي نو ،ځکه موږداشرط ولګاووچي مضاف به معرفه نه وي.

دشمې دنکتوحل

(**نکته**) **ترالمصطفي** لفظ لاندې نکته ده ددې نکتې غرض دادی چي مصطفی به یا اسم فاعل وي اوداغیرصحیح دی ،ځکه معنی بې داسي کیږې چي محمد ﷺ مختارکوونکی غیرته دی اوداسي خونه ده اویا به ظرف وي داهم نه ده صحیح ،ځکه بیا بې معنی داسي کیږي چي محمد ﷺ ځای دمختاره کېدودی اوداسي خونه ده اویا به مصدرمیمي وي داهم نه صحیح کیږي ،ځکه چي بیا حمل نه صحیح کیږي سره له دې چي مصطفی خوصفت دی اوصفت خوحمل وي پرموصوف باندې چي (علی نبیه) دی نوناکت رحمة الله علیه جواب ورکړی چي (برګزیده) یعنی مصطفی اسم مفعول دی نویوسوال هم نه کیږي تدبر.

پرالمصطفي لفظ لوړه نکته ده چي (لقب محمد ﷺ) په دې نکته کې دناکت غرض دادی چي مصطفی خواسم دی چي په حقیقت کې پرپنځه قسمه دی(۱) محضه . (۲) لقب ، (۳) کنیه . دغه درې مشهوردي (۴) خلورم خطاب دی هغه داچي باچا پرېوچا اینبی وي اوپنځم (۵) تخلص دی چي شاعرېې دځان لپاره وضع کړي لکه (سعیدی) یا نورنوله مصطفی څخه دلته کوم یومراددی نوناکت جواب ورکړی چي مراد(لقب) دی.

تر(الصلوة) لفظ لاندې نکته ده چي (الصلوة دعاء) دناکت غرض له دې نکتې څخه اشاره ده چي صلاة مشترک لفظ دی.

اوتر(خیرالوری) لفظ لاندې نکته ده په دې کې دنا کت غرض اشره ده دسوال وجواب ته سوال به داکیدی چي (وری) خوپه لغت یوناني کې ګلاب ته وايي اودامعنی له مقام سره مناسبه نه ده نونا کت جواب ورکړ چي (وری) په معنی دخلق ده.

اوتر(اصحابه) لفظ لاندې نکته (که همنشینان اوبودند) ده په هغه نکته کې دناکت غرض اشاره ده ومختاره مذهب ته ،ځکه چي په صحابي کې دوه مذهبونه دي یوداچي صحابي

هغه ته وايې چې رسول الله ﷺ يې ليدلى وي كه څه هم يوساعت اوناسته اومجالست پكي شرط نه دى اودوهم مذهب دادى چې (كه همنشينان اوبودند) يعني صحابه رضى الله عنهم هغه دي چې له رسول الله ﷺ سره يې ناسته كړې وي.

اوتر (المتأدبين) لفظ مخكې نكته ده په دې نكته كې دناكت غرض اشاره ده دسوال مقدروجواب ته سوال داچي (متأدبين) مشتق ده له تأدب څخه تأدب وايي دادب قبلولوته نوچي ادب حاصل سونوتقوى هم حاصله سوه نودشارح د(باتقوى) لفظ مستدرك سوناكت جواب وركړچي (موصوفين بالتقوى) يعني متأدبين په معنى دموصوفين دى تدبر.

اوتر(باتقوى) لاندې نكته ده (هواجتناب عن الشرك والمعاصى)ددې نكتې غرض دسوال جواب دى هغه داچي تقوى په درې قسمه ده (١) دعواموتقوى چي فقط له كفره يې ايمان ځان ساتلى وي (٢) دخواصوتقوى ده چي دالله تعالى داوامروفرمان برداري كوي اوله نواهي څخه ځان ساتي (٣) داخص الخواص تقوى ده هغه داچي له هرهغه شى څخه ځان ساتي چي دى له ذكرالله تعالى مشغوله كوي نودلته كومه تقوى مراده ده نوناكت جواب وركړچي له تقوى څخه اول دوه قسمه مراددي

بعدتحميدخداوند

تر(بعدتحميد) لوړنكته ده (خداى تمام عالم) په دې كې اشاره ده ودېته چي دخداونداطلاق خوپه وخت داضافت كې پرغيرله الله جل جلا له هم كيږي لكه خداوندخانه نودلته له خداوندڅخه مرادالله جل جلا له دى كه دغيردى نوناكت جواب وركړى چي (خداى تمام عالم) يعنى مرادالله جل جلاله دى دى.

ترمخالفًا للتنزيل ! لفظ لاندې نكته ده (اى القرآن المنزل) دادسوال جواب دى هغه داچي تنزيل خومصدردى دايوامرانتزاعى (اعتباري) غيرموجود دى نوله دې سره موافقت اوعدم موافقت خوممكن نه دى نوشارح څرنګه وايې چي ماموافقت كړى دى له تنزيل سره نوناكت جواب وركړچي (اى القرآن المنزل) نوداخوله امرخارجيه ووڅخه دى نواوس موافقت اومخالفت له ده سره ممكن سوخلاصه داچي تنزيل په معنى دمنزل سومنزل صفت دى موصوف غواړي نويې القرآن هم ورسره راوايستى خوبيا داسوال كيږي چي

قران خو مجموعه دکتاب ته هم ویل کیږي او هرجزء ته هم نوناکت مرادمعلوم کړچي مرادمجموعه دقرآن دی نوبې وویل (فانه مستفتح اولاً بالتسمية الخ.

فائده: دتنزیل او انزال فرق دادی: چي دانزال معنی ده دفعة نازل سوی او دتنزيل معنی ده تدریجًا نازل سوی اودادواړه په قرآن کې صحيح دي ،ځکه قرآنکریم هم له لوح محفوظ څخه وسماء دنیا ته دفعة نازل سوی دی اوله هغه ځایه څخه تدریجًا په (۲۳) کاله کې پرمحمد ﷺ باندې رانازل سوی دی.

ترفان قيل ! لفظ لاندې نکته ده چي (في الاعتراض) نوظاهرًا نه صحيح کیږي ،ځکه معنی يې داسي کیږي چي که چا سوال وکړ په اعتراض کې نو ددې جواب دادی: چي (في) په في الاعتراض کې په معنی دعلی ده دعبارت تقدير داسي کیږي چي (فان قيل على الاعتراض) اوبعضي وایې چي دلته حذف دمضاف دی او(في) په معنی دعلی ده نو تقدیر دعبارت داسي کیږي چي (فان قيل) على جواب الاعتراض او بعضي وايې چي قیل له لپاره دجواب ده اوقيل عليه لپاره داعتراض ده او چي له قیل سره نه (له) وي او نه (عليه) وي نوقيل مشترک ده په منځ دجواب او اعتراض کې نوناکت (في) په معنی د(على) کړه چي دلته قيل لپاره داعتراض ده اوداجواب يې هم کېدای سي چي (قيل) په معنی دقول (وينا) ده چي که چا قول وکړ په اعتراض کې يعني که چا وویل په اعتراض کې تدبر.

تر(عهدة المخالفة) لفظ لاندې نکته ده چي (عهده بالضم سستي) په دې کې دناکت غرض بيان دمعنی لغوي دی يعنی نه اداکول دامر.

تر(والا خبارعن الشئ) مخته نکته ده چي (جواب ثاني بطريق التسليم) په دې نکته کې دناکت غرض جواب دسوال مقدر دی هغه داچي شارح خو سوال په دې قول سره دفع کړچي (قلنا الا خبارعن الحمدالخ) نوداقول دشارح چي (والاخبارعن الشئ الخ) دڅه لپاره دی نوناکت جواب ورکړ چي (ثانٍ بطريق التسليم) خلاصه داچي داجواب پرطريقه دتسليم دی اواول جواب پرطريقه دمنعې وو.

تر(وافاضة الخير) لفظ لاندې نکته ده چي (افاضه بمعنی خيررسانيدن) په دې نکته کې دناکت غرض دفع دتوهم ده هغه داچي افاضه خوله لوړې څخه داوبو توييدلو ته وايي

نونوبيا الله جل جلاله ته مكان ثابت سو او الله جل جلاله خوله مكا ن پا ک دی نونا کت جواب ورکړچي مراد له افاضه څخه وصول درحمت دی.

تر(في ازاء فاء الافتعال) لوړه نکته ده (ای فی مقابلته آه) په دې نکته کې دناکت غرض دفع دتوهم ده هغه داچي (ازاء) خوپه معنی دمساوات ده دامعنی پرمقصود دلالت نه کوي نوناکت جواب ورکړچي (ازاء) مشترک دی په منځ دمساوات اومقابله کې دلته په معنی دمقابلې دی.

تر(الذمائم) لفظ لوړه نکته ده چي (جمع ذميم) په دې نکته کې دناکت غرض دفع دتوهم ده هغه داچي (الذمائم) جمع د(ذمام) ده په کسره دذال نوذمام خو(زولنې) ته وايې دامعنی غیرصحیح ده نوناکت جواب ورکړچي (الذمائم) جمع دذمیم ده د(ذمام) نه ده بیا داتوهم کېدی چي (ذمیم) خوقطع الانف (دپوزي پرېکېدو) ته وايې نوناکت جواب ورکړچي (ذمیم) دامعنی چي (بد)

تر(والملک برؤیة) لوړه نکته ده چي (بفتحتین بمعنی فرشته) په دې نکته کې دناکت غرض دفع دتوهم ده هغه داچي (ملک) په کسره دلام خونوم دالله جل جلاله دی لکه په دې آیت کې چي دي (فَتَعَالَى اللهُ المَلِكُ الحَقُّ) نودعبارت معنی نه صحیح کیږي نوناکت جواب ورکړ چي (بفتحتین) یعني (ملک) په کسره نه دی په فتحتینودی بیا توهم کېدی چي ملک به باچاته وايي نوناکت جواب ورکړچي (بمعنی فرشته).

تر(برؤیة) لوړه نکته ده چي (بضم الراء وسکون الهمزة) یعني برؤیة په فتحه دراء اوکسره دواو او په تشدید دیاء سره دی نومعنی یې فکرده دامعنی خونه ده صحیح نوناکت جواب ورکړی چي (بضم الراء وسکون الهمزة).

تر(لکان) لفظ لاندې نکته ده (ای التعریف المذکورعلی تقدیرالاکتفاء) داجواب له سوال مقدرڅخه دی هغه داچي په (کان) کې ضمیرمستتردی چي (هو) دی اواسم دکان دی نوضمیرخومرجع غواړي هغه کومه ده نوناکت جواب ورکړچي (ای التعریف المذکورالخ) یعني مرجع دضمیرېې معلومه کړه.

تر(اسلم) لفظ لاندې نکته ده چي (من ورودالاعتراض المذکور) داجواب ددوو سوالونودی هغه داچي (اسلم) خواسم تفضیل دی اوهغه مستعمل په یوله درو(٣) شیانووي یا په اضافت سره لکه (افضل القوم یا اسلم الاقوال) اویا په الف لام سره

مستعمل وي لكه (الافضل يا الاسلم) اويا په (من) سره مستعمل وي لكه (زيد افضل من عمريا هذاالمتاع اسلم من العيب) نودلته خوپه يوه لاندې مستعمل سوى او بل داچي له څه شي څخه اسلم دى نوناكت ددواړوسوالونوجواب وركړچي مستعمل په من سره دى او اسلم له اعتراض څخه دى نوبې وويل چي (من ورودالاعتراض المذكور) تدبرتدرك.

تر(النسفية) لفظ لاندې نكته ده (اى تصنيف امام نسفى است) په دې نكته كې دناكت غرض دادى چي دشارح مدعى به نه ده صحيح، ځكه دى اثبات دمدعى خپلې په شرح العقائدكوي هغه ګوره دچاتصنيف وي قابل داعتباروي ،كه نه نوناكت جواب وركړى چي شرح العقائدتصنيف امام است يعنى داتصنيف دعلامه مسعودبن عمرسعدالدين التفتازانى دى نومدعى ثابته سوه.


تر(لسائرالانبياء) لفظ لاندې نكته ده (اى لباقى الانبياء) داجواب دسوال دى هغه داچي سائرخوپه معنى دجميع دى نو(خلق عظيم) له رسول الله ﷺ څخه نيستي اومعدوم سونومدعى دافضليت درسول الله ﷺ نه سوثابت ناكت جواب وركړچي سائرچي په همزه سره وي نوپه معنى دباقي دى اوچي په ياء سره وي نوپه معنى دجميع دى دلته خوپه همزه سره دى نوسوال نه كيږي اومدعى ثابته سوه اوداسي جواب هم ممكن دى چي دسائردمضاف اليه دمفهوم چي بعض افرادذكروي نوسائرپه معنى دباقي دى لكه دلته اوچي دسائردمضاف اليه دمفهوم يوفردلاهم مخته نه وي ذكرنوسائرپه معنى دجميع دى.

اوپه صفحه نمبر(۹) كې تر(هذا اذاكان بالزاء) لفظ لوړه نكته ده چي (كون هذاالمعنى لمصدرالغازى) په دې نكته كې غرض تعين دمشاراليه دى يعنى د(هذا) مشاراليه ناكت معلومه كړې ده اوتردغه (هذا) لاندې نكته ده چي (ثابتٌ) ددې غرض دادى چي ظرف چي (اذاكان الخ) دى داخبردمبتداء دى چي (هذا) ده په اعتباردمتعلق چي (ثابت) دى خلاصه داچي (اذاكان) خبردمبتداء دى په اعتباردمتعلق چي (ثابتٌ) دى.

تر(حقيقى) لفظ لوړه نكته ده چي (اى غازى حقيقى) په دې كې غرض دادى چي په هراسم پورې (ياء) نسبتي ملحقه سي نوهغه اسم په حكم دمشتقي ګرزي نواسم مشتقى خوموصوف غواړي نوناكت موصوف ورسره مقدركړچي (غازى) دى نوبې وويل چي اى غازى حقيقى.

اوتر(حارب النفس) لوړه نکته چي (اى من المحاربة الخ) په دې نکته کې يې مشتق منه دحارب معلومه کړې او دحارب مغنى يې معلومه کړې ده (الراجى .)
تر(كلمتين) لفظ لوړه نکته ده چي (احدهما كلمة معزوثانيهما كلمة دين) داجواب دسوال دی هغه داچې معزالدين به له درو (٣)کلمات مرکب وي چي (١) معزدی .(٢) ال دی اودريم (٣) دين دی نوناکت جواب ورکړچي مرادله کلمة څخه مستقله کلمه ده نو(ال) خو غير مستقل دی ،ځکه حرف دی نوبيرته (معزالدين) مرکب له کلمتين څخه سو.
تر(فى المحسوس) لفظ لاندې نکته ده چي (والغرض منها ان المرادمن المحسوس هو ادراک الشئ باحدالخواص الخمسة الظاهرة)
په لسم نمبرصفحه کې (ترالعاشرة) لوړه نکته ده چي (قول الشارح والا فلا ظل لذات الله) والغرض منها ان (فاء) فلاظل للجزاء وهى تستدعى حرف الشرط وفعله وههنا لم يجدواحدمنهما فاول الناکت لفظ الا ليجدکل واحدمنهما تدبر.
په صفحه (١١) کې تر(العقل عنه) لفظ لاندې نکته ده چي (بحذف المضاف) داجواب دسوال دی هغه داچي جواب عقلي خوهغه وي چي عقل يې تقاضاکوي نوداقول دشارح (هوالذى يحترزالعقل عنه) نه صحيح کيږي نوناکت جواب ورکړچي (بحذف المضاف) يعنى چي عن مخالفه له مخالف يې عقل ځان ساتى بيا سوال کېدی چي دشارح مثال چي (كالبول الى اعلى المكان) لپاره دواجب عقلي نه دی صحيح نوناکت جواب ورکړچي (البول الى اسفل المكان هوواجب عقلى ولاحاجة الى تفصيل نكت الباقية لوضاحتها !
کاتب حروف عبدالرحمن الراجى)

تمت هذا التقرير في شهرالرمضان المبارک





مكتبة الهاشمية

كانسي روڈ۔ کوئٹہ 0310-4594038